# زرو

## ناول

نصير احمد احمدي

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکوال: نصیراحمد احمدي

(۱)

له عمره ځوان سړي پر خپلو لندو وروځو خپل خړ شکېدلی لستوڼی تېر کړ؛ هسکې ونې ته يې وکتل؛ پښه يې وښوېده؛ کوږ شو؛ په غېږ کې نيولي وچ لرگي ترې ولوېدل؛ باد تېز و؛ د ږلۍ وړې دانې يې پر لمر سوځولي مخ، توره نرۍ غاړه او چاودو لاسونو تېرې لگېدې.

سړي د ونې پنډې تنې ته خپل خوار ولي ولگول، ټوخي واخيست؛ خولې ته يې لاس ونيو؛ په لاړو کې يې د وينو سره ځاځکي ښکارېدل.

ږلۍ غټه شوه؛ د ونې پاڼې گډې ورسره راتلې؛ غولی ماتو شنو پاڼو او سپينو دا نو ونيو.

د سړي ژامې وکړپېدې، خپل خوار زنگنونه يې د ټټر له راوتليو پوښتيو سره ولگول، مخامخ يې وکتل. تېز باد د ونو گڼې ببرې ځانگې پړسولې وې...کله کله به تورې ورېځې وغړمبېدې، د سړي په سترگو کې به د برېښنا سپينه ليکه تېره شوه.

له پورته د لويو تېږو تر مينځ نرۍ اوبه راماتې شوې، اوبو لوېدلې پاڼې او وچ خلي ټولول... سړي په بېړه ور مېږ کوږ کړ، د ده له غېږې لوېدلي لرگي بچ ول، اوبه په ځنگ ترې تېرېدلې.

سړي غولي ته وکتل، خلی يې ور واخيست، د مېږيانو له غاره راوتلې گردې گردې وړې خاورې يې هسکې ودرولې.

وخت ووت؛ ږلۍ ودرېده؛ ورېځې د غره پر شنو ونو راټيټې شوې.

سړی حرکت وکړ؛ د لويو ډبرو څنډو ته لا د ږلۍ دانې پرتې وې؛ سپينو دانو له ځمکې خړ رنگ اخيستی و.

سړي وچ لرگي په غېږ کې ونيول، په لويو، وړو لندو ډبرو کې مخ پورته لاړ، لاندې، په دره کې د سيند غړمبهاری خوت.

دی گڼو ونو ته ننوت، له شنو پاڼو راڼه ځاځکي راتويېدل... يو ځای ودرېد، سترگې يې څو ځله ټينگې کړې؛ ټيټ شو؛ گڼ وانښه يې سره واړول؛ يوه طوطي منډه واخيسته، مات، شين وزر يې له ځانه بېل نيولی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړی ورغی، طوطي يې تر روغ وزر ونيو، طوطي چغهارې کړې.
سړي شاوخوا وکتل، تر يوې هسکې ونې لاندې، په لندو وښو کې ماته ځاله پرته وه.
سړی له ګڼو ونو ووت، د غره په لمن کې خلاص ځای و، د چارمغزو تر هسکې ببرې ونې لاندې له تېږو او لرګيو د جوړې جونګړې دروازه باد ښوروله....

(۲)

سړي سترګې وموښلې، د اېږ لوی پوستکی يې له خپل ټټره وښوياوه، شاوخوا يې وکتل، په بېړه له جونګړې ووت، طوطي يې له لندو وښو ور واخيست، ودرېد، يودم يې ووېل:

_ها! نه!

طوطي يې له لاسه ولوېد، منډه يې واخيسته، د يوه قبر تر څنګ ودرېد، درب شو، زنګنونه يې په خټو کې ننوتل، په بېړه يې د قبر پر سر ږلۍ وهلي ګلان نيغ ودرول، د لرګي ړنګه شناخته يې سمه کړه، سړه سا يې وايسته:

_اه! زما ښکلې زرو! ما وبښه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

ليکوال: نصيراحمد احمدي

له قبره رغړېدلې وړې سپينې تېږې يې ببرته پر خپلو ځايونو کېښودې. جونګړې ته ننوت، غلی کېناست.

د طوطي چيغې شوې، سړي په بېړه ښکاري ټوپک ور واخيست، د باندې ووت، له نارې سره د ګېدړې ببره لکۍ په ګڼو ونو کې ننوته. سړی ورغی، طوطي يې ور پورته کړ، بېرته جونګړې ته راغی.

طوطي يې د اېږ پر پوستکې پرېښود، غلی کېناست، له ليرې د سيند د اوبو شنهاری راته.

سړي له زړې کاسې درې چهارمغز ور واخيستل، ډبره يې ورته ونيوله، سپين چارمغز يې خولې ته واچول، د باندې ووت، سهارني لمر د غره په لمن کې د ونو له پرېولو پاڼو ژېړه رڼا پورته کوله.

سړی قبر ته کېناست، د ګلانو څو مات بوټي يې ترې لېرې کړل، کرپ شو، طوطي د جونګړې له خلاصې دروازې را ووت. سړی ورغی، د طوطي مات وزر ته يې لاس ور ووړ، طوطي کربژې کړې.

سړي وويل:

_راځه!!!

طوطي يې پر خپله اوږه کېناوه، په ګڼو ونو کې ننوت. مخکې لاړ، لوېدلې ځاله يې ور واخيسته، ونې ته وخوت، بېرته کښته شو، پر يوه تيږه کېناست، پورته يې وکتل، د طوطي شين، مات وزر د ګردې ځالې له تورو خلو راوتلی و.

سړی ولاړ شو، په ګڼو نيالګيو کې ننوت، خو بېرته لنډ راوګرځېد، ونې ته ور وخوت، ورو يې وويل:

_د نورستان دا ګڼ ځنګل، مات وزر او زما غوندې يوازېتوب، مړ دې بولم.

شېبه وروسته د قبر تر څنګ غلي ناست و. طوطي يې له اوږې ټوپ کړل، په لوېشت وښو کې روان شو، مات وزر پسې ځړېده....

سړي د قبر پر شناخته لاس کېښود، د تندي ګونځې يې ژورې شوې، ورو يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

ـ زرو! ما خپله خواري وکړه، نه يې مني.

بېرته يې سر وځړېد. د پښو ترپکې يې واورېدې، مخ يې واړاوه، په ډېرو کې هوسۍ گرځېده....

سړي خلاصې دروازې ته وکتل، ټوپک د جونگړې دېوال ته ولاړ و. بېرته يې سر وځړېد، قبر ته يې وکتل، موسک شو:

ـزرو! سخت شرط دې راته اېښی!

هوسۍ ته يې وکتل، د غره په لمنه کې بې غمه روانه وه. له پرېولې پوستکي يې سره بخونه رڼا پورته کېدله.

یودم يې ورمېږ کوږ کړ، طوطي نه و. سړي منډه واخيسته، د ونې په يوه وهل شوي مونډه پورې را شنې ځانگې يې سره واړولې، پرېووت، سترگو ته يې د شنو وښو تېرې ځوکې ودرېدلې، د دوو لويو تېږو تر مينځ د طوطي شنه لکۍ ښکارېدله.

لاس يې ور وغځاوه، طوطي کرېږې کړې، د سړي لاس ته يې د خپلو پښو تېره نوکان ونيول، سړي ډک لاس را وايست، طوطي روغ وزر رپاوه.

سړي وويل:

ـاه! زرو، په څه نالت ( لعنت ) شي دې مينه راغلې وه.

جونگړې ته لاړ، طوطي يې کونج ته پرېښود، غلی کېناست.

لاس ته يې وکتل، پر خړ پوستکي يې د طوطي تېرو نوکانو سرې ليکې جوړې کړې وې.

ولاړ شو، د جونگړې يواځينۍ درېڅې ته ودرېد، لمر ته د وريځو سپينه لويه ټوټه ور روانه وه. په نور اسمان پسې يې وکتل، د غره تر ځوکې پورې شين و.

کړپ شو، په بېړه يې مخ واړاوه، سترگې يې رډې راوختې، چيغه يې کړه!

ـپام!

په وچو وينو سور، سپين ټکری يې له غولي را پورته کړ، گوتې يې پرې وتپولې، څنډه يې لنده وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

سړي ړنګې خټینې کاسې ته لاس کړ، کاسه د طوطي تر سر تېره شوه، پر دېوال ولګېده، طوطي کرېژه کړه، د کاسې ماتې ټوټې راولوېدې.

سړی دېوال ته کېناست، ټوخي واخیست، یودم یې ټکری پر ټټر پورې ټینګ ونیو، له سترګو یې رانړه څاڅکي را مات شول، پر سپېرو ډنګرو اننګو ورغړېدل، د ږېرې په ګڼو تورو وېښتو کې ورک شول.

ورو یې وویل:

_اه، زرو! وبښه، ستا ټکری مې سم نه و راځړولی.

د باندې ووت، ټکری یې پر وښو هوار کړ، د ټکري تر څنګ اوږد وغځېد. پورته یې وکتل، په هسکه طیاره پسې دوې سپینې لیکې روانې وې.

د سړي سترګې سره ورغلې، یو وخت یې بانړه خلاص کړل، طوطي یې پر ټټر ناست و. سړی وښورېد، طوطي وښو ته ټوپ کړل.

سړي وویل:

_په ځینو خبرو باید پوه شې.

ټکری یې ور واخیست، جونګړې ته ننوت. طوطي یې په درېڅه کې کېناوه، ویې ویل:

_ها کونج ته ایښې ګیلاس، دېګ، بدنۍ، اره، توره چایجوشه ... بلا نه وهي، له اوسپنې جوړ دي، د ایږ پوستکی او بالښت هم نه خرابېږي، فرش هم نه شته چې چټل شي، خاورې دې، مازې جارو غواړي، خو...

غلی شو، په وچو وینو لړلی ټیکری یې د ښځینه زړو جامو تر څنګ را وځړاوه، طوطي ته یې وکتل، ویې ویل:

_خو له دې دوو جوړو جامو او ټکري لیرې ګرځه! نه به منبوکه ور وړې او نه هم تېره نوکان.

غلی شو، ویې ویل:

_هو رښتیا! ټوپک هم هېر نه کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

سړي ټوپک ته لاس ور وغځاوه، له کاشه یې یو یو کارتوس را وایست، لمن یې پرې تېره کړه، طوطي ته یې وکتل، ویې ویل:

_لس کارتوسه ول، خو څلور ترې وېشتل شوې دي، یوه ګولۍ د یوې هوسۍ سر ته سیخه شوه، د خولې خلاصېدو ته نه شوه پاتې، پوهېږې، دې ته جنګي کارتوس وايې، د مردکۍ غوندې یوه غټه چره لري، دوې نورې یوه اېږ وخوړې، پوستکی یې وینې، لوی و، په یوه ګولۍ یې چاره نه کېده، څلورمه د یوه انسان تر زړه وخته.

سړي بېرته کارتوس په کاش کې واچول، طوطي ته یې وکتل، ویې ویل:

_د وزر زخم دې لا تازه دی، راځه، یوه چاره به یې وکو.

ټوپک یې غاړې ته واچاوه، طوطي یې ور واخیست، د باندې ووت، ویې ویل:

_یوه بله! د زرو له قبره به هم لېرې ګرځې، د قبر پر سر ګلان په اواره کې نه موندل کېږي، غره ته پسې ختلی یم، یو یو مې له رېښو سره راکښلي دی، دا دوه کاله لومړۍ څړمنی ( پسرلی ) همداسې کوم، خو دا ګلان ډېر نازک دي، د یخنۍ تاب نه لري، د غره پر سر د لومړۍ واورې سوړ باد یې وچ کړي.

سړي ګام واخیست، طوطي یې له اوږې وښوېد، خو د پښو تېره نوکان یې د سړي د واسکټ شکېدلې جېب ته سیخ شول، روغ وزر یې ورپاوه، بېرته اوږې ته وخوت.

سړی لاندې درې ته کښته شو، د سیند اوبه د غره له پرښو سره لګېدلې، سپین ځګونه یې پر سر روان ول....

سړی د اوبو له ژۍ سره مخ پورته لاړ، لنډ راتاو شو، غره ته وخوت، د ګڼو ونو په مینځ کې ودرېد، شاوخوا یې وکتل، ټیټ شو، یو سپین ګل یې را وشکاوه، سترګو ته یې ونیو، د ګل په سپینو پاڼو کې سرې نرۍ لیکې تېرې وې.

د ګل پر پاڼه یې غاښونه ټینګ کړل، لاړې یې تو کړې، ویې ویل:

_نه پوهېږم، هېر مې دي، ډېر وخت ووت، خو زرو همداسې یو ګل را شکولی و.

له ونو ووت، په بوټو کې مخکې لاړ، اخ یې کړل، کېناست، تېره اغځی یې تر زاړه بوټ وتلی و. بوټ یې وایست، د کیڼې پښې د بټې ګوتې لاندنۍ برخه یې وینې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

په بوټ کې نښتی اغزی په اسانۍ وخوت، بېرته یې ګامونه واخیستل، یوه هسک بوټي ته ودرېد،د ګل وړه پاڼه یې په خپلو ګوتو کې وسولوله، ګوتې یې ژبې ته ور وړې،ویې ویل:

_دا خو هیڅ خوند نه لري.

طوطي یې له اوږې ټوپ کړل، ګڼ بوټي ته ننوت.

سړي وخندل:

_نه نو، اوس سره ملګري یو، کله دې پرېږدم.

لاس یې ور وغځاوه، طوطي یې له نریو څانګو را وایست، په خپل څنګانه یې کېناوه، ورو یې وویل:

_ګوره! له ډېر وخته راهیسي مې انسان نه دی لیدلی، کله کله جونګړې ته نږدې د څهار مغزو ونې ته غږېږم، د زرو کیسې ورته کوم، خو ونه یې نه اورې، نه پوهېږم، یا به ماته همداسې ښکاري، خو اوس ته په ګوتو راغلی یې، نو دومره نخرې مه کوه.

ولاړ شو:

_راځه، هغه ګل باید پیدا کړو.

د ټوپک کنداغ له لویې ډبرې سره ولګېد، له پورته وړې تېږې راورغړېدې.

سړي په بیړه د ټوپک خوله، پورته سیخه کړه، ټیټ شو، یوه وړه ډبره یې راواخیسته، ببر بوټی یې پرې وویشت، سویې ټوپ کړل.

سړي سړه سا واخیسته، طوطي ته یې وکتل، ویې ویل:

_یو ځل مې په سیند کې کبان نیول، له ونو لوی ابږ راووت، مجبوره وم، اوبو ته مې ور ټوپ کړل، بلې غاړې ته ووتم

سړی د باران د رڼو اوبو ډنډ ته ودرېد، کېناست، په اوبو کې یې خپل مخ ته وکتل، خړې شونډې یې موسکۍ شوې:

_اه! زرو! غم دې څومره ژر وخوړم.

په اوبو کې یې پر اوږه ناست طوطي ته وکتل، ویې خندل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

_د زرو له مرګه راوروسته مې خپل مخ ته نه و کتلي، توبه، یو ځل، یواځې یو ځل، څومره وخت؟ امممم، نه پوهېږم، خو د زرو له مرګه یواځې څو میاشتې تېرې وې چې په جونګړه کې غونډل وچیچلم، تندی مې خوړین شو، آینه نه وه، د چینې په ډنډ کې مې خپل مخ وکوت، خو اوس بده بلا رانه جوړه شوېده، ککرۍ ته مې وګوره! لوڅه ده، اه! د مخ ګونځې مې سم سیوري لري، د دېرش کلن سړي نو دومره زوړ مخ وي!
سړي یودم وخندل، په اوبو کې یې ګوتې ننه ایستې، څېره یې ړنګه شوه، ویې ویل:
_ورک یې که. ښکلی یا بدرنګه، پروا یې نه لرم، زرو نشته.
ولاړ شو، طوطي ته یې تر څنګ وکتل، ویې خندل:
_دومره بدبد مه راته ګوره! د زرو تر مرګ مخکې داسې نه وم، هوار مخ او اوږدې څڼې مې درلودې، د زرو پر زنګانه به مې سر کېښود، هغې به مې په ګڼو تورو وېښتو کې نرۍ ګوتې تېرولې، د دنیا خوند پکې پروت و.
سړ ی غلی شو، یودم یې وخندل:
_یوه ورځ یې په ګوتو کې توره سپېره ورغله، خو د زرو تندی ګونځې نه شو، پوهېده، د ځنګله ژوند و، شامپو او د نریو ښاخونو ږمنځ به مو له کومه کوله! تر غرمې یې زما وېښته سره واړول، خوند یې کاوه، خو بله سپېږه یې ونه مونده.
په سبا یې جونګړې ته نږدې سابه پخول، ورغلم، سر مې یې پر ځنګانه کېښود، لنډه یې رایاده کړه چې وېښته دې پاک دي، بله سپېږه نشته. خواست مې ورته وکړ، خو دې خندل او همدا یوه خبره یې ټینګه نیولې وه.
جونګړې ته ننوتم، د اېږ د پوستکي تېره وېښته مې سره واړول، خپلې ناولې جامې مې وکتلې، خو سپېږه نه وه چې پر اوږه یې کېږدم، زرو ته ووایم چې وګوره! دا سپېږه مې اوس له وېښتو را ولوېده. اه! هغه سات مې له خدایه یوه سپېږه غوښته، یواځې یوه سپېږه، که پاچا وای، نو هماغه وخت مې ټوله پاچاهي په یوه سپېږه ورکوله.
سړی غلی شو، طوطي ته یې وکتل، ویې ویل:
_راځه! په ګل پسې راغلي یو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

روان شو، مخکې لاړ، بېرته راوګرځېد، ولاړې هسکې تورې تېږې ته یې په ځیر وکتل، په بېړه یې د تېږې پر سر د مرغانو وچه چټلي پاکه کړه، کېناست، پر تېږه یې لاس تېر کړ، سترګې یې ډکې شوې:

_په ټول غره کې تر دې ښکلې تېږه نشته.

ویې ټوخل،په سوځېدلې سا یې وویل:

_دا ځای و.

تر ډبرې راوګرځېد، ویې ویل:

_د ډبرې شمال خواته درې، څلور ګامه فاصله وه.

ټوپ یې واچاوه:

_یو، دوه، درې.

ودرېد، شاوخوا یې وکتل، بل ګام یې واخییست:

_څلور.

کېناست، په خوند یې وویل:

_ستړیا ارزېده.

شین بوټی یې ور وشکاوه، طوطي ته یې وکتل، پر ډبره ناست و، د ټټر مړې، شنې بڼکې یې باد پړسولې وې.

ورغې:

_ورته وګوره! غوټۍ یې لا نه دې سپړلې، خو زړه ته مې ولوېده چې زرو همدا بوټی راښودلی و.

سړي په خپلو تېرو نوکانو غوټۍ خلاصه کړه، یوه پاڼه یې خولې ته واچوله، په خوند یې وویل:

_نه یم غلط، خوږوالی لري، بس، یواځې پاڼې یې نه دې سپړلي، په دې غره کې به دې ایله د جوزا اخېر ته هډونه تاوده شي.

ټوخي واخیست، له خولې یې لاړې باد شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

له بوټې یې څو وړې غوټۍ ور ټولې کړې، په غروي کې یې وسولولې، ویې ویل:
_یوه ورځ مې لاس په اره ژوبل کړ، زخم یې نه سره ورته، له زرو سره همدې غره ته راوختم، هوا توده وه، ګلان مو په اسانۍ پیدا کړل. زرو د ګلانو پاڼې په خپل غروي کې وسولولې، زما پر لاس یې راکېښودې، ښه مې په یاد دې، زرو همدې ډبرې ته ولې لګولې و.
سړی غلی شو، سولولې غوټۍ یې د طوطي پر مات وزر کېښودې، طوطي کرېږه کړه.
سړي وخندل:
_خو ما درد نه احساساوه، یا به مې زخم ته پام نه و، زرو ته مې کتل او پر خپل لاس مې د هغې د تودو ګوتو له لګېدو خوند اخیست، خو ته نه یې ګرم، زما زیږ لاس او د زرو پستې ګوتې، ډېر سره لیرې دي.
غلی شو، له خپلې لمنې یې نرۍ تراڼه وایسته، د طوطي وزر یې پرې وتاړه.
ویې ویل:
_د زرو د خولې خبره درته کوم، انا یې کوچۍ وه، په یوناني دواوو ښه پوهېده، دې ته یې هم د ځینو بوټو رازونه ویلي وو، نه پوهېږم، زما لاس خو ټک پټری شو، ولې به نه جوړېده، د زرو ګوتې پرې لګېدلې وې.
ټوپک یې ور واخیست، طوطي یې پر خپله اوږه کېناوه، مخ کښته روان شو. څومره چې لاندې ته، د سیند د اوبو شېهاری تېزېده.
سړی یو ځای ودرېد، طوطي ته یې تر څنګ وکتل، ویې ویل:
_ته به وږی یې!
لاره یې چپه کړه، پر یوې لوړې وخوت، بېرته کښته شو، په نرۍ دره کې د شاتوت زړې ونې ته ودرېد، پورته یې وکتل، ویې ویل:
_لا خام دي.
په تګ کې یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکوال: نصیراحمد احمدي

_دا ونه هم راباندې گرانه ده، زه او زرو به کله کله ورته راتلو، زرو به د ونې لاندینۍ پاڼې په پخو توتو پسې اړولې، خو ما به د هغې په توتو ککړې سرې خولې ته کتل.
سړی سیند ته کښته شو، یو دم یې وخندل:
_اوس به دعا راته وکې!
ټوپک یې نیالگي ته ودراوه، پر ملا کړوپ شو، غټه ډبره یې واړوله، تندی یې تریو شو:
_نشته.
د سیند څنډې ته ورغی، بله ډبره یې ورغړوله، یودم یې د دواړو لاسونو غریوي سره وجنگول:
_پیدا مې کړل.
طوطي یې پر یوه هواره ډبره کېناوه، ټیټ شو، لاس یې د طوطي سترگو ته ونیو، په دوو گوتو پسې یې سور اوږد چینجی ځړېده.
سړي په خوند وویل:
_نه پوهېږم، ماهیان خو یې په شوق خوري.
چینجۍ یې د طوطي مښوکې ته نږدې پر هواره ډبره کېښود، خو طوطي ور ونه کتل.
د سړي تندی تریو شو:
_فکر نه کوم چې تر ماهیانو دې پاک خوره اووسې. زه په همدې سرو چینجیو ماهیان نیسم، بس، تر اوسه یو چنگک هم خالي نه دی راختلی.
سړي د خپل زاړه کمیس غاړه خپلې پزې ته ورنږدې کړه، ویې ویل:
_دومره بوی یې نه ځي، خو اوس تیار د سیند غاړې ته راغلی یم.
کمیس یې وایست، د پښتیو هډوکي یې راوتلي وو، تر ښی اوږې لاندې یې د مرمۍ د لگېدو ننښه ښکارېدله.
کمیس یې په اوبو کې وواهه، بېرته یې پر هواره ډبره کېښود، د کمیس پر غاړه یې یو موټی لندې شگې وموښلې، اوبه یې پرې تېرې کړې، ونې ته ور وگرځېد، کمیس یې لمر ته راوځړاوه، بېرته طوطي ته راغی، ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_خوښه دې، ته به وړی يې.
سړي وټوخل، ويې ويل:
_دومره هم نه يې راباندې گران، خو د زرو له خاطره دې عزت کوم، پوهېږې! د جونگړې پر سر د چهارمغزو په ونه کې يوه طوطي ځاله جوړه کړې وه، چغهارې يې تېرې لگېدې، خو د زرو له لاسه مې کار نه پرې درلود. زرو ته يې خوند ورکاوه، ډېره يې ورسره جوړه وه، طوطي اموخته و، څړمونې ( پسرلی ) به راغی او د لومړۍ واورې تر اورېدو مخکې به يې ځاله پرېښودله، زرو به خندل، ويل به يې چې زموږ ژوندۍ جنتري ده.
يوه غرمه په جونگړه کې وېده وم، د زرو چيغې مې واورېدې، په بېړه د باندې ووتم، زرو د طوطي مات وزر په خپلو گوتو کې ټينگ نيولی و. علت مې وپوښت، په ژړا کې يې راياده کړه، چې د طوطي چغهارې شوې، پورته مې وکتل، کوچيني باز له ځالې پورته کړی و، وړی يې نه شوای، لاندې راولوېد.
طوطي مې راواخيست، پر سترگو يې خړه پرده راغلې وه. يوه شېبه ژوندی و، بيا مړ شو.
د زرو په وينو سرې گوتې مې په خپلو لاسونو کې ټينگې ونيولې، هغې زما پر اوږه سر کېښود، په ژړا کې يې وويل:
_ځاله خالي شوه.
سړي د طوطي د مښوکې لاندينې برخه په گوته ووهله، ويې خندل:
_اوس پوه شوې چې ولې راباندې گران يې؟
سوړ اسويلی يې وايست:
_اه! که دې زما زرو ليدلې وای، يوې خندا يې وزر در جوړاوه.
ولاړ شو:
_راځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

د ډبرو خواته ورغی، شاوخوا یې وکتل، له سکرو یې یو سکور راپورته کړ، بېرته طوطي ته راغی، په خوند یې وویل:

_ښه دي کړي، ډاډه یم چې د چینجي په خوړلو به نه یې پښیمانه شوی.

سړی پر هواره ډبره پړمخې پرېووت، طوطي یې تر څنک کېناوه، سکور یې په دوو گوتو کې ونیو، ویې ویل:

_اول به د زرو سترگې درته رسم کړم، داسې. ام، د زرو سترگې تورې وې، د سترگو کسي یې یو څه غټې ښکارېدل، هه! په دې ترتیب.

یودم کېناست، رسم کړې سترگې ته یې وکتل، تندی یې تریو شو:

_دا سترگه غټه راغله، خو د زرو سترگې وړې وې، دومره اوږده باڼه یې نه لرل، ښکلې نه ده، له زرو سره غټې سترگې ښې نه ښکارېدې.

واسکټ ته یې لاس ور وغځاوه، پر انځور کړې سترگه یې تېر کړ.

ویې ویل:

_له سره به یې جوړ کم... ام، په دې ترتیب، وړې او یو څه اوږدې، کرارې سترگې... داسې.

اوس د بلې سترگې وار دی. د زرو د دواړو سترگو تر مینځ فاصله لږ ډېره وه، هه! دا یې هم بله سترگه.

نېغ کېناست، ډبرې ته یې وکتل، په خوند یې وویل:

_دې ته وایي د زرو سترگې.

بېرته پر ډبره ور ټیټ شو:

_اوس یې د پزې وار دی.

شېبه وروسته یې سکور یوې خواته کېښود، د لاس څنگله یې ډبرې ته سیخه کړه، لاس یې تر زنې لاندې کړ، ډبرې ته یې وکتل، یودم یې واسکټ تر کونج ونیو، ویې ویل:

_د زرو پزه دومره هسکه نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

د واسکټ ژۍ یې په خپله ژبه لنده کړه، د رسم کړې پزې لاندینۍ برخې ته یې ونیوله، طوطي ته یې وکتل، ویې ویل:
_دومره بد بد مه راته ګوره، دوولس کاله مې مکتب ویلی، د رسم نومرې مې تر ټولو ډېرې وې.
ډبرې ته یې وکتل:
_زرو یو څه لنډه پزه درلوده، په دې ترتیب...پزه یې د سترګو له مینځه نرۍ را جلا شوې وه، خو وروسته لږ پلنوالی پکې راغلی و...داسې.
سړي سر پورته کړ، بېرته پر ډبره ور ټیټ شو:
_اوس یې د خولې وار دی، لاندینۍ شونډه یو څه ډکه لیکم ، خو پورتنۍ شونډه یې نرۍ راغلې وه.
سړی کېناست، خړې شونډې یې موسکۍ شوې:
_دې ته وايي د زرو خوله، هماغسې سره راټوله ده، خو سور رنګ نشته، د هغې شونډو سرخي لرله.
اه! تر غومبرو لاندې ژور ځایونه مې څنګه هېرېدل!
ټیټ شو، خو بېرته نیغ کېناست:
_نه، زرو په دې رسم کې نه دې خندلي، دا وړې ژورې یې یوائې په خندا کې راتلې، اه! د هغې په خندا پسې خپه یم. هو رښتیا، زرو پراخ سپین تندی درلود، د وېښتو رسمول به یې تندی ښکاره کړي.
پر ډبره پرېووت:
_ام، وېښته یې تور ول، کټ مټ لکه دا سکور، خو دومره سپېره نه ښکارېدل، بس! خدایي ځلا یې درلوده.
یودم یې تندی تریو شو، مات سکور یې اوبو ته واچاوه، ویې ویل:
_نه پوهېږم، ترباران یوه ورځ مخکې دلته ولمبېدم، یخني مې وشوه، اور مې بل کړ، خو فکر کوم وروستي باران له سکور سېکه ایستلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکوال: نصیراحمد احمدي

سړی ستوني ستغ پرېووت، لمر ته يې وکتل: سترګې يې پټې کړې:

_طوطي! لمر تر تا بختور دی، زرو يې لېدلې وه.

غلی شو، ويې ويل:

_زرو له ونې ټيټه وه، خو نری ښکارېدله، په تګ کې به يې تور وېښته له ملا ښېل ورسره تلل.

سړي سوړ اسويلی وايست،سترګې يې پټې کړې، ويې ويل:

_ طوطي! کاشکې دې زما وړه پاچاهي ليدلې وای.

(۳)

شغال کوکه کړه، سړي سترګې پرانيستې، تياره وه، دروازې ته يې وکتل، د دړو له چاکونو دوه ستوري مالومېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

سړي پر غولي لاس تېر کړ، د چهارمغز مات پوستکی په گوتو ورغی، کړپ شو، پوستکی پر کاسه ولگېد، پر ځمکه د طوطي د مات وزر کرښنده غبر واورېدل شو.

سړي وویل:

_اه! ښه ده چې ژوندی یې.

سترگې یې سره وروستې، ویې ټوخل، ټوخي یې زور واخیست، لاس یې وتپاوه، جام یې شونډو ته ونیو، دوه، درې غوړپه اوبه یې تر ستوني تېرې کړې.

ولاړ شو، وړې لرگینې کړکۍ ته یې لاس ور وغځاوه، پر مخ یې سوړ باد ولگېد. د باندې یې وکتل، پر ونو د ستورو تته رڼا پرته وه.

سړی بېرته خپل ځای ته راغی؛ د ابړ پوستکی یې پر زنگنو ور وښویاوه؛ غلی پرېووت.

ټټر یې دروند شو؛ لاس یې ور وړ؛ طوطي کرېژه کړه.

سړي چیغه کړه:

_نه دې خورم.

طوطي یې تر غاړې ونیو؛ پر خپل ټټر یې کېناوه. طوطي ټوپ کړل، سړي لاس پسې ور واچاوه، په گوتو کې یې مړې بڼکې پاتې شوې.

سړی غلی پرېووت، خو وروسته سلگیو واخیست، په غریو کې یې وویل:

_طوطي! ته باید زما خبرې واورې!

غلی شو، یودم یې تر خولې تېره کوکه راووته!

_اه زرو، زړه مې چوي.

ولاړ شو، د باندې ووت، پر قبر ور پرېووت، غریو واخیست:

_زرو! یواځې یم، ډېر یواځې! ان طوطي هم زما خبرې نه اوري!

سړی غلی شو، بغور ( غمبوری ) یې د قبر پر وړو ډبرو ولگاوه، ډبرې سړې وې، ورو یې وویل:

_سهار یو وار خپل پخواني کور ته ورځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(٤)

د سرې پښه وښويېده، ټوپک له تېرې سره ولگېد، له پورته غټه ډبره راغله، سرې ځان ځنگ ته کړ، پر اړخ ولوېد، لاندې ورغړېد، له اغزو ډک بوټی یې اوږې ته سيخ شو، (اخ) یې کړل، تېرې تېرې ته یې لاس ور واچاوه، تېره ښویه وه، گوتې یې ببلې شوې، د یوې ونې تر تنې یې غبرگ لاسونه را تاو کړل. همالته اوږد وغځېد.

باله یې خلاص کړل، د لمر تېرې وړانگې یې سترگو ته سيخې وې، ورمېږ یې کوږ کړ، طوطي پر يوه شنه ډبره ناست و.

سرې ښی لاس وخوځاوه، حرکت یې درلود، کیڼ لاس یې پر ځمکه ولگاوه، درد نه و. سر یې پورته کړ، په احتياط کېناست، په کیڼ زنگون کې یې څړیکه شوه، زنگون ته یې وکتل، خره، زړه ټوټه په وينو سره وه.

سرې پایڅه پورته کړه، د زنگون پوستکی یې تېرې ورسره وړی و. بوټ یې وایست، د پښې گوتې یې خوځېدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

سږی ورو ولاړ شو، مخ پورته وخوت، لوېدلی ټوپک یې ور واخیست، طوطي ته ورغی، پر تېږه کېناست، لاندې یې وکتل، یودم یې سر وخوځاوه، په خندا یې وویل:

_په سخته کې به مرگ هم منډې درنه وهي، ته ورته وگوره، پنځه، شپږ متره لاندې ورغړېدم،نه مې ورمېږ را لاندې شو او نه مې هم سر ته کومه تېره ډبره سیخه شوه.

سږي لاندې وکتل، لیري، د گڼو ونو تر مینځ په تش چمن کې له ختو او ډبرو جوړه جونگړه ښکارېدله.

سږي په خوند وویل:

_طوطې! پوهېږې چې دا جونگړه مو څه وخت جوړه کړه؟

طوطي پر ډبره ناست ملخ ته کتل...

د سږي سترگې وځلېدې:

_دې ځای ته اول د زرو ور پام شو، له لوړې یې ولید، خوند یې ورکړ، کله چې ورکښته شوو، د اوسېدو له پاره سم راته وایسېد. زرو خوشاله وه، پر مټ یې کلکه چونډۍ راولگوله، په خوند یې وویل:

_انتخاب مې ښنگه دی؟

وروسته یې درې څلور گامه واخیستل، په شنه چمن کې یې یوه تېږه کېښوده، ویې ویل:

_تر دې ځایه به یوه کوټه جوړه کړو.

بیا یې له ونې لوېدلی چهارمغز ور واخیست، د کیڼې سترگې پاڼه یې سره وروستل، لاندینۍ شونډه یې په غاښونو کې ټینگه کړه، چهارمغز یې وار کړ، لېرې ورغړېد، ویې ویل:

_تر هاغه ځایه به د لرگیو یوه کټاره راوگرځوو، بس، د ترکاریو د کرلو له پاره ښه ځای دی.

بیا ماته راغله، اوږه یې راسره وجنگوله:

_ښنگه! زما نخشه دې خوښه نه شوه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

ليکوال: نصيراحمد احمدي

ومې ويل:

_نه

په تندي کې يې گونځې پيدا شوې، دواړه شونډې يې سره ورغلې:

_ام م م..... بخيلي مه کوه، دا راسره ومنه چې ښکلې خبره مې وکړه.

ومې ويل:

_خو يو څه کم دي، د ماشومانو کوټه!

زرو وخندل، پر غاړه يې کلکه خوله راولگوله.

سړی غلی شو، غاړې ته يې لاس ور ووړ، ورو يې وويل:

_اه! څه توده خوله.

مخ يې واړاوه، د لمر وړانگې يې پر سترگو ورغلې، اوښکې پکې ځلېدلې.

سړی ولاړ شو، طوطي ته يې وکتل، له ژېړې منښوکې يې د ملخ خړ وزر راوتلی و.

سړي وويل:

_راځه! سلامت ورځ مزل پاتې دی.

گام يې واخست، خو بېرته ودرېد، پايڅه يې ور پورته کړه، د زنگانه وينه وچه وه، بېرته يې حرکت وکړ، ژوبله پښه يې درنه پسې اخيسته. يو ځای ودرېد، د ټوپک کولنگ يې کش کړ، ورو يې وويل:

_پوهېږې، دا ځای ابړ لري، لاندې هم کله کله راپيدا شي، خو وخت يې مالوم دی، کله چې د غره څوکې ډېره واوره ونيسي، نو ابړ، لېوان او نور ځناور د غره لمنو ته راکښته کېږي.

سړي بېرته ټوپک اوږې ته واچاوه، ورو يې وويل:

_له دې وروسته ونې گڼې دي، ښه ده، په دې غره کې د لرگيو د وړلو لاره نشته، که نه نو اوس به په سيوري کې نه تلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۵)

سړی د غار خولې ته ودرېد، ټوپک یې پر یوه هواره ډبره کېښود، د دوو تېږو تر مینځ راوتلی بوټی یې وڅانده، د بوټي پاڼې یې پزې ته ور نږدې کړې، سا یې کش کړه، تر ډېره یې سترګې پټې وې.... بېرته یې ټوپک ور واخیست، غار ته ننوت.
غار ارت و، سړي یواځې یو ځای ملا کړوپه کړه، بېرته نیغ شو. مخکې لاړ، په پراخ ځای کې ودرېد، ځای د یوې غټې کوټې په اندازه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

سړي شاوخوا وکتل، ټوپک یې کېښود، ښویې ولاړې ډبرې ته کېناست، ډبره له سپینو لیکو ډکه وه.

سړي شونډې ور نږدې کړې، ډبره یې ښکل کړه، له خاورو یې د ماتې پیالې لاستی راپورته کړ، لمن یې پرې تېره کړه، په زړه پورې یې ونیو.

ولاړ شو، د پیالې لاستی یې له ماتو بنګړیو، زړې ښځینه چپلکې، د مبایل له شکېدلې سپېره پوښ او جارو سره کېښود. په خاورو کې ستوني ستغ اوږد وغځېد، پورته یې وکتل، له ډبرو وچ وابښه راوتلي وو.

سړي سره سا وایسته، سترګې یې پټې کړې، په اوبو کې د ځاځکو د لوېدو غږ راته.

په اوبو کې چړپا شوه، سړی په بېړه ټوپک ته ور وښوېد، ګیدړې مخامخ منډه راواخیسته، ټوپ یې کړل، لنده لکۍ یې د سړي پر مخ ولګېده، ښویه له غاره ووته.

سړي لاړې تو کړې، خپل لستوڼی یې پر خوله تېر کړ، طوطي ته یې وکتل، د دوو ډبرو په مینځ کې ننوتی و.

ولاړ شو، د کوټې په بل سر کې پرې شوي غار ته ودرېد، ملا یې کړوپه کړه، مخکې لاړ، چونګی یې واورېد، سړي ټوپک هماغه خواته ور واړاوه، یوه شېبه ودرېد، سترګې یې له تیارې سره اشنا شوې، د اوبو د کوچیني ډنډ پر ژۍ د ګیدړې بچیان پراته وو.

سړي خپلې پزې ته لاس ور ووړ، پورته یې وکتل، د اوبو دوهم ځاځکی یې سترګې ته سیخ شو، خوله یې وازه کړه، ځاځکی یې پر شونډو ولګېد، ویې خندل، بېرته خپل ځای ته راغی، طوطي ته یې وکتل، ویې ویل:

_اه! دومره ډار هم ښه نه دی.

طوطي یې د ډبرو له مینځه را وایست. اوږد وغځېد، طوطي یې پر خپل ټټر کېناوه، ورو یې وویل:

_پوه شوم، دې ځای خوند درنه کړ، خو مجبوره یې چې یوه شپه همدلته تېره کړې، پوهېږې، په دې ځای کې مې ډېر یادونه پراته دي.

سړي یودم وخندل، د طوطي مښوکه یې په خپله ګوته ووهله، ورو یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

_هاغه هواره ډبره وينې؟ لیکو ته يې وګوره، همدا سپینې لیکې د زرو د لاس ننښې دي.
یوه ورځ د خوړو په موندلو پسې د باندې ووتم، سات، نیم سات وروسته بېرته راغلم، زرو په یوه سپینه ډبره همدا لیکې ایستلې، زما په لیدو يې راته وويل:
_نن مو څوومه ده؟
پوه شوم چې د ورځو حساب کوي، هره لیکه، مانا یوه ورځ.
ورو مې وويل:
_دلته دې دومره ژر زړه شين شو؟
په بېړه يې راته وکتل، زرو خپله غوسه نه شوی پټولی، هر څه يې په څېره کې راتلل، په غوسه کې به يې شونډې رپېدلې.
خبره مې واړوله، خو هغه ولاړه شوه، لېرې کېناسته. ورغلم، د هغې سر مې په خپل ټټر پورې ټينګ ونيو، زرو يو دم وژړل. په ډک ستوني يې وويل:
_بيا داسې ونه وايې.
زنه مې د هغې پر ککرۍ کېښوده.
زرو وويل:
_په اور او اوبو، دواړو کې درسره يم.
ومې ويل:
_اتمه.
په ژړاکې يې وخندل:
_د څه اتمه؟
_نن مو اتمه ورځ ده چې دلته اوسو.
زرو په بېړه تيرې ته ورغله، دوې نورې لیکې يې هم وايستې.
سرې ټوخي واخیست، خبرې يې پرې شوې. ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکوال: نصیراحمد احمدي

_زرو به هره ورځ یوه لیکه ایستله، ټولې څلور شپېته لیکې دي، څه باندې دوې میاشتې.
سرې غلی شو، ورو یې ویل:
په دې ځای پسې مې د ژوند خوږې شېبې تړلې دي.
طوطي ته یې وکتل، ویې خندل:
_غزني ته به نه یې تللی، ډاډه یم، که غرېدای، ځواب به دې ( نه ) و. ځکه غزني سوړ ولایت دی، زه همالته پیدا او را لوی شوی یم، په اته ویشتو کالونو کې مې شین طوطي ونه لید.
ما په لومړي ځل شنه طوطیان دوه کاله مخکې د لته د نورستان په ځنګلونو کې ولیدل. اه، کیسه مې کوله، د غزني د قره باغ او مقر تر مینځ یو غر دی، خلک یې د (شیر غر) بولي، ماشوم وم، له خپل پلار سره همدې غره ته په بوټو پسې لاړم، د سپیرو غرونو په مینځ کې همدا یوه غره ونې درلودې، ګڼې نه وې، د ترخو بادامو درې_ څلور سوه زړې ونې ولاړې وې.
پلار مې د غره ترخو او ګونګلانو ( یو غرنی بوټی دی) ته د کولنګ تېره څوکه ونیوله، له وار سره به بوټی له رېښو سره راوخوت.
له پلاره مې وپوښتل:
_دادا! ولې د بادامو ړنګې، وچې ونې نه وړو؟
پلار مې په ښېړه راته وکتل، تندی یې تریو و، په خشکه یې وویل:
_توبه وباسه! بیا داسې چټیاټ ونه وایې!
ما د بادامو ونو ته وکتل، تر ونو لاندې رالوېدلي، زاړه وچ ښاخونه پراته وو.
پلار مې وویل:
_ګناه لري؟
حیران شوم:
_څه ګناه، هسې ورستېږي، ښه ده چې تنور وربلاندې بل کو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

پلار مې کولنګ کېښود، راغی، په جګو پښو راته کېناست، زما پر اوږو یې غبرګ لاسونه کېښودل، ورو یې وویل:

_ګوره کامرانه زویه! تر اوسه دریو کسانو دا لرګي خپلو کورونو ته وړي دي، خو ښه ورځ یې ونه لیده،د یوه غبرګې غواوې مړې شوې، د دویم په کور کې له دربېو پښتو ( نسلونو ) راهیسي جینکۍ زېږېدلې، دربېم ته هم خدای لویه رسوایي ور واړوله، لور یې له یوه اوښپه سره وتښتېده.

پلار مې ولاړ شو، کولنګ یې ور واخیست، ویې ویل:

_نو څا چې د ترخو بادامو دا لرګي وړي دي، ښه ورځ یې نه ده لیدلې.

ومې ویل:

_دا کسان پېژنې؟

پلارمې یوه بوټي ته کولنګ ور واچاوه، پرته له دې چې راته وګوري، ویې ویل:

_نه، دا پخوانۍ اوازې دي، په وړکتوب کې مې له خپل پلاره واورېدې!

_نو ولې؟ په دې ونو کې څه دې چې ...

پلار مې په خبره کې راولوېد:

_اوس دا بوټي راپسې راټول که.

تر غرمې د خرې مضبوط بار برابر شو، د راتګ په وخت مې پلار لاره کړه کړه.

ومې ویل:

_کلی خو هاخوا دی.

پلار مې وخندل:

_راځه!

خره په سپېرو تېږو کې کښته روانه وه. ځای ځای به یې ټوږه ووهله، خو زما پلار قوي متې درلودې، ټول عمر یې په نجارۍ کې تېر کړی و، بار یې لوېدو ته نه ورکاوه.

یو ځای یې خره ودروله، پلار مې تر مټ ونیولم، ارت غار ته ور ننوتو، په پراخ ځای کې له سپینې تیږې جوړه ښځه ناسته وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library





پلار مې غبرگ لاسونه لپه کړل، شونډې يې وخوځېدې، خو پوه نه شوم چې څه وايي، وروسته يې زما له اوږې سره خپله څنگله وجنگوله، ور ومې کتل، په اشاره يې پوه کړم چې دعا وکه!

وار له واره مې د روزيگل نوی بايسکل سترگو ته ودرېد.

ومې ويل:

_خدايه، روزيگل له بايسکله خلاص که.

روزي گل زموږ همزولی و، مکتب ته به يوځای پلې سره تلو، خو وروسته يې پلار نوی بايسکل ورته واخيست، کله چې به تر موږ تېر شو، نو له روان بايسکله به يې پښه وغځوله، د بوټ پونده به يې د لارې مړو خاورو ته سيخه کړه، ټول ماشومان به پولې ته وختل.

پلار مې تر مټ ونيولم، ويې ويل:

_د ښځې تر مخ د جامو مينځلو تشت وينې؟

لاندې مې وکتل، سپينه ډبره د کاسې په څېر جوړه شوې وه.

پلار مې وويل:

_سلگونه کاله پخوا، همدې ښځې دلته جامې مينځلې، يودم کوپار ورباندې راغلل، ښځه په خپل عزت وويرېده، خدای ته يې لاسونه لپه کړل، د نازولو بندگانو دعا ژر قبلېږي. ښځه په تېږه بدله شوه.

پلار مې پر اوږه سوک راکړ:

_اوس پوه شوې چې په دې غره کې د بادامو دا وچ لرگي ولې څوک نه شي وړلی! د خدای د دې نازولې له ښېرا څخه وېرېږي.

شاوخوا مې وکتل، پر يوه هواره تېږه، غوږ مات شيطان ځراغ او څو خيرن زاړه بوتلونه پراته وو.

پلار مې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_دې ځای ته هندوان هم اخترام ( احترام ) لري، بس، يواځې ، څو کاله مخکې لا دلته هندوان او سکان راتلل، ديگ به يې کاوه، وروسته به يې د شړشمو په تېلو ځنې غوړې کړې، دايره به يې جوړه کړه، تر شيطان ځراغ به راگرځېدل.
سړی يو ناڅاپه نبغ کېناست، واسکټ او کميس يې په بېړه وايستل، کميس يې ټکواهه، وړه ځرمبنکۍ پر ځمکه ولوېده.
سړي وخندل:
_اه! له غونډله مې زړه چوي.
بېرته يې کميس واغوست، خو واسکټ يې تر سر لاندې کړ، طوطي ته يې وکتل، ويې ويل:
_هغه مجسمه مې بيا ونه ليده، زموږ له سيمې ليرې وه، د پښو درې _څلور ساعته مزل يې غوښت، خو له کوچيانو به خبرېدم چې مجسمه په خپل ځای ولاړه ده، ان طالبانو د بودا مجسمه ړنگه کړه، خو د (شير ) د غره مجسمې ته يې څه ونه ويل، خو د کرزي د حکومت په پنځم، شپږم کال خبر شوم چې چا له بېخه اره کړې ده. خلکو دوې خبرې کولې، ځينو ويل چې د امريکايانو ځرځکې ورته کېناستې، خو نور په دې باور و چې مجسمه تر پاکستانه ورسېده.
سړي سړه سا وايسته، طوطي ته يې وکتل، ويې ويل:
د شير غار هندوانو او مسلمانانو ، دواړو ته داسې مقدس و، لکه ماته دا ځای، زه په کال کې دوه درې ځله دې غار ته راځېږم.دا ځای د زرو له خاطرو ډک دی، په هره تېږه يې لاس لگيدلی.
يودم کېناست، غولي ته يې وکتل:
_طوطي! زرو به همدلته گرځېده، په خاورو کې به يې اوس هم پلونه پاتې وي، هاغه تېږه وينې؟ ولي به يې ورته لگولي وو؛ خبرې به يې کولې؛ خندل يې، خندا به يې په ولاړو تيږو ولگېده، انعکاس به يې وکړ، بېرته به راوگرځېده. اه! دا غار ډېر بختور دی، د زرو خندا يې اورېدلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

ليکوال: نصيراحمد احمدي

راځه!

سرى په بېړه ولاړ شو، طوطي يې تر وزر ونيو، طوطي کريژه کړه، سرى واړه غار ته ننوت، ويې ويل:

_په اوبو کې د ځاځکو د لوېدو غږ اورې!

د ګيدړې بچيان وچونګېدل.

سړي وويل:

_د چت پر سر، لږ پورته يوه چينه بهېږي، دا ځاځکې د هماغه چينې زېم دى، زرو به چينې ته نه تله، بس، چې تندې به واخيسته، دې ځاځکوته به يې خوله ونيوله.

ما هم ترې زده کړل، خو د زرو پېښې مې نه شواى کولاى، تل به مې مخ او غاړه لانده وو.

اه! راځه، راځه چې هغه بوټى در وښيم.

سړى له غاره ووت، د لمر سترګه د مخامخ غره پر څوکه ولاړه وه، ونې توربخونه ښکارېدلې، مازې څوکو يې ژېړه رڼا کوله.

سړى د غار خولې ته ودرېد، د بوټي پاڼې يې وښورولې، پزه يې ورنږدې کړه!

_اه: څومره خوږ بوى، پوهېږې! زرو د دې بوټي په بوى نه مړېده، د ورځې به څو ځله دې بوټي ته درېده، سترګې به يې پټې وې، د بوټي له بوى څخه به يې خوند اخيست.

سړى پورته وخوت، د چينې رڼې اوبه يې خپل مخ ته ور واچولې، کېناست، طوطي يې له زنګانه وښويېد، اوبو ته يې مښوکه ور ټيټه کړه.

سړي پورته وکتل، د غره سپينه څوکه نېغه ولاړه وه، لمر ته سيخو واورو ژېړه لمبه کوله.

سړي وويل:

_يوه ورځ له زرو سره پورته وختم، دوبى و، تر واورو ورسېدو، زه ودرېدم، خو زرو په ځپلکو کې مخکې تله، ځاى ځاى به ټيټه شوه، له سپينو واورو راوتلي ژېړ ګلان به يې راوشکول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکوال: نصیراحمد احمدي

په اول کې یې باک نه کاوه، خو وروسته یې د پښو ګوتې سرې شوې، تر تورې پورې مې په غېږ کې راوړه.

سړي یودم وخندل:

_اه طوطي، د زرو خندا دې نو نه وه لیدلې، زړه یې له ښخه ایست. پوهېږې، زرو مې په لومړي ځل دوه نیم ، درې کاله مخکې ولیده، ما د کړکۍ له پاره لرګی اره کاوه چې یوه ماشوم چیغه کړه، ور ومې کتل، نهه یا لس کلن هلک په حویلۍ کې منډې وهلې، خپل سر او ورمېږ ته یې څپېړې نیولې وې، په منډه کوټې ته ننوت، سر مې پسې ونه ګرځاوه، بېرته مې اره راواخیسته، خو شېبه وروسته مې د یوې نجلۍ خندا واورېده، ښکلې خندا، زړه یې له ښخه ایست. ور ومې کتل، د کوټې له وره لومړۍ یوه ځوانه نجلۍ راووته، بیا څپلکه پسې راغله، نجلۍ سر ټیټ کړ، څپلکه د غواوو پښو ته نږدې ولګېده.

نجلۍ په کړکۍ کې ودرېده، په خندا یې وویل:

_چینجیه! پړسېدلې پزه دې وخورې!

یودم یې په چوتره کې منډه واخیسته، له کوټې هماغه ماشوم را ووت، پزه یې ډومبک ولاړه وه.

نجلۍ دالان ته ننوته، ماشوم هم ورغی، د یوې ښځې چیغه مې واورېده!

_سترګې لرې که نه، په ذغالو کې وختې.

نجلۍ وویل:

_ادې! ورور مې کرار که!

چوپه چوپتیا شوه، د ښځې لوړ غږ مې واورېد:

_وه زویه، کرار کېنه! له بمبرو ( غومبسو ) څه بلا غواړې.

بېرته په خپل کار بوخت شوم، خو وروسته مې د اوبو د بمبې غږ واورېد، ور ومې کتل، هماغه نجلۍ ولاړه وه، خوره راباندې ولګېده.

له دالانه د ښځې غږ راغی!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

ـزرو، برګې غوا ته دوه سطله اوبه کېږده، له سهاره راهیسې تږې ولاړه ده.
سړی غلی شو. شونډې یې موسکۍ شوې، ورو یې وویل:
ـاه، زرو، څومره خوږ نوم، نجلۍ زرو نومېدله.

د زرو نیکه په خپل پخواني کور کې نوې کوټې جوړې کړې وې، څلور خونې، درې تشنابه، دهلېز او د اور ځای. دې ټولو کړکۍ او دروازې غوښتې. پلار مې نجار و، د ټولو مزدوري یې یولک اوغانۍ ورسره خلاصه کړې وه.

ما هم د نجارۍ په کار کې تجربه لرله، د مکتب له وخته به دوکان ته تلم، خو له دولسمه وروسته مې یواځې نجاري کوله.

پلار به مې هم کله کله د نجارۍ نوي فرمایشونه راوړل، کوم وخت چې به کار راباندې ډېر شو، لاس به یې راسره ووړ.

ګذاره کېدله، دوه تنه وو، زه او پلار. د مور مې کلونه مخکې زړه ودرېد، مشر ورور مې له طالبانو سره د جنګ لومړي خط ته لاړ، مړی، ژوندی یې غیب شو. کشری هم په وړوکوالي کې شنې غاړې ونیو، تر ډاکټره ونه رسېد، بس، زه او پلار پاتې و، تر کور، په سارا خوشاله وم.

د زرو له نیکه سره مې په اوله کې ویلي و چې د دومره ورونو او کړکیو جوړول میاشت غواړې، کور مې لیرې دی، نه شم تلای، ده هم بله پکې ونه کړه، ویې ویل چې د شپې د تېرولو ځای له ما وغواړه.

په اول ماښام یې جومات ته بوتلم، اه، زړه مې ولړزېد، اوه، اته متره توره کوټه وه، په بر سر کې یې بله لرګینه دروازه ښکارېدله، ورغلم، دروازه مې خلاصه کړه، د فرضو ځای و. څراغ مې ورته ونیو، محراب په تورو دېوالونو کې سپین ښکارېده، ګچ یې ور کړی و.
بېرته د سنتو ځای ته راغلم. زړې توشکې هوارې وې، له سره زاړه فرش نه نمجن بوی ولاړېده. د څراغ پلته مې لوړه کړه، پر چت لوګي وهلي تور لرګي پراته ول، له پورته د غڼو ځالي راځړېدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

ليکوال: نصيراحمد احمدي

ماخستن هماغه ماشوم ډوډۍ راوړه چې غومبسو پسې اخيستی و، د پزې پاړسوب يې لا نه و ناست، د نوم پوښتنه مې ترې وکړه، خو ماشوم کاسه کېښوده او په بېړه له جوماته ووت.

د ماخستن جمې ته پنځه، شپږ کسان راغلل، زه هم په کتار کې ورسره ودرېدم. څلور رکعته لمونځ په ارامۍ سره ادا شو، خو په سنتو او وترو کې د ځمکې دربا خته...د زنګنونو د لګېدو وار نه کېده.

نهه رکعته وروسته يواځې ملا صيب پاتې و، هغه هم لنډه دعا وکړه او له جوماته ووت.

اوږد وغځېدم، وروسته مې د وره د خلاصېدو غږ واورېد. ماشوم و، ګيلاس او چايجوشه يې کېښوده. د نوم پوښتنه مې ترې وکړه، ماشوم په پټه خوله دسترخوان ټول کړ.

لينديې ته مې پام شو، ربړ يې د ماشوم د تخرګ له جېبه راوتلی و. د هغه د خوښې خبرې مې راواخيستې:

_ياره، ورک يې که، د چتکي ويشتل ډېر سخت کار دی، زړه به دې خوړين کړي.

ماشوم نيغ را وکتل، دسترخوان يې پرېښود.

ومې ويل:

_ما رنګارنګ مرغان ويشتلي دي، خو چتکی ټوپونه وهي، تر اوسه د لينديې ګيټۍ (تيږه) نه ده ورته سيخه شوې.

د ماشوم سترګې وځلېدې، په خوند يې وويل:

_چتکی نو څه شی دی، همدا نن مې له ونې کښته راوغورځاوه.

ومې ويل:

_لينده به دې اصله وي.

ماشوم په بېړه لينده را وايسته، څراغ ته يې ونيوله، کش يې کړه، ويې ويل:

_ ارزانه لينديې هم شته، خو په دې مې دوه لسګونه ور وګنل.

(c) ketabton.com: The Digital Library





لينده مې ترې واخيسته، کش مې کړه، ومې ويل:

_اصلي ده، سور ربړ ژر نه شکېږي.

ماشوم په خبره کې راولوېد:

_مخکې به مې د بايسکل له ټوپه لينده جوړوله، خو وار يې مړ و، گيټۍ به يې تر مرغانو نه شواى رسولاى.

غلى شو، لينده يې رانه واخيسته، په خوند يې وويل:

_شين توپۍ دې ويشتلې ده؟

_نه

_شين غاړى؟

_ام م م ... نه

تندى يې تريو شو:

_نو ته ام ځانته ښکاري وايې؟ تا څه ويشتلي دي؟

لاره رانه ورکه شوه:

_ما، ما، هېڅ، هو رښتيا! زموږ په کلي کې خړې مرغۍ ډېرې دي، خړه مرغى، يوځل...

ماشوم په خبره کې راولوېد:

_خړه مرغۍ نو څه شى ده، د لاس په لوټه به يې ام بوځه راواړوم. خړې مرغۍ خو ان په غزني ( ښار ) کې هم شته، که نر يې سارايي مرغان ووله.

ومې ويل:

_نو ته غزنې ته هم تللى يې؟

_هو، مکتبونه لا نه و شروع، له نيکه، خور او مور سره د غزني زيارتونو ته لاړم.

د ماشوم د غېږولو له پاره ښه موقع وه، ومې ويل:

_ښه نو، له دې دومره لوى کوره، يواځې درې نفره لاړئ؟

ماشوم وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_پلار او ترونه مې نه وو، که نه هر څرمونی دوه _درې پسونه د زیارتونو له پاره اخلي.
ومې خندل:
_ ترونه! مانا ډېر ترونه لرې.
_هو، درې ترونه، پلار او دوه ترونه مې په سعودي کې دوکانونه لري، کشر تره مې په کابل کې ډاکټري وايي.
_نو کوچینان یې چېرې دي؟
_مشر تره مې کډه ورسره بیولې، اووه اجونه یې کړې، د هغه بل کډه د پلار کره په شپو تللې، کشر تره مې لا تر اوسه واده نه لري.
_نو هغه کوچیني ماشومان دې څه کېږي چې په سرای کې گرځېدل؟
_دواړه مې وروڼه دي.
ومې ویل:
_ښه ده چې په کور کې مو جینکۍ نشته.
د ماشوم تندی تریو شو:
_ولې نشته، یوه مشره خور لرم، نن مې جنگ ورسره وکه، پزه مې نه وینې، بمبرې وچیچلم، خو دې راپورې خندل.
ماشوم کاسه ور واخیسته او له کوټې ووت.
اوږد وغځېدم، سترگې مې پټې کړې، په چت کې موږکان چونگېدل.
د پېریانو او دېوانو خیالي تصویرونو خوب ته نه پرېښودم....
یو دم چیغې شوې، زړه مې خولې ته راغی، پر زاړه فرش د دوو پیشوگانو جنگ و، یوې بلې ته یې نوکارې ور لگولې... د بالښت وار مې پرې وکړ، دواړه په منډه له کوټې ووتې.
ټوخی مې واووریږد، یو بوډا په وره کې ودرېد، زړې، شکېدلې جامې یې په تن وې.
بوډا وویل:
_که ولي نه یم، خالي ام نه یم، پوهېدم چې حاجې نواب به دې دلته راولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال:  نصیراحمد احمدي

مخکې راغی، د خوشایو سوړ بوی یې ورسره راووړ، زما پښو ته نږدې توشکه یې سمه کړه، اوږد وغځېد.
شېبه وروسته یې وویل:
_ځوانه، په خوب کې خو به خرهاری نه کوې؟
زما ځواب ته ماتله نه شو، بله خبره یې وکړه:
_ټیټ بالښت درواخله، خرهار ی دې دروي، له خوبه به مې نه باسې.
څه مې ونه ویل.
بوډا یوه شېبه غلی و، بیا یې وویل:
_مه خپه کېږه، بیګا یو سوالګر راغلی و، تر سهاره یې خرهاری خوت، یوه سترګه خوب دې راباندې حرام شي!
ومې ویل:
_نو ته د شپې دلته وېدېږې؟
بوډا سړه سا وایسته!
_هو، حاجي غلامالي ( غلام علي ) په اوله کې راته ویلي و چې په کور کې ځای نشته.
په خبره کې ور ولوېدم:
_دا حاجي څوک دی؟
_زه یې مزدور یم، درې غواوې او شل پسونه ورته ساتم، د دومره ګورم ( پادې ) مړول اسانه کار نه دی، ټوک ټوک یم.
ومې ویل:
_د دې کلي له کورونو مالومېږې چې دا خلک په نس ماړه دي، خو جومات یې خوار دی، ولې؟
بوډا وخندل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکوال: نصیراحمد احمدي

_بې اتفاقي دې خدای په بوټي هم نه ور ولي، په یوه خوله نه دي، حاجي لالو جومات جوړاوه، خو نور کلیوال ورته ودرېدل چې نه، جومات به بیا د حاجي لالو په نوم یادېږي.

ومې ویل:

_خو په ګډه دې پیسې سره ټولې کړي.

_دا خبره بیا د حاجي لالو په نپس ( نفس ) نه وه برابره، ضد ونیو، ویل یې چې که داسې وکړی، نو جومات در پاته دی. یا به یې زه جوړوم، یا مو همدا سل کاله پخوانۍ جومات ښه دی.

بوډا کېناست، یوه چونډۍ نصوار یې تر ژبې لاندې کړل، په خوند یې وویل:

_پوهېږې، حاجي لالو هم ځانته من وايي، اوو_ اتو کلیوالو ته یې په ګټه پیسې ورکړې دي، خبره یې چلېږي.

ومې ویل:

_دا بل حاجي څه نومېږي؟

_کوم؟

_دا زه چې نجاري ورته کوم.

بوډا وخندل:

_څومره هېرجن یې، په اوله کې مې درته وویل چې حاجي نواب.

ومې ویل:

_دا څنګه سړی دی.

بوډا تفدانۍ ته لاس وروغځاوه:

_په کم نپسي کې یې ورځې ده، زامن یې د عربو په ریالونو کې مست دي، خو د ده مغروري به ونه وینې. په کور کې یې له سرو غالیو ځای نه کېږي، خو دی په خاوور کې پیټاوي ته ناست وي، غریبانو ته ام لاس نیسي، هاغه بله ورځ یې ماته هم یو سلګون راکو، پوهېږې، سږ کال یې خالي شپږ لکه اوغانۍ ذکات وایست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

بوډا غلی شو، څراغ ته يې ور پو کړل، تر يو څه وخته غلی پروت و، وروسته يې خرهاری شو.

تر ډېره ويښ وم، بيا مې سترګې سره ورغلې وې، يو وخت مې اوره وخوځېده، سترګې مې رڼې کړې، ملا له څراغ سره راته ولاړ و، په توره ږېره کې يې د اوبو نښتو څاڅکو ژېړه لمبه کوله.

د باندې ووتم، له لښتي چړپا راتله، ورغلم، په تياره کې مې زوروره ناره واورېده:

_وه د خدای بنده! پام ! مه راځه! لوڅ يم.

همالته اوداسه ته کېناستم، اوبه سړې وې.

بيګانی بوډا مې څنګ ته ودرېد، څادر يې په خپله پکه ککری تېراوه، په لړزانده غږ يې وويل:

_تو، لانت په شيطان، په دې سپينه ږېره يې تر اوبو وايستم.

اودس مې وکړ، جومات ته ورغلم، له لمانځه وروسته کليوالو خپل سرونه په څادرونو کې پټ کړل، ټول زنګېدل، کله کله به د خرهاري غږ هم واورېدل شو.

د سهار په خړه کې له جوماته ووتم، د حاجي نواب د کور دروازه خلاصه وه، نېغ نويو کوټو ته لاړم، اول مې له يوې دړې ښځه د ليندې يو ښايسته دوه غاښی جوړ کړ، بيا مې يوه چوکاټ ته رنده ونيوله.

له غوسې ډک ښځينه غږ مې واورېد:

_مرداره شې، سمه ودرېږه.

ور ومې کتل، د زرو مور د غوا تي پرېمينځل.

بېرته په خپل کار بوخت شوم، خو وروسته مې د زرو غږ واورېد، سر مې پورته کړ، زرو پر اخوره ناسته وه، له خپلې مور سره يې خبرې کولې....

په ځېر مې ورته وکتل، د نجلۍ مخ ته سهارنۍ ژېړې وړانګې سيخې وې، پر سپينو غومبرو يې د ښو تور سيوري پراته ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

زرو یودم راته وکتل، ژر مې دېوال ته ولاړ لرگی راکوږ کړ، لرگی دروند و، یو گام شاته شوم، لرگی کړکۍ ته له پرې شوې ځایه لاندې ولوېد، له درب سره غوا وترهېده، ښځې په بېړه لرگي ته وکتل، ځان مې تر دېوال پټ کړ.
د ښځې بونگی مې واورېد، ور ومې کتل، غوا کراره ولاړه وه، د دیگ پر تل باندې د شیدو د دارو د لگېدو غږ راته.
زرو ته مې وکتل، خندل یې.
د لمر وړانگې تودې شوې، بېگانی ماشوم له پیالو سره راغی، وار له واره مې د لیندې دوه غاښی ورته ونیو، ماشوم غوټه کړه، دوه غاښی یې زما له گوتو وایست، په خوند یې وویل:
_دا دې څه وخت جوړ کو؟
دسترخوان مې خلاص کړ، وچ تود پاستی پکې پروت و.
ماشوم ته مې وکتل، له لیندې څخه یې زوړ دوه غاښی خلاصاوه.
ومې ویل:
_نوم دې څه دی؟
_شریف الله!
چایجوشه مې راواخیسته،د شیدو چای و، خو مالگه یې ډېره درلوده، ومې ویل:
_دا چای دې ادې پوخ کړی؟
ماشوم په نوي دوه غاښي رابږ تاړه...
لینده مې ترې واخیسته، ومې تړله. ماشوم لینده کش کړه، تندی یې تریو شو:
_د لیندې په تړلو نه پوهېږې! یوه خوا یې لنډه ده.
لینده مې بېرته خلاصه کړه، له سره مې وتړله، ماشوم په لینده کې یوه وړه تېږه کېښوده، لینده یې چوترې ته ونیوله، کړنگ شو، بدنۍ لاندې راولوېده.
زرو په چوتره کې ودرېده، په لوړ غږ یې وویل:
_اې چینجیه، ودرې، نیکه به درسره گوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

زرو بدنۍ ور واخیسه، د اور خونې ته ننوته.
ومې خندل:
_نو ته چینجی یې؟
د ماشوم غومبرې سره شول:
_خو چینجو خوړم.
یودم یې خبره واړوله، لینده یې کش کړه:
_اول به د بمبرو ځاله پرې ولم.
ومې خندل:
_پرونی حال دې هېر شو! پزه دې اوس هم.....
په خبره کې راولوېد:
_هغه خو دوه غاښی سم نه و، تیږه د ځالې تر څنګ ولګېده، خو دا وار...
غلی شو، د پاستې ژۍ یې ور پرې کړه، په ډکه خوله یې وویل:
...خو دا وار ستن هم نه رانه خطا کېږي.
ټوخی مې واورېد، ماشوم په بېړه لینده په جیب کې واچوله. حاجي نواب و، راغی، مخامخ په اره شوې دړه راته کېناست، ماته یې وکتل، ویې ویل:
_کامرانه بچو، د کوټې یوې دروازې تاو کړی، سمه نه پورې کېږي. بیا یې په کراره وګوره.
ومې ویل:
_سمه ده حاجي صیب، بس، نیمه پیاله چای پاتې دی.
حاجي خپل لمسي ته مخ ور واړاوه:
_شریفه، بیا یې درسره راوله.
ورو ولاړ شو، له کوټې ووت.
شېبه ووته، ماشوم یو دم ترپ کړل، کړکۍ ته ودرېد، پورته یې وکتل، په خوند یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

_د شامتورو سېل دی.

منډه یې واخیسته، پسې غږ مې کړ:

_چېرته؟

په منډه کې یې راته وویل:

_د کور مخته د لښتي پر ژۍ اموخته دي، پرون مې هم وار پرې وکو.

پیاله مې کېښوده، زړور چوترې ته ورغلم، دومره باک یې نه راته، د نجارۍ له پاره ډېرو کورونو ته ورغلی وم، په یوې خبرې مې سر خلاص و، زموږ خلک کسبگر خپل سیال نه گڼي، له ډم، نجار، زرگر . پښ... څخه یې سترگه نه کېږي. نه څوک مخ ترې پټوي او نه یې هم په سیالانو کې شماري.

په چوتره کې مې یوه ناره ونیوله:

_حاجي صیب!

له یوې کوټې د حاجي غږ راغی.

_راځه!

ورغلم، حاجي د کوچیني دالان او کوټې تر مینځ په وره کې ولاړ و.

د کوټې دروازه مې پورې کړه، ځای ته نه ورتله.

حاجي وویل:

_هر څړمونی یې همدا حال وي.

ومې ویل:

_د ژمي په وتو سره ځینې ورونه تاو پیدا کوي.

کېناستم، د دروازې لاندنۍ څنډې ته مې رنده ونیوله، د حاجي غږ مې واورېد:

_زرو بچو، پیالې ټولې که.

نجلۍ ته مې لار ورکړه، د ټکري پسته پیڅکه یې زما پر مخ تېره شوه.

حاجي وخندل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

_یاره کامرانه! پلار دې سم پرنگی دی، غلط یې کړم، د نجاري دا کارونه په دومره ډېره اجوره نه ارزېدل.

تر ځنګ مې زرو ته وکتل، له دسترخانه یې پیالې ټولولې.

ومې ویل:

_حاجي صیب، دا قیمتي نه وینې، ولور دې اتو لکو اوغانیو ته رسېدلی. چې پلار مې تا یا کوم بل څوک غلط نه کړي، نو ځنګه به خپل یواځیني زوی ته کوژده کوي؟

حاجي وخندل، زرو ته مې وکتل، پر شونډو یې موسکا پرته وه.

زرو ووته، دروازه جوړه شوه.

سړی غلی شو، طوطي یې پر ځمکه کېناوه، د باندې ووت، لمر تر غره پټ و، د شنو ونو پر سر، کتار زاڼو وزرونه وهل...

سړی بېرته خپل ځای ته راغی، ودرېد، له لمانځه وروسته یې طوطي ته وکتل، مات وزر یې له ځانه بېل نیولی و.

سړی ورغی، له جېبه یې مات چهارمغز را وایستل، ویې ویل:

_نن به په همدې ګذاره کوو.

اوږد وغځېد، ویې ویل:

_د حاجي نواب په کور کې مې د نجارۍ یوه هفته ووته، یوه ورځ ستړی شوم، ماسپښین مې سر ولګاوه، سترګې مې سره ورغلې، خو یودم چیغې شوې، کېناستم، زرو لوڅ سر منډې وهلې، د ځا سر ته ودرېده، تېره کوکه یې تر خولې راووته:

_هلئ! نادر ځا ته ولوېد.

منډه مې واخیسته، اوبو ته مې وکتل، تیاره وه. د بوکې په پړي پسې مې لاس ونیو، لاندې کښته شوم، په خاورو کې کېندل شوې زینې لندې وې، پښه مې وښوېده، ځان مې کابو کړ، تر اوبو پورته ودرېدم، څلور، پنځه کلن ماشوم په بوکه پسې لاسونه نیولي وو.

ماشوم مې تر ولي ونیو، د هغه ځېرې ته مې وکتل، سترګې یې رډې راختلې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

ماشوم مې اوږې ته راپورته کړ، غاړې ته مې سرې اوبه راغلې، چیغه مې کړه!

_هلک ښه دی.

د زرو د مور غږ مې واورېد، په ژړا کې یې وویل!

_د خدای روی ومنه، دورواغ خو به نه وایې؟

په زحمت پورته وختم، په اخیري زینه کې ګڼ لاسونه راوغځېدل، ماشوم یې زما له اوږې پورته کړ. له څا ووتم، څو کلیوال ولاړ وو، زرو ته مې وکتل، کوچینی ورور یې په غېږ کې ټینګ نیولی و. دې او ماشوم دواړو ژړل....

بېرته کوټې ته لاړم، غاړه مې په څادر وچه کړه، د حاجي نواب غږ مې واورېد، غږۍ مې اوږده کړه، حاجي د خپل لمسي پر سر لاس ایښی و، له یوه کلیواله یې په څا کې د ماشوم د لویدو کیسه اورېدله.

زرو په بېړه خپل ورور ور واخیست، په چوتره کې یې لمر ته لوڅ لغړ ودراوه، وچې جامې یې ور واغوستې.

انګړ ته ډله ښځې راغلې، نارینه د باندې ووتل، ښځې چوترې ته ور وختې، د زرو له مور سره ودرېدې، یوه شېبه یې شکرونه وایستل، بېرته د باندې ووتې.

مازدیګر مې کار بس کړ، شریف چای راووړ، عجیبه وه، د معمول خلاف دوې پراټې هم ورسره وې. ماشوم وار له واره په خوند وویل:

_یوه شامتوره مې بوخه راواړوله.

ومې ویل:

_دا پراټې چا درکړې؟

_خور مې.

غلی شو، یو دم یې وویل:

_ساخت ( په لینده کې د ډبرې د اېښودو ځای ) جوړولی شې؟

ومې خندل:

_وبه یې ازمایم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## زرو

ليکوال: نصیراحمد احمدي

ماشوم منډه واخیسته، شپږه وروسته يې یو بوټ راووړ، ويې ویل:

_چرم دی، ښه ساخت ترې راځي، نه؟

بوټ مې را واخیست، نوی و.

ومې ویل:

_دا دې له کومه کو؟

_د نیکه بوټ دی، ژمی يې په پښو کوي.

ومې خندل:

_که يې پوښتنه وکړه بیا؟

د ماشوم تندی تریو شو:

_تر هغه وخته به يې هېر وي.

ومې ویل:

_نوی بوټ مه خرابوه، د ساخت له پاره به یو بل څه پیدا کم.

د باندې مې وکتل، تر چوترې لاندې زړه چرمي ښپلۍ پرته وه. ماشوم مې پسې ولېږه، ښپلۍ يې راوړه، د رندې پر ژۍ مې چرم ترې واړاوه، ګلالی ساخت مې ورته جوړ کړ.

ماشوم لینده وتړله، کش يې کړه، په خوند يې وویل:

_اوس نو سم ټوپک شو.

شکېدلې ښپلۍ يې ور واخیسته، له کوټې ووت.

له چوترې د زرو له غوسې ډک غږ راغی!

_چینجیه، زما په ښپلۍ دې څه کړي؟

ور ومې کتل، زرو په لاس کې شکېدلې ښپلۍ نیولې وه.

جارو يې ور واخیسته، ماشوم په منډه نویو کوټو ته راغی، زما تر څنګ ودرېد.

په وره کې مې د زرو غږ واورېد:

_خدایکه رانه خلاص شې.

ور ومې کتل، د زرو د ګلدارې لمنې څنډه ښکارېدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

بوټ مې ور واچاوه، بوټ د وره له چوکاټ سره ولګېد.
ومې ویل:
_ورور دې له دې ساخت جوړاوه.
بوټ ته سپین لاس ور وغځېد، زرو په ټیټ غږ وویل:
_ودرې، نیکه به دې کار کوي.
یوه شېبه غلې وه، وروسته یې وویل:
_کور ودان، که ته نه وای، زما کوچینی ورور به چا له ځا را ایست!
سړي وټوخل، طوطي ته یې وکتل، مړې سترګې یې ورته نیولې وې.
سړي په خوند وویل:
_ سهار چې کله له جوماته د کار ځای ته ورغلم، د ناولو جامو تړلې غوټه مې نه وه. د چایو په وخت کې مې له شریف څخه پوښتنه وکړه، ماشوم وویل چې د جامو غوټه یې خور ور واخیسته، ماخستن یې پرېمینځلې، اوس هم د کوټو تر شا پر وچو لښتو هوارې دي.
د لسو بجو ناشته حاجي نواب راوړه، چایجوشه، دسترخوان او ګیلاس یې پر غولي کېښودل، ځادر یې خلاص کړ، یو جوړ اوتو شوې جامې پکې پرتې وې.
ویې ویل:
_زرو ویل چې په غوټه کې د جامو اوتو خرابېږي، بس، چې دا خیرنې شوې، شریف ته یې ورکړه چې کور ته یې یوسي او یو بل جوړ کالي درته راوړي.
حاجي وټوخل، زما پر اوږه یې لاس کېښود، په ټوخي کې یې وویل:
_نجاري هسي یوه بانه ده، بس، خدای زما د لمسي د ژغورلو له پاره رالېږلی وې.
غرمې ته مې سړه تبه شوه، سر او اوږو مې درد کاوه، د کار کولو سېکه نه وه را پاتې.
یوه بجه شریف راغی، پتنوس یې کېښود، ښوروا وه..خو دوه ګولې مې هم ونه خوړې.
شریف کاسې ته لاس ور وغځاوه، په ډکه خوله یې وویل:
_ترخه خو نه ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومې خندل:

_نه.

_نو بیا دې ولې تندی خولې دی؟

ومې ویل:

_تبه مې ده.

شریف وویل:

_د بایسکل ځنځیر لنډولی شې؟

_هو.

تندی یې تریو شو:

_له مکتبه راتلم، بایسکل ځنځیر واچاوه. نه کېده، تر کوره مې راکش کو.

ماشوم غلی شو، یودم یې وویل:

_رایې ولم؟

_څه؟

_بایسکل.

ومې ویل:

_نه، اوس ناروغ یم.

ماشوم په بېړه له کوټې ووت. بېرته راغی، په لاس کې یې د ګولیو پاکټ نیولی و.

ومې ویل:

_دا د څه له پاره دي؟

_نه پوهېږم، زرو راکړې، ویل یې چې تبه پرې کوي.

یوه ګولۍ مې خولې ته واچوله، خو مازدیګر ته مې حال لا پسې بدتره شو، پښې مې مړې وې، سر مې ګرځېده، د ولاړېدو توان مې نه درلود.

یو وخت مې اوږه وخوځېده، سترګې مې رڼې کړې، حاجي نواب مې سر ته ناست و، د څراغ په ژېړه رڼا کې یې د مخ ګونځې ژورې ښکارېدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګلي مې غولي ته اړم کړي، خو حاجي مې پر اوږو زور راووست، بېرته پرېوتم.
حاجي په خندا کې وويل:
_کامرانه بچو، ماته خو ډېر پياوړی ښکارېدې، خو يوې تبې را پرېيستې.
يودم يې جدي څېره ونيوله.
_وه د خدای بنده، چې تبه دې وه، ماته به دې څوک رالېږلي و، څه په ډاګ خو نه وې پروت. اوس مې هم په جومات کې تر سترګو نه شوې، خدايي دلته راغلم، په خوب کې دې زګيروي ختل.
حاجي چيغه کړه!
_شريفه.
ماشوم له پتناسه سره راغی.
حاجي وويل:
_د شيدو چای يې درته پوخ کړی.
جېب ته يې لاس کړ:
_ها، دا ګولۍ به دې ښه کړي.
ګولۍ مې وخوړه.
حاجي ورو ولاړ شو، ګېلاس مې کېښود، لاسي ساعت ته مې وکتل، جومات ته د تګ له وخته درې ساعته تېر ول. په زحمت کېناستم، بوټونه مې په پښو کړل، درب شو، رېاولړزېده، دوړه د څراغ پر پلته راغله.
ور ومې کتل، د شريف پښو ته پلاستيکي فرش پروت و.
ماشوم وويل:
_نيکه مې ويل چې تبه دې ده، نن شپه همدلته پرېوزه.
ماشوم د لرګي اره شوې وړې ټوټې په پښه ووهلې، فرش يې هوار کړ، بېرته له کوټې ووت. شېبه وروسته يې توشکه او بالښت راووړ، توشکه يې هواره کړه، کېناست، ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

_نو بایسکل پاتې شو؟
له چوترې د زرو غږ راغی!
_شریفه!
ور ومې کتل، زرو له څراغ سره ولاړه وه.
شپه وروسته مې د شریف غږ واورې :
_دا کمپله نوې ده، په خاورو کې به سپېره شي.
زرو په ټیټ غږ وویل:
_چینجیه، تا خو نه ده اخیستې.
ماشوم راغی، کمپله یې کېښوده، ویې ویل:
_دا کمپله مې پلار له عربو راوړې ده.
پرېوتم، کمپله مې پر پښو راکش کړه. تر دې دمه مې دومره پسته کمپله نه وه لیدلې.
سهار مې د شریف غږ واورېد، سترګې مې رڼې کړې، لمر هسک ولاړ و. ماشوم پتنوس کېښود، ماته یې وکتل، ویې ویل:
_کمپله دې سپېره کړې ده.
پښو ته مې وکتل، د کمپلې پیڅکه له پلاستیکي فرشه وتلې وه. کیناستم، کمپله مې راټوله کړه.
ماشوم وویل:
_دا کمپلې دولس دانې دي، ټول یو رنګ لري، موږ یې یوائې میلمنو ته ور وړو.
ومې ویل:
_نو ماته مو ولې راوړه؟
_خدای خبر، زرو راولېږله.
ورو ولاړ شوم، پښې مې سپکې وې، خو په اوږو کې مې لا مړ درد احساساوه.
بدنۍ مې راواخیسته، چوترې ته ووتم، مخ ته مې څو لپې اوبه ور واچولې، لستوڼۍ مې پرې راکش کړ. بېرته کوټې ته راغلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشوم په تريو تندي وويل:
_اوس به مکتب ته په پښو ځم!
ومې خندل، ماشوم مې په رينج او پلاس پسې ولېږه. پياله مې راډکه کړه، د ماشوم غږ مې واورېد:
_بايسکل کوټې ته درولم؟
د باندې ووتم، د بايسکل ځنځير مې خلاص کړ، يوه حلقه مې تر وايسته، بېرته مې ور واچاوه.
ماشوم په خوند وويل:
_سم شو؟
_هو، خو لږ تېل غواړي.
ماشوم په بېړه کوټې ته ننوت. بېرته راغی، د شاړشمو له تېلو ډک بوتل يې راته ونيو.
ځنځير مې غوړ کړ، ماشوم وويل:
_زه به يې کش وګورم.
پر بايسکل يې پښه واړوله، دوه ځله تر څا راوګرځېد، ويې ويل:
_بد نه دی، خو د پخوا غوندې کش نه لري.
بېرته د کار ځای ته راغلم، کمپله مې ټوله کړه، د لرګيو ځينو تختو صافېدا غوښته، چاره نه وه، په وچ زور مې ملا ورته وتړله.
مازديګر مې د سطل کړنګ واورېد، ور ومې کتل، شريف و، ستمی يې خوت. سطل ته مې وکتل، له اوبو مړه تاوونه پورته کېدل.
ماشوم وويل:
_د لامبلو له پاره مې درته راوړې.
منډه يې واخيسته، شېبه وروسته بېرته راغی، په لاس کې يې صابون او توليا نيولې وه.
ومې ويل:
_تودې اوبه دې ولې راوړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## زرو

لیکوال: نصيراحمد احمدي

ماشوم وویل:

ــزرو راکړې، ويل يې چې پاک کالي له لمبلو پرته مه اغونده.

ماشوم د باندې ووت.

تشناب ته ننوتم، دېوالونه يې خام ول، خو غولی سيمنټ شوی و. ولمبېدم، جامې مې بدلې کړې، ماښام جومات ته لاړم، تبه مې پرې وه، ولي مې هم درانه نه راته اېسېدل.

سړی غلی شو، طوطي ته يې وکتل، په تياره کې سم نه ښکارېده.

د طوطي تر مښوکې يې گوته لاندې کړه، طوطي ټوپ کړل، د سړي له ټټره وښويېد.

سړي طوطي ور واخيست، د باندې ووت، پر يوه هواره ډبره کېناست، پورته يې وکتل، د سپوږمۍ رڼا پر نږدې ستورو پرته وه، خپ ښکارېدل، خو ازادو ستورو تېزه رڼا کوله.

يو دم يې وخندل، خوله يې اسمان ته ونيوله، چېغه يې کړه!

په غره کې د شغالانو کوکې پورته شوې.

سړي وخندل:

ــزه او زرو به ډېر وخت، ماښام تياره همدلته ناست وو، ستورو ته به مو کتل. زرو به يودم ناره کړه، د هغې له نارې سره به د غره شغالانو کوکې کړې، زرو به خندل، د شغالانو له انگولاوو به يې خوند اخيست.

سړي سړه سا وايسته:

ــشغالان بختور دي، د زرو ناره يې اورېدلې وه.

ولاړ شو، طوطي يې ور واخيست، څو گامه مخکې لاړ، له ونو لويدلې وچ ښاخونه يې راټول کړل، بېرته هوارې ډبرې ته رواگرځېد، وچ واښه يې تر لرگيو لاندې کړل، لايټر يې ورته ونيو، وچو وښو خوله واخيسته. طوطي ته يې وکتل، په سترگو کې يې سره لمبه ښکاريدله.

سړي خپل لاسونه اور ته ونيول، ويې ويل:

ــزه او زرو په همدې وخت کې دلته راغلو، واوره د غرو له لمنو ټوله وه، خو لا هم سوړ باد لگېده. موږ به دلته اور بلاوه، تر ډېره به ورته ناست وو، انگار به مو غار ته ووړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکوال: نصیراحمد احمدي

سړي وټوخل، ټوخی یې تېز شو، له خولې یې لاړې راغلې، اوږد وغځېد، لستوڼی یې پر خوله تېر کړ.

چوپه چوپتیا وه، کله کله به یوه کونګ ناره کړه.

سړي سره سا وایسته، ویې ویل:

_درې ، څلور ورځې ښه وم، خو یو ماښام بیا تبه راباندې راوګرځېده، د شپې لړزې ونیولم، سهار ته په جومات کې د مزدور سپین ږیرې تندی تریو و، ویل یې چې ټوله شپه دې زګیروي ختل....

تر غرمې مې ایله د یوې دروازې چوکاټ جوړ کړ، نه کېده، سېکه رانه ختلې وه. مبایل مې راواخیست، چارج نه و پکې پاتې.

دوه ځله مې د باندې وکتل، بایسکل نه ښکارېده، شریف لا له مکتبه  نه و راغلی.

کېناستم، د زرو کوچنی ورور په چوتره ګرځېده، لمن یې ټوله نیولې وه، پرتوګ یې نه و اغوستی، ژامه یې خوځېدله....

ورغږ مې کړل. راغی، تر کړکۍ لاندې راته ودرېد، په لمن کې یې وچه ډوډۍ پرته وه.

تلیفون مې ورته ونیو، ومې ویل چې کورته یې یوسه، چارج یې کړه.

د زرو دوی د کور پر سر دوې شمسیانې ولاړې وې، برق یې درلود، پخوا مې هم مبایل د چارج له پاره شریف ته ورکړی و.

ماشوم  وچې سترګې راته نیولې وې.

د زرو غږ مې واورېد:

_نادره، مبایل راواخله.

ماشوم هماغسې ولاړ و.

_زرو راغله، مبایل یې زما له ګوټو وایست. بېرته چوترې ته وخته، په وره کې یې مخ راواړاوه، کوټې ته ننوته.

مازدیګر ته بیا لړزې واخیستم، پلار ته مې تلیفون وکړ، را یاده یې کړه چې سهار وخته درځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

ليکوال: نصيراحمد احمدي

ماخستن د سپين ږيرې د شکايت  له لاسه د بوټو د ايستلو په ځای کې پرېووتم.
سهار مې پلار راغی، ويې ويل چې ډاکټر ته لاړ شه، تر هغو مه راځه چې ښه شوی نه يې.
له شريفه مې خپلې جامې وغوښتې، لنډه شېبه وروسته يې ترلې غوټه راوړه، د کلاه په دروازه کې مې ورمېږ کوږ کړ، زرو په چوتره ولاړه وه. ماته يې کتل...
طوطي يودم کرېږې کړې، سرې ډبرې ته لاس ور وغځاوه، شاوخوا يې وکتل، گيدړه غار ته نږدې ولاړه وه، سترگو يې سپينه رڼا کوله.
سرې ورو پلتۍ ووهلې، طوطي يې پر خپل ځنگانه کېناوه، گيدړې ته يې وکتل، نه وه.
سرې د اور پر سر څو وچ لرگي کېښودل، لمبه تر وچو لرگو راوگرځېده. ورو يې وويل:
_نېغ د ولسوالۍ بازار ته لاړم، ډاکتر له معايناتو پرته دوا راته وليکله، د تبې علايم يې ملاريا گڼله.
 غرمه خپل کور ته راغلم، ټول کور مو يوه خيرنه کوټه، وړوکی دهلېز  او تشناب و. نيغ کوټې ته ننوتم، پلار خپله بستره نه وه ټوله کړې، کاسه او پياله ناولې پراته وو.
پښې مې مړې وې، خو مجبوره وم، لومړی مې کوټه جارو کړه، بيا مې د گاز پر ډبه د ناولو لوښو د پرېمينځلو له پاره اوبه کېښودې.
اوږد وغځېدم،  تېرو يادونو ته لاړم، يو وخت به په همدې کوټه کې له مور، پلار او کوچني ورور سره گډ ويدېدم، خو وروسته چې يو څه غټوکی شوم، د خوب له پاره به له مشر ورور سره  جومات ته تلم.
د دروازې ټکېدا له تېرو يادونو راوايستم، ورغلم، ادکې ترور  پر تندي ښکل کړم، ويې ويل چې ماشومانو کور ته د راتگ په وخت ليدلی وې.
ادکه ترور عمر خوړلې ښځه وه، زموږ په گاونډ کې اوسېدله، زما د مورکۍ له مرگه وروسته يې پر موږ پام وو، ځکه مې ادکه ترور بلله.
غرمه يې د شيدو چای او وچه ډوډۍ راوړل، را ياده يې کړه چې ناروغ يې، د شيدو تود چای به دې هډونه تاوده کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

تر ناوخته ویده وم، ماښام جومات ته لاړم، جمعه تېره وه، د جومات ملا په وره کې په مخه راغی، وار له واره یې راته وویل:

ـسور شوروي، جمه تېره شوه، ته اوس راغلې!

ملا سپین ږیری و، له شلو کالو راهیسته یې زموږ د کلي ملایي کوله، کلیوال خوشاله ورنه ښکارېدل، ویل یې چې له نیستۍ سره سره سېرچشمه انسان دی، د ځمکې د حاصلاتو په وخت مو دومره نه ځوروي، تر اوسه درمند ته نه دی راغلی چې د غنمو تللو ته کینې، خروارونه وشمېرې او د غنمو د اندازې له مخې خپله برخه بېله کړي. خو له ما سره یې نه لګېده.

زه له رنګه سور وم، سور شوروي به یې بللم. لومړی یې زما خپل نوم راته اخیست، کامران، خو وروسته مې نوم بدل شو، سور شوروي. دا نوم پخوانۍ کیسه لري، یو وخت مې د کوچیني ورور تبه شوه، د څلورو ،پنځو کالو وو، په دوو ورځو کې یې د سرو غومبرو پر ځای هډوکي راوختل، پلار مې همدا ملا ورته راووست، ملا صیب مې د ورور تبه وچکۍ وبلله، ویې ویل چې د غزني د اولیاوو په زور به یې زما دم ټک پټری کړي.

پلار مې له کوټې وایستم، خو شېبه وروسته یې بېرته راغږ کړل، پیسې یې راته ونیولې، ویې ویل چې د کلي له دوکانه درې اصیل چاقوګان راوړه.

دوکان ته مې منډه کړه، هغه وخت زړې پیسې وې، یو اصیل چاقو یې په اتیا زره اوغانۍ را بیه کړ.

د پلار په راکړو پیسو دوه چاقو ګان کېدل، دربیم مې په پور واخیست. د کور دروازې ته له مشر ورور سره یو ځای ور ورسېدم، د هغه په لاس کې هم دوه چاقو ګان ول، رایاده یې کړه چې دا دوه پنج ټکه چاقوګان یې له سردار خانه امانت راوړل.

کوټې ته ورغلو، د ملا صیب تر مخ یو چاقو او د پیازو د سپینولو زړه چاړه پرته وه.

چاقو مې وپېژاند، زما د پلار چاقو و، پلار به مې یواځې د نوکانو اخیستلو ته له صندوقه را ایست، ویل یې چې چاریکاري چاقو دی، ان د دروازې ځنځیر هم خوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

ملا صیب شپږ چاقو ګان او یوه چاړه ور واخیسته، شونډې یې وخوځېدې، له چاقو ګانو ډک لاس یې خولې ته ور نږدې کړ، له چوف سره یې بیا څه وویل، وروسته یې زما پلار ته اشاره وکړه چې زوړ فرش ټول کړي.

ماشوم یې پر ساړه غولي پرې ایست، په هر چاقو یې یوه لیکه ترې راوایسته...

له کوټې د وتو په وخت کې یې ټول چاقوګان جیبونو ته واچول، چاړه یې په لاس کې وه، زما مور ته یې وویل چې کوټې ته به رڼا نه راځي او ماشوم باید تر څلوېښتو ورځو له ساده چای او وچې ډوډۍ پرته بل څه ونه خوري.

د ملا صیب له تګ وروسته مې مور د کوټې په یوائینی دریڅه کې زوړ بالښت کېښود، ورځ راباندې شپه شوه، د لاس ګوتې نه ښکارېدې. له چوترې مې د پلار غږ راغی، ور ووتم، د پلار تندی تریو و، له مشر ورور سره مې له سردار خانه په پور د راوړو چاقوګانو په اړه غږېده.

مور مې دوه سطله راته ونیول، ویې ویل چې د کلي له کارېزه اوبه راوړه.

کارېز ته نرۍ لار تللې وه، یو ځای ودرېدم، د لارې پر غاړه له شنې سپاندې زموږ د پیازو د چاړې ژۍ راوتلې وه.

چاړه مې کورته راوړه، پلار مې سپک کړم، د ملا صیب د خولې خبره یې راته وکړه، ویل یې چې دم مه بې تاثېره کوه، د دم چاقو او چاړه باید له کوره بهر تر خاورو لاندې شي.

پرچاړه مې د کور مخې ته خاورې واړولې.

په درېیم سهار مې مور چیغې کړې، په بېړه کوټې ته ورغلم، مور مې د خپل کوچني زوی سر پر خپل زنګانه ایښی و، ژړل یې.

پلار او مشر ورور مې د نجارۍ دوکان ته تللي وو، مجبور شوم، ګاونډیانو ته مې چیغه ور ورسوله. راغلل، یوه د ماشوم نبض وکوت، ویل یې چې ساه پکې چلېږي.

بل کته شوې خره راوسته، نه مې هېرېږي، مور مې د خرې د کټې پر سر سره بړستن وغوړوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

کلیوالو زما ورور ځنځولی خرې ته ور پورته کړ. ما د خرې پړی ونیو، خو یوه ځوان راته وویل چې ډاکټر لیږې دي، کوچنی یې، نه شې تلای.

ورور ته مې وکتل، سر یې پر بړستن لګولی و، د سترګو سپینوالي یې خړه پرده نیولې وه.

له کلي ووتم، پورته پراخه دښته پرته وه، د یوې سپرغې ( د کاریز څا ) پر سر کښناستم، لمر تود و، د ارخېږکو ( زرکو ته ورته یو ډول خړ مرغان چې په دښتو کې ګرځي ) کوړړا خته.

کلي ته مې وکتل، په خړو کورونو کې د جومات مناره سپینه ښکارېدله.

غرمې ته یې زما ورور مړ راووړ ، دومره پوه شوم چې تر ډاکټره نه و رسېدلی.

په هدېره کې ملا صیب نصیحت کاوه، همدا یوه خبره یې ټینګه نیولې وه، ویل یې چې اجل په ډاکټرانو نه راګرځي.

شېبه وروسته هدیره تشه شوه، د څلور کلن ورور پر سر مې څلور خرواره خاوره پرته وه.

د ورور پر قبر پرېوتم، د زړه له اخلاصه مې وژړل....

ورور مې کوچینی و، خوږې خبرې یې کولې، مچو یې په سخته راکوله، ویل یې چې مخ مې لندبږي، خو ما به په یوه ځل پنځه مچې ترې اخیستې، دواړه سره غومبري، تندی، زنه او د پزې څوکه.

د پزې د څوکې په مچو بې یې وخندل، په وړه ژبه به یې راته وویل:

_مردار خوره.

د ورور د مرګ په درېیمه د ولسوالی بازار ته لاړم، سودا مې اخیسته، په یوه دوکان کې مې شناخته چاقوګان ولیدل، ورغلم، د ګوړې د ټوکری تر څنګ زما د پلارچاریکاري چاقو او د سردار خان دوه پنځه ټکه چاقوګان ایښي ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليکوال: نصيراحمد احمدي

دوکاندار شناخته سړی و، ډېر وخت به مې سودا په پور ترې وړه، رایاده یې کړه چې دا چاقو ګان مې ستاسو د کلي له ملا صيبه واخيستل، نغدې مې څلور نيم لکه ور وګڼلې.
مازديګر جومات ته لاړم، ملا صيب ته مې د کليوالو تر مخ ووېل چې د دم چاقوګان مې په بازار کې وليدل.
کليوالو سپک کړم، ماخستن مې پلار يوه جانانه څپېړه راکړه، ويل يې چې په عالمانو پسې دومره لوی تور مه تړه.
بس، له هغې ورځې د ملا صيب راسره ولوېده. کامران په سور شوروي بدل شو.
سړي وټوخل، په سره انګارکې يې لښته ووهله، نيم سوځېدلی دوګن لرګی يې ترې ليرې کړ، شاوخوا يې وکتل، يوه پلنه اوږده تېږه يې راواخيسته، انګار يې پکې ټول کړ، طوطي يې پر اوږه کېناوه ، انګار يې ور واخيست، غار ته ننوت.

(٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

د سهار پر غومبري څه ولګېدل، سترګې یې رڼې کړې، د طوطي ژېړه منښوکه وه.
سړی کېناست، ورمېږ یې کوږ کړ، د غار خوله ژېړې رڼا نیولې وه. ویې ویل:
_اه، لمر راختلی دی.
تر څنګ ایښې پلنې اوږدې تیږې ته یې وکتل، مړې ابرې پکې پرتې وې.
سړی ولاړ شو، له سپینو لیکو ډکه تیږه یې ښکل کړه، طوطي ته یې وکتل، ویې ویل:
_د تګ وخت دی.
غرمه سیند ته ورسېد، ټوپک یې یوې تېږې ته ودراوه، له جېبه یې د ماهیانو چنګک راوایست، یوه ډبره یې واړوله، د چینګک پر څوکه پورې یې سور چینجی وپېیه.
طوطي ته یې وکتل، ویې ویل:
_په تېزو اوبو کې چنګک سر ته راځي، ماهیان به په مړو اوبو کې پسې غواړې.
چنګک یې اوبو ته ورواچاوه، پر یوه هواره ډبره غلی کېناست.
نیم سات وروسته د سرو لمبو پر سر په لنده لښته درې پېیلې ماهیان تاوېدل.
سړي دوه ماهیان وخوړل، درېیم یې د څادر په پیڅکه پورې وتاړه، ماسپښین په جونګړه کې خوب یووړ.
ماښام یې طوطي ور واخیست، د جونګړې په زینه کې کېناست، د زرو قبر ته یې وکتل، پاتې کیسه یې راواخیسته:
_درې ورځې ووتې، تبه مې نه پرې کېده، په څلورم سهار په زحمت ولاړ شوم، سر راباندې وګرځېد، پر مخامخ دېوال ورغلم، نور مې څه نه دي په یاد.
یو وخت مې د یوه ماشوم چیغې واورېدې، په سترګو مې زور راووست، سر ته مې د سپینې چپنې سړی ولاړ و، ستن ( پېچکاري ) یې ډکوله.
یوه هفته د غزني د ښار په ملکي شفاخانه کې وم، پلار مې ویل چې د ادکې ترور لمسي بې هوښه موندلی وې.
له شفاخانې نه د تګ په وخت ډاکټر راته وویل، چې له وجوده دې لا ملاریا سمه نه ده وتلې، له دوا سره به قوي خواړه خورې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

مازدیگر کورته راغلو، پلار مې راته وویل چې د حاجي نواب د کور د کارونو وخت تنگ و، نیمایي مې بل نجار ته په اجاره ورکړل.

سهار ته مې پلار د حاجي نواب کور ته لاړ، ادکې ترور راغله، د سپیلنیو له دودولو سره به یې پزه هم پورته کش کړه، ژړل یې.

غرمې ته مې اوبه تودې کړې، تړلې غوټه مې خلاصه کړه، د زرو په لاس اوتو شوې جامې مې راواخیستې، نه پوهېږم چې ولې! زړه مې نه غوښتل چې د جامو اوتو مات شي.

ماسپښین په دښته کې د سپرغې پر سر کېناستم، په لومړي ځل مې د زرو څېره سترگو ته نېغه نېغه کېدله.

ښه شوم، خو د حاجي نواب کور مې بیا ونه لید، درې میاشتې وروسته مې په ذهن کې د زرو نوم هم نه و پاتې .

خوشاله وم، غم مې نه پېژاند، تر مازدیگره به مې په دوکان کې نجاري کوله، بیا به د مکتب په میدان کې والیبال ته تلم، ونه مې ښه وه، په شوټ کې مې جوړه نه درلوده.

یوه ورځ مې په دوکان کې کارکاوه، زنگ راغی، نا اشنا نومره وه، زنگ د مبایل د شنې تنې له ټینگولو مخکې غلی شو.

مازدیگر مې والیبال کاوه، له دښتې سرې دوړې راغلې، ټولو منډه کړه، ما هم څادر راواخیست، گڼو ونو ته ننوتم. ځای ښه و، دوړې یې له زوره ایستلې.

د دوړو څپه تېره شوه، له گڼو ونو راووتم، د والیبال په میدان کې هېڅوک نه و، د خپل کلي خواته مې مخه کړه، زنگ راغی، غرمنۍ نومره وه، مبایل مې غوږ ته ونیو، د پیالو کړنگ مې واورېد، تلیفون قطع شو.

زنگ مې ورته وواهه، ځواب یې نه راکاوه.

ماښام تیاره مې د کاریز په اوبو اودس وکړ، کلي ته مې وکتل، د ډېرو کورونو په دریځو کې ژېړه رڼا ښکارېدله، یونیم ځای به سپین گروپ هم بل و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

ليکوال: نصيراحمد احمدي

همالته مې ځادر هوار کړ، نيت ته مې شونډې جوړې کړې، تيلفون راغی، تر ډېره يې غبږ نه کاوه، بيا مې ټيټه نری ږړا واورېده، يوه ښځينه ژړغوني غږ راته وويل:

ـ زرو يم، له تا پرته مې مړه بوله.

لاس مې له غوږه ولوېد، پښې مې ولړزېدې، تليفون مې بېرته غوږ ته ونيو، قطع و.

روان شوم، شېبه وروسته د کور دروازې ته ولاړ وم.

مخ ته مې سپينه رڼا راولوېده، سترګو ته مې لاس ونيو، پلار مې په وارخطايي وويل:

ـکامرانه بچو، ښه يې؟

له مخه مې د لاسي بټۍ رڼا ليرې شوه، پلار مې تر مټ ونيولم، جټکه يې راکړه!

ـجنګ دې کړی؟

ومې ويل:

ـنه.

ـنو ولې داسې سپېره يې، خولۍ او ځادر دې چېرته دي؟

روان شوم،پلار مې راپسې غږ کړ:

ـچېرته؟

ومې ويل:

ـخولۍ او ځادر راوړم.

پلار مې څه ونه ويل، ما يوازې په دروازه باندې د ځنځير د لوېدو غږ واورېد.

پر راغلی لار مخکې لاړم، سپينه خولۍ مې له سپېرو خاورو راپورته کړه، ځادر کارېز ته نږدې هماغسې هوار پروت و. همالته کېناستم. تليفون مې را وايست، نومره مې له سره وکتله، هماغه غرمنۍ نومره وه.

يودم مې وخندل، له ځان سره مې وويل:

ـکوم ملګری به مې و، خپل بږغ به يې بدل کړی وي.

بېرته مې د زړه دربا ډېره شوه:

ـنه، نو زرو يې څه پېژندله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

ليکوال: نصيراحمد احمدي

ماخستن تر ډېره خوب نه راته، دوه درې ځله مې راغلې نومره ووهله، تليفون بند و.
سهار له پلار سره د ولسوالي بازار ته لاړم، څټک خطا شو، اخ مې کړل، د مېخ پر ځای مې د خپل کيڼ لاس بټه گوته وهلې وه.
پلار مې په بېړه راغی، زما گوتې ته يې وکتل، په غوسه يې وويل:
_پکر ( فکر) دې چېرې دی؟
پلار مې له خپل څادره يوه نری تراډه وايسته، خو وينه نه تکيه کېده، دواخانې ته ورغلم، زما پر گوته يې سره دوا ووهله، سپينه ټوټه يې ترې تاو کړه.
بېرته د نجار ي دوکان ته راغلم، پلار مې په سړه سينه وويل:
_کامرانه بچو، له تېر ماښامه سم نه راته ښکارې، رنگ دې هم ژېړ دی، بيا خو به ملاريا نه وي درباندې راگرځېدلې؟
پلارته مې ډاډ ورکړ چې ښه يم.
اره مې راواخيسته، پلار مې يودم زما لاس ونيو، چيغه يې کړه!
_پام، جوړ شوی چوکاټ دې اره کړ.
ارې ته مې وکتل، غاښونه يې په ښويه لرگي کې ننوتي و.
پلار مې پر اوږه لاس راکېښود، ويې ويل:
_ماته سم نه ښکارې، کورته لاړ شه.
ومې ويل:
_ښه يم.
پلار مې سروخوځاوه، سوان يې ور واخيست، د نجارۍ د دوکان په بل سر کې کېناست، سوان يې د ارې پڅو غاښونوته ونيو.
د باندې ووتم، تر سړک واوښتم، ولاړ موټر ته مې ډډه ووهله، مبايل مې غوږ ته ونيو، د مقابل لوري ټيټ غږ مې واورېد:
_ښه يې؟
ومې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

_څوک یاست؟

_زرو.

_دروغ وایې!

غږ یې ژړغونی شو:

_هو، دروغ وایم.

تلیفون وچونګېد، قطع شو.

بیا مې په شنه بټنه ګوته کېښوده، زنګ ورته ، خو ځواب یې نه راکاوه.

ګام مې واخیست، د برک نیولو له تېرې کڅا سره د مردارو اوبو لښتې ته ولوېدم.

چیغې شوې، خلک راغلل، یوه راپورته کړم، ورون مې درد کاوه.

د پلار چیغې مې واورېدې، د تونس موټروان ته یې سوکان نیولي وو. تر خولې یې پوچ، پاش راوتل...خو موټروان یوه خبره کوله، ویل یې چې زه نه یم ملامت، سړی یو ناڅاپه سړک ته راغی.

ورغلم، له موټروانه مې ښښنه وغوښته، پلار مې په حیرانۍ راته کتل...

د نجارۍ له دوکانه مې له اوبو ډکه شنه پلاستیکي بدنۍ راواخیسته، د باندې راووتم، اوبه مې پایڅې ته ونیولې، توره بویناکه خټه یې ورسره یووړه.

د اوبو پر توره لیکه د پلار زاړه بوټونه ودرېدل، سر مې هسک کړ، پلار مې مجبوره کړم چې کورته لاړ شم.

پاو وروسته د ټیټې غونډۍ پر سر ولاړ وم، د بازار د سړک دواړو غاړو ته سپېره دوکانونه ښکارېدل، په ګنج ( د ځارویو د پلورلو ځای ) کې نرۍ بړبوکی تاوېدله.

له غونډۍ کښته شوم، په لمنه کې دوې تورې کیږدۍ ولاړې وې، څو وړو خیرنو ماشومانو په یوه کوچني وري پسې منډې وهلې. وری او ماشومان تر کیږدۍ راګرځېدل....

د کلي په فصله کې مې ځانته پام شو، نه پوهېدم چې یونیم ساعت لار مې په څومره وخت کې وهلې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

پر یوه پوله کېناستم، پټي سپېره ول، یو ځای د تراکتور له سلنسره توري لوخړې ختې، د مني کښت ته یې د غنمو د کرلو له پاره ځمکه اړوله.

زړه مې طاقت نه کاوه، مبایل مې غوږ ته ونیو، د یوه ماشوم اشنا غږ راغی:

_هلو، څوک یې؟

زړه مې غټ کړ:

_حاجي نواب غواړم.

ماشوم وویل:

_نیکه مې په کور کې نشته، دا نومره دې له کومه کړه؟

ښځینه ناره مې واورېده:

_چینجیه، زما مبایل دې ولې در اخیستی؟

تلیفون مې قطع کړ، د زړه ټکان مې ډېر شول، له شکه پرته زرو وه.

شېبه وروسته زنګ راغی، ښځینه ټیټ غږ وویل:

_اوس خو یوه شوې چې دروغ نه وایم، ته راباندې ګران یې.

تلیفون قطع شو.

_اه! په اته ویشتو کالونو کې په لومړي ځل یوې نجلۍ راته وویل:

"ته راباندې ګران یې " .

زړه مې بې واره درببږده، خو دا ځل دا دربا بده نه راباندې لګېده، یو نری خوند مې ترې اخیست، ځان مهم راته ښکارېده، وړه خبره نه وه، یو خوار نجار پر یوې ښکلې نجلۍ ګران و.

سړی غلی شو، د زرو پر قبر یې خپله زنه ولګوله، ورو یې وخندل، څو ځله یې یوه خبره تکرار کړه:

یو خوار نجار پر یوې ښکلې نجلۍ ګران و، یو خوار نجار پر یوې ښکلې نجلی ګران... یو خوار نجار په ....

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

یودم یې وخندل، بېرته یې تندی تریو شو، پر ورو ډېرو یې شونډې کېښودې، سر یې پورته کړ،سړه سا یې وایسته:

_اه! ژونده څه کانې دې وکړې.

پر قبر پرېووت، سترګې یې پټې کړې، ویې ویل:

_ژوند مې بدل شو، نه کارخوند راکاوه او نه والیبال، له ډوډۍ به ژر ولاړېدم، تل به مې ګوښه ځای پسې غوښت. ژوندی سات به هغه و چې له زرو سره به مې په تلیفون کې خبرې کولې.

خو دا غرېدا ډېره نه وه، زرو وېرېدله چې څوک ورباندې پوه نه شي.

یو ځل مې د لیدو هیله ترې وکړه، خو د زرو خوښه نه وه. ویل یې چې کلي ته به نه راځې.

دوه ځله مې پلار لاس نیولی تر ښاره بوتلم، وینه یې معاینه کړه، ملاریا نه وم.

یوه ورځ یې په دوکان کې تر پایځې ونیولم، په اشاره یې وپوهولم چې کېنه.

پلار مې وویل:

_کامرانه بچو، څه خبره ده؟

ومې ویل:

_هېڅ.

_ناروغ یې؟

_نه.

_پورووړی ؟

_نه.

_مینن؟

زړه مې ولړزېد:

_نه.

پلار مې چیغه کړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## زرو

ليکوال: نصيراحمد احمدي

نو يودم داسې څه ټکه درباندې راپرېوته؟ همدا اوس د ښوروا په کاسه کې وختې.
بوټ ته مې وکتل، په څوکه پورې يې لنده ډوډۍ سرېښ وه.
د څنګ قصاب راغی، په وره کې ودرېد، زما پلار ته يې وکتل، په بېړه يې وويل:
_د کونډې زو، څه خبره ده، ناره دې تر بازار تېره شوه.
قصاب زما دپلار همزولی و، ټوکې يې سره لرلې.
پلار مې غلی و.
قصاب وخندل:
_نن خو دې سم د مينده پسه مخ نيولی دی، خير، مخکې مې په يوه چاغ سخوندر چاړه تېره کړه، که کورته تلې، يو پاو غوښه درسره واخله.
قصاب بېرته خپل دوکان ته لاړ.
پلار مې وويل:
_ګوره بچو، دا څه موده مې درباندې پام دی، کار ته دې لاس نه ور ټيټيږي، غلی يې، نه څه خورې ، نه څه څښې، لمونځ دې هم پرېښی، ماته ووايه، که کوم غم لرې په ګډه به يې سپک کړو.
پلار مې د دوو زامنو مرګ ليدلی و، ځکه يې پر ما ډېر پام کاوه، ان په نوي زلميتوب کې به چې کله په اوږی کې له پلار سره له دوکانه کورته تلم، سيوری يې راباندې کاوه، د لمر خوا به ده نيولې وه، خو دا غم مې نه شوای ورسره شريکولی.
په لنډ وخت کې مې پياوړی وجود بې سېکه شو. اره، څټک او رنده درانه راته ايسېدل، له دوکانه به وختي وتم، دښتې او يواځيتوب ته به مې پناه ور وړه.
منی تېر شو، د جدي په وروستيو کې واوره او ورېده. کار کم و، دوکان ته ډېر نه ورتلم.
يو سهار تليفون راغی، زرو وه، په ژړا کې يې راته وويل چې د ترور سړی يې راغلی و، خپل زوی ته يې غواړي.
ټېکه نه راتله، د پلار تر راتګه مې صبر نه شوای کولای، په لوېشت واوره کې مې د ولسوالي بازار ته مخه کړه. بوټونه مې ټيټ وو، واوره ور لوېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکوال: نصیراحمد احمدي

لس بجې دوکان ته ورسېدم، د پلار تر څنګ ودرېدم، راپام یې نه شو، پر یوه پرې شوې شلګون یې رابرټېپ نښلاوه.

ومې ویل:

_کوژده کوم.

پلار مې سر پورته کړ، راوتلې سترګې یې له حیرانۍ ډکې وې. ولاړ شو. مخامخ راته ودرېد، ویې ویل:

_په سد یې؟

د کار پر مېز کېناستم، بوټ مې وایست، په جرابو پسې نښتې واوره مې وڅنډله.

ورو مې وویل:

_د حاجي نواب لور راته وغواړه.

پلار مې یواځې وخندل. لاړ، په ټیم کې پرتو سکروټو ته یې لاسونه ونیول.

له دوکانه راووتم، د غونډۍ تر سره مې په یوه سا ځان ورساوه، ستوني ستغ پرېوتم، مړه واوره مې په دواړو غوږونو ولګېده. سترګې مې پټې کړې. کاغ شو، په بېړه مې ور مېږ کوږ کړ، له سپینې ډبرې تور کارغه والوت.

کېناستم، په مړه رېږه پورې نښتې واوره مې وڅنډله. هارن مې واورېد، د غونډۍ په لمنه کې تونس موټر ولاړ و، کښته شوم، موټروان مې کلیوال و، تر کوره تود ورسېدم.

مازدیګر مې پلار راغی، بخارۍ ته نږدې کېناست، وار له واره یې وویل:

_کامرانه بچو، نن دې څه چټیاټ ویل؟ چورتي دې کړم.

پلار ته مې وکتل، یخني یې د پزې څوکه سره کړې وه.

له چایجوشه مې پیاله ډکه کړه، په بخارۍ پسې مې یو بل لرګی پورې کړ. غلی کېناستم.

پلار مې د ګوړې ټوټه خولې ته واچوله، ویې ویل:

_ګوره بچو، پوهېږم چې ځوان یې، واده غواړې، خو له خپلې برستنې سره به پښې غځوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

ليکوال: نصيراحمد احمدي

پلار مې وټوخل، د کوټ له جېبه يې يو پاکټ گولۍ را وايستې، يوه يې خولې ته واچوله، د چايو غوړپ يې پسې وکړ، سړه سا يې وايسته، ويې ويل:

_گوره زويه! باور وکه چې زه هم له دې غلي کوره ستړی شوی يم، غواړم چې يوه گلالۍ نږور ولرم، په کور کې مې د لمسيانو شور وي، يو څه مات کړي، يو څه توی کړي، وخاندي، وژاړي، د يوه پزه ور پاکه کم، بل مې ږيره کش کړي، دربېم مردکۍ رانه وغواړي، خو هر څه خپل ځای لري، بس، په خپل سيال او نسب کې يوه نجلۍ راوښيه، ځان به گرو کم، تاته به ناوې راولم.

څه مې ونه ويل، ورځې ووتې، ځمکه توره شوه،د بادامو ونو سپين گلان ونيول.

زړه مې ډاډه و، زرو راته وويل چې نيکه مې د ترور د زوی دوستي ونه منله.

خو اول ځړمونی مې بيا لينگي ورپېدل، د زرو پلار او تره راغلي وو، زرو يې په عربو کې يوه تربره ترې غوښته.

په هماغه ورځ مې بيا پلار ته ور ياده کړه چې زرو راته وغواړي، سپک يې کړم، خو ماته د پلار کمزوري معلومه وه، د خداي په ځمکه کې يې له ايرانه ورټ ( کرکه ) کېده، نه و ملامت، ايران ته تللي ځوانان به لا معتاد راتلل او يا به يې جنازې راوړل کېدې.

پلار ته مې وويل:

_سمه ده، نوايران ته ځم.

ځمکه وربادنې سره شوه، د شپې يې دوه ځله له خوبه راپورته کړم، ويل يې چې سم سړی يې، د لېونو پېښې مه کوه.

خو زما يوه خبره وه. يا زرو، يا ايران.

پلار مې مجبور شو، يو کليوال يې ورسره کړ او حاجي نواب ته په مرکه ورغلل.

کله چې بېرته راغلی، کوټې ته ننوت، په چيغو چيغو يې وژړل.

تر ماخستنه يې يوه خبره هم ونه کړه، دا ځل يې زه سر ته کېناستم، پرتندي مې ښکل کړ، سترگې يې رڼې شوې، ټوخي واخيست، په ټوخي کې يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليکوال: نصيراحمد احمدي

_زويه، سپک دې کړم، حاجي نواب د کليوال تر مخ راته وويل چې يوه روپۍ سړی يې، بيا دې دېخوا ونه گورم.

سهار مې زرو ته زنگ وواهه، خو تليفون يې بند و.

دوې ورځې وروسته نا اشنا نومره راغله، زرو وه، ژړل يې، رايادە يې کړه چې پلار مې ځپېړې راته ونيولې، تيلفون يې رانه يوور، سلامته ورځ يې د غواوو په غوجله کې واچولم، ويل يې چې مرداره يې، د نجار له زوی سره دې لاره جوړه کړې وه.

ورځې ووتې، د زړه درزا مې ډېره شوه، په ولاړېدو کې به سر راباندې گرځېده.

زرو تليفون ونه کړ.

طاقت نه راته، يو ماخستن د زرو دوی کلي ته ورغلم، په تياره کې د حاجي نواب تر کلا راتاو شوم، خو کلاه ته د وررننوتو لاره نه وه.

د ورځې به مې لس ځله د تليفون شنه تڼۍ ټينگه کړه، خو د زرو تليفون بند و. بل سهار يوه نا اشنا نومره راغله، زرو وه، ويل يې چې سبا بېگا ته يې مالگه ( شيريني) وړي.

تليفون قطع شو، خو پاو وروسته بيا زنگ راغی، زرو ژړل، ويې ويل چې د موږکانو دوا يې موندلې ده.

زړه مې خولې ته راغی، ورته ومې ويل، چې لېونتوب مه کوه. ته...

په خبره کې راولوېده، ويې ويل:

_زه درباندې گرانه يم؟

_هو!

زرو يوه شېبه غلې وه، ما يې يواځې د ژړا غږ اورېده، وروسته يې په غريو کې وويل:

_ماخستن راشه او ما له دې ځايه بوځه.

ځای پر ځای کېناستم.

زرو وويل:

_ووېرېدې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليکوال: نصيراحمد احمدي

غلی وم.

ويې ويل:

_پوهېدم چې دومره زړه نه لرې. بس نو، سهار به مې د جنازې خبر واورې.

چيغه مې کړه:

_دومره بې عقلي مه کوه.

په غريو کې يې وويل:

_سهار سپېده چاود، پر بام د موږکانو له دوا سره درته ولاړه يم، د غزني په اولياوو لو ( قسم ) درته کوم، که مې د د ښتې لخوا د بجلۍ ( لاسي بتۍ ) رڼا ونه ليده، مړه مې بوله.

تليفون قطع شو.

ټيکه نه راتله، دښتې ته ووتم، د سپرغې پر سر کېناستم، دښته شنه ښکارېده، ليرې د غونډۍ په لمنه کې تور وري څرېدل.

غرمه کورته راغلم، يوه هګۍ مې په غوړو کې ماته کړه، له ډوډۍ وروسته پرېوتم.

يو وخت مې اوږه وخوځېده، سترګې مې رنې کړې، پلار مې په غوسه و، ويل يې چې ولې دوکان ته نه وې راغلی!

ټوله شپه مې په ويښه تېره کړه، کله کله به مې د پلار مخ ته لاسي بتی ور واچوله، ستوني ستغ پروت و، د تندي ګونځو يې سيوري درلودل. سپينه ږېره يې ټټر ته سيخه وه، سره راټوله او کږه ښکارېدله.

د شپې دوې بجې ولاړ شوم، په لومړي ځل مې د پلار جيبونه وپلټل، پيسې مې وشمېرلې، اتلس سوه افغانۍ وې.

کوټ مې واغوست، پټو مې تر ځان تاو کړ، د پلار مخ ته مې بتۍ ور واچوله، د ماشوم غونډې وړه وړه ساه يې اخيسته، غلی ويده و.

(c) ketabton.com: The Digital Library





کېناستم، د پلار تندی مې ښکل کړ، زګېروی یې شو، اړخ یې بدل کړ. د پلار پښو ته ور وښویېدم، د هغه پر چاودو پښو مې شونډې کېښودې، پښې یې سړې وې. یوه شېبه مې د پلار مخ ته وکتل، د ځېرې هره ګونځه یې د غمونو نښه وه.

پلار مې ډېر غمونه لیدلي وو. د طالبانو وخت و، مشر ورور مې ټوپک واخیست، د طالبانو له یوه ګروپ سره جنګ ته لاړ، میاشتې ووتې، درک یې مالوم نه شو. زه هغه وخت په دوولسم صنف کې وم، تر غرمې به مې درس وایه، وروسته به دوکان ته ورتلم.

د قوس میاشت وه، له امتحانه وروسته دوکان ته ورغلم، هېڅوک نه و، کتابچه مې کېښوده، ټیټه ژړا راغله، ور ومې کتل، د پلار سپېره لمن د لرګي له لویې تختې راوتلې وه، ورغلم، پلار مې د تختو په مینځ کې ناست و، ژړل یې...

د هغه پر اوږه مې لاس کېښود، پلار مې په بېړه را وکتل، تر لاس یې کش کړم، په غېږ کې یې ټینګ ونیولم، ژړا یې زور واخیست.

وروسته غلی شو، خو اوښکې یې نه تم کېدی، زما غاړه به کله کله توده شوه، پوهېدم، د پلار اوښکې وې.

د ځنګ قصاب راغی، تر لاس یې ونیولم، دواړه د باندې ووتو، قصاب په ماته خوله رایاده کړه چې د خدای امر ومنه! مشر ورور دې پور پرې کړی.

پر ځړېدلي ورون ورغلم، خو د قصاب غبرګ لاسونه راوغځېدل، یو وخت مې سترګې رڼې کړې، دوکان له خلکو ډک وو، پلار مې توبې ایستلې، قصاب مخ ته سړې اوبه را اچولې.

یوه هفته ووته، د ورور مړی مې ونه لید..

پلار مې د طالبانو قوماندان ته ورغی، ځواب یې منفي و، ویل یې چې په اول خط کې جنګ دی، مړي نه شو را ایستلی....

په دوهمه ورځ مې پلار ته چا مشوره ورکړه چې په خپله دې د جنګ ساحې ته لاړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

---

پلار مې قصاب ته ورغی، دوه سوه لکه شنې اوغانۍ یې په پور ترې راوړې.

مور مې حیرانه وه، خو پلار مې ورته وویل چې په وردگو کې یې د نجاري له پاره ارزانه لرگي موندلي دي.

سهار وختې له کوره راووتو، هغه وخت لاره خرابه وه، ماسپښین کابل ته ورسېدو. په کوټه سنگي کې مو یوه کوټه کرایه کړه، سهار وختي مو له سراي شمالي حرکت وکړ، د لارې دواړو غاړو ته زرگونه تاکونه اره شوي وو، ړنگ کورونه په لوگي تور ول، لسو بجو ته په اول خط کې وو.

د استالف د ولسوالۍ سوځیدلي کلي د جگړې لومړۍ کرښه وه.

د منطقې شناخته طالبان مو وموندل، یوې زړې کوټې ته یې بوتلو، دېوال ته رنگارنگ وسلې ولاړې وې.

بخارۍ ته مو لاسونه ونیول، دوه شناخته طالبان زما دورور د مرگ شاهدان ول، ویل یې چې ټټر ته یې د راکټ مرمۍ سیخه شوه، تر نامه پورته نه و.

د شپې تر ناوخته مې د پلار سونگېدا اورېده، سپېده چاود نږدې ډزې شوې، لمر ختو ته کراري وه.

د ورځې مو ځینې نور کسان هم ولیدل چې د خپلومړو په موندلو پسې راغلي ول. غرمې ته د سیمې څو سپین ږیرې راغلل، د مړو له خپلوانو سره یې چنې ووهلې، سپین ږیرو ویل چې د خط هاغه غاړه وسلوال هر جسد په څلوېښت لکه راکوي، دوی ته هم باید یو څه پاتې شي.

خبره خلاصه شوه، د هر مړي د راوړلو پر سر پنځوس لکه افغانۍ وټاکل شوې.

په دوهمه ورځ شپږ لاسي کراچۍ راغلې، ټولې له مړو بار وې، موږ هم په بېړه ورغلو، یخ وهلې جسدونه پراته ول.

سر مې وگرځېد، د ونې ښاخ مې ونیو.

دوه درې ځایه چیغې شوې، ځینو خلکو خپل مړي موندلي وو، خو زما د ورور جسد نه مالومېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

ليکوال: نصيراحمد احمدي

يو ځای دوو کسانو يو بل ته څېږې ونيولې، غږ يې راته، په يوه غوڅ شوي لاس يې جنگ و، يوه ويل چې زما د ورور جسد ته وگوره، لاس يې نشته، تا راوړی، خو بل ويل چې نه، دا مې د زوی لاس دی، په کوچنيتوب کې کالدانه پرې راختلې وه، ړوند يې؟ نه وينې؟ پر مټ يې د کالدانې نښه ده.

منډه مې کړه، کوټې ته ننوتم.

د جگړې په اول خط کې مو يوه هفته تېره کړه، د مړو سوداگرو څو ځله مړي راوړل، خو زما د ورور جسد يې ونه موند.

نا اميده کلي ته راغلو، خلک راغلل، مور مې خبره شوه، تر خولې يې زوروره ناره راووته، ځاې پر ځای پرېوته، مازديگر يې زما د کشر ورور تر څنگ خاورې پرې واړولې.

پلار مې ناروغه شو، يودم يې په ملا کې کوږوالی راغی، نيغ نه شوای گرځېدلای.

سړی غلی شو، لستوڼی يې پر خپلو سترگو تېر کړ، پورته يې وکتل، سترگې يې سرې وې. سړه ساه يې وايسته:

_اه پلاره، په څومره بېوسۍ کې مې پرېښودې.

بېرته يې د زرو د قبر پر وړو تېږو خپله زنه ولگوله، ويې ويل:

پلار مې هماغسې پرېښود، د شپې دوې بجې له کوره ووتم، د باران واړه څاڅکي پر مخ ساړه لگېدل.

سات وروسته مې د زرو دوی کلي ته نږدې دمه ونيوله، له جېبه مې لاسي بټۍ را وايسته، مخکې لاړم، لاسي بټۍ مې څو ځله بله کړه، د حاجي نواب کور ته نږدې کېناستم.

د دروازې ورو کړپ مې واورېد، زرو راغله، ژړل يې، دواړه چوپه خوله روان شوو.

د الله اکبر ناره مو د ولسوالۍ په بازرا کې واورېده، دواړه د يوه تړلي دوکان ترمخ کېناستو، د دوکانو دروازې بندې وې، تړلو قصابيو ته سپي پراته ول، کله کله به له ليرې د چوکېدار ناره راغله:

_ها ها های، څوک يې؟ وينم دې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

زرو ته مې وکتل، پر زنګونو یې تړلې غوټه او د غوټې له پاسه خپل تندی ایښی و، ژړل یې...

یو سراچه موټر لنډ راتاو شو، د څراغونو ژېړه رڼا یې راباندې ولګېده، بریک یې ونیو، ناره یې کړه!

_غزني ( د غزني ښار ) غزني!

موټر ته ور وختو، سات وروسته د غزني په ښار کې وو، د کابل اډې ته ورغلو، موټر تیار ول، نهه بجې کابل ته ورسېدو. نیغ پل محمود خان ته لاړو، کرولاوي او سراچې تر تورخمه تلې.

په سروبې کې ډوډۍ ته ودرېدو، خو زرو یوه ګوله هم ور پورته نه کړه، ورو، ورو یې ژړل...تر دې دمه یې یوه خبره هم نه وه کړې.

جلال اباد ته نږدې موټر پنجر شو، هوا ګرمه وه، د ونې سیورې ته کېناستو.

زرو ته مې وکتل، مخ یې پټ و، مازې زنه یې ښکارېدله، پر زنه یې رڼه اوښکه راځوړنده وه.

په لومړي ځل یې په خوابدي غږ وویل:

_چېرې ځو؟

ومې ویل:

_پېښور ته.

غلې وه.

ومې ویل:

_د تګ له پاره دوه ځایه لرو، یا نورستان یا پېښور. خو پېښور ښه راته ښکاري، هلته مې د یوه ملګري کور دی، د ورور غوندې راته ایسي، څه وخت به په پېښور کې تېر کو، بیا به په بل ځای پسې غواړو.

زرو تړلې غوټه خلاصه کړه،له قات شوي ټکري یې بنډل پیسې راوایستې، ویې ویل:

_ها! دا به دې په کار شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجبور وم، د پلار له اتلس سوه افغانیو، پنځه سوه راپاتې وې.
له بنډله مې پنځه زرګونه رابېل کړل، پاتې پیسې مې زرو ته ونیولې.
په غریو کې یې وویل:
_درسره دې وي.
ومې ویل:
_د پېښور پولیس نه دې در مالوم، له سرې پوستکی باسي.
زرو څه ونه ویل، پیسې یې په غوټه کې کېښودې.
مازدیګر تورخم ته ورسېدو، افغانۍ مې کلدارې کړې، تر ځنځیر واوښتو، دوو پولیسو راته کتل، خو څه یې ونه ویل.
په کارخانو کې یې موټر ودراوه، یوه پولیس دروازه خلاصه کړه، په لسو، دولسو مساپرو کې یې وار له واره ماته وویل:
_له کومه راغلې.
ومې ویل:
_له کابله.
_پاسپورټ لرې؟
_نه.
_را کوز شه.
له موټره کښته شوم، زرو هم راپسې راغله.
پولیس د موټر بانټ پر لرګي وواهه، چیغه یې کړه!
_ځه نو، څه له ولاړ یې.
موټروان راکښته شو، کرایه یې رانه یووړه.
پولیس تر لستوڼي ونیولم، ویې ویل:
_افسر له ورځو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





تر سړک واوښتو، تک تور برېتور افسر پر څوکۍ ناست و، د شیدو له چایه ډکه، وړه، خیرنه پیاله یې په لاس کې وه.

پولیس زما لستوڼی پرېښود، ناست سړي ته یې وویل:

_سر ( صیب)! له دې ماجر سره کاغذونه نیشته .

ناست افسر ولاړ شو، مخامخ راته ودرېد، په ډډ غږ یې وویل:

_وه هلکه، دهشتگر شانتې ښکارې.

ومې ویل:

_صیب! خوار نجار یم، دلته مې ناروغان راوستي.

زرو ته یې وکتل، په ملنډو یې وویل:

_دا خو هوکه ناروغه نه ښکاري.

جېب ته مې لاس کړ، دوه سوه کلدارې مې ورته ونیولې.

افسر یواځې وخندل، بېرته پر څوکۍ کېناست.

زرو ته مې وکتل، لړزې اخیستې وه....

برېتور افسر وویل:

_مړه، څرمن دې د ازبکانو په څېر سره ښکاري، د ازبکستان دهشتگر خو به نه یې؟

تذکره مې ورته ونیوله.

تذکره یې ور واخیسته ، پرته له دې چې ورته وگوري، پر مېز یې کېښوده.

ویې ویل:

_دا نجلۍ دې څه ده؟

زړه مې ولړزېد:

_خپله.

چیغه یې کړه؟

_څه دې کېږي! خور؟

_نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېناست، تذکره یې ور واخیسته، خپلو سترګو ته یې ونیوله، ویې ویل:
_وه نجلۍ، دېخوا راشه.
زرو په لړزېدلو ګانومو ور نږدې شوه.
برېتور افسر وویل:
_دا هلک څه نومېږي؟
زرو په مات، ګوډ غږ وویل:
_کا، کامران.
د والد نوم یې څه دی؟
_څه؟
_د پلار نوم؟
زرو ماته وکتل، په لومړي ځل یې ځېره تر تندي پورې لوڅه وه، سترګې یې وېرې نیولې وې....
د پولیسو افسر وویل:
_ښه نو، پته ولګېده، نجلۍ دې راتښتولې ده.
یودم یې چیغه کړه!
_دا دواړه تانې له بوځئ.
مخې ته یې ودرېدم، دوه زرګونه مې ورته ونیول، زارۍ مې ورته وکړې، خو بریتور افسر پر څوکۍ ناست و، ټنډه یې تروه وه.
بل پولیس تر مټ ونیولم، په غوسه یې وویل:
_هله نو پاڅه!
د زرو ژړغونی غږ مې واورېد:
_د خدای روی ومنئ، تاسو به هم خور او مور لری.
برېتور افسر ولاړ شو، تر زرو راوګرځېد، په ملنډو یې وویل:
_خو زما مور او خور ستا شانتې مردارې نه دي چې له پردي سړي سره وتښتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

په سترګو مې تیاره راغله، بریتور افسر مې تر ګرېوان ونیو، دوو نورو پولیسانو منډه راواخیسته، پر ژامه مې کلک سوک وخوړ، ځای پر ځای کېناستم.

خلک راته ودرېدل، خو افسر چیغه کړه!

_هله شابه، شور مه کوئ، دهشتګر دی، له تومانچې سره مو نیولی.

وېربېدلي خلک په خپله مخه لاړل.

افسر د خپل کمیس غاړه سمه کړه، مخامخ راته کېناست، ویې ویل:

_تاته پته شته ده چې زموږ په ایین ( قانون ) کې د پولیس وردی ( دریشي ) ته لاس اچول څو کاله جېل لري؟

غلی وم.

ورو یې وویل!

_ښځه دې هم راتښتولې، پاتې ژوند به په جېل کې تېر کړې.

چیغه یې کړه:

_تاڼې له یې بوځئ. کېس ( دوسیه ) ور له واچوئ.

زرو رامخته شوه، له غاړې یې غاړګۍ را خلاصه کړه، پر مېز یې کېښوده.

پولیسو یوبل ته وکتل، یوه غاړګۍ ور واخیسته، د غاړګۍ پر یوه ځای یې غاښونه ټینګ کړل.

سترګې یې وځلېدې:

_سوچه سونا ( سره زر ) دي.

بریتور افسر په بېړه شاوخوا وکتل، غاړګۍ یې په جېب کې واچوله، یودم یې وخندل:

_مړه ماجره، تر تا خو هوکه زما دا خورکۍ هوښیاره ده.

خپلو ملګرو ته یې وکتل، چیغه یې کړه:

_هلۍ! څه له ګورئ! سترګې مو نیشته، مېلمنو له دود پتي ( د شیدو چای ) راوړئ.

ومې ویل:

_نه یې څښو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

_ښه نو، شابه، ځئ!

روان شوو، یوه پولیس راپسې غږ کړل:

_د لاین په ګاډو کې لاړ شئ. ټکسي ډېرې روپۍ درله وړي.

تر یوه ځایه پلي لاړو، زرو ژړل. له هغې مې غوټه را واخیسته، یوې ټکسي ته مې لاس وښوراوه، ماښام تیاره د مهاجرو یوه کیمپ ته ورسېدو. د ملګري کور ته مې یو ځل پخوا هم ورغلی وم، نانوایي یې ښه ننبه وه، په اسانۍ مې وموند.

ملګري مې له خلاص زړه غېږ راکړه، یوه وړه نجلۍ راغله، زرو یې د کور کوټو ته بوتله، زه هم مهمانخانې ته ور وختم.

ډله کسان ناست وو، ملګري مې راته وویل چې دا یې د ورور مېلمانه دي.

ملګري مې دوکانداري کوله، خو وروښو یې په پاکستان کې درسونه ویلي وو، په انګلیسي ښه پوهېدل او په وطن کې یې وظیفې لرلې.

یو یې د فواید عامې په وزارت کې انجنیر و، بل یې په کمپیوټر کې وړې وه، په کندز کې یې له یوې موسسې ډالري تنخوا اخیسته.

ملګري مې ناست مېلمانه راته معرفي کړل، ټول اووه کسه وو، دوه وروڼه له جرمني راغلي ول، څلورو نورو لوړې زده کړې درلودې، په پېښور کې اوسېدل، خو کارونه یې په وطن کې وو. یا یې په حکومت کې وظیفه درلوده او یا یې له موسسو سره کار کاوه.

پاتې په عمر پوخ سړی له رنګه خړ ښکارېده، بې واره یې ټوخل، د کابل له سروبي څخه د تداوۍ له پاره پېښور ته راغلی و.

له ډوډۍ وروسته جومات ته لاړو، کتارونه سم شول، دواړو غاړو تر پایڅو کشولم، ویل یې چې پښې دې ارتې ونیسه، که نه نو تر مینځ مو شیطان تېرېږي.

د چایو په وخت کې له جرمني راغلي سړي د جرمنې کیسې راواخیستې، ویې ویل چې ژوند سترې دی، زه د تیلو په یوه پمپ کې کار کوم، میرمن مې مازدیګر څلور بجې یوې مغازې ته ځي، ډېر نه سره وینو، د شپې دولس بجې چې کورته راشي، زه ویده یم، دوی لوڼې مې پوهنتون وایي، زوی مې په اتم صنف کې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

وروسته سیاسي بحث تود شو، ټولو افغان حکومت ته د کوپر په سترګه کتل، جهاد او مهاجرت یې فرض ګاڼه.
ما او کلیوال سړي یواځې د دوی خبرې اورېدلې.
مېلمانه ناوخته خپلو کورونو ته لاړل، زه او کلیوال سړی پاته شوو.
ملګری مې له یو جګ اوبو سره راغی، په ګیله من انداز یې راته وویل:
_ناځوانه یې! نه دې کوژدې ته خبر کړو او نه هم واده ته. هر څه دې پټ تېر کړل.
غلی وم.
ملګري مې وویل:
_ورېنداره ناروغه ده؟
مخکې تر دې چې څه ووایم، ویې ویل:
_زړه مه خوره، سهار به یې تر ټولو تکړه ډاکټر ته بوځو.
کوربه ګروپ مړ کړ او له کوټې ووت.
ګرمې وه، په یوه ځادر کې پرېوتم.
کلیوال هم اوږد وغځېد، تر ډېرو یې زګیروی و، وروسته یې په ټیټ غږ وویل:
_توبه خدایه! ښځه، مېړه او پېغلې لوڼې یې د کوپر په وطن کې اوسي، یو بل نه سره ویني، خو په خپل وطن کې جهاد روا بولي، یو څه نسبي کراري یې هم نه راباندې لورېږي... نور په خپل وطن کې له خپل حکومته ډالري تنخوااخلي، خو حکومت کوپر ورته ښکاري، توف! په کومه کاسه کې یې چې خوري، متیازې هم پکې کوي.
بېرته یې زګېروی شو....
سترې وم، د سهار تر لمانځه په ځان نه وم پوهېدلی.
د لمر ختلو په وخت کې مې ملګری راغی، دستار خوان، پیالې او پتنوس یې کېښودل، خو ټنډه یې تروه وه، تر پایه یې یوه خبره هم ونه کړه.
له دروازې مې د زرو ژړغونی غږ واورېد:
_اې! راووځه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

په ببړه مې څادر راواخیست، د باندې ووتم. زرو له غوټې سره ولاړه وه، له سترګو یې مړې اوښکې څڅېدلې.

ومې پوښتل:

_څه خبره ده؟

د زرو ژړا زرو واخیست:

_له دې ځایه ځو.

_ولې؟

_دا خلک وایي چې ته مرداره یې!

په لومړي ځل مې د هغې سر پر خپل ټټر پورې ولګاوه، بغور ( غومبری ) یې تود و، ژړل یې....

غوټه مې ترې واخیسته، له کوره ووتو.

ساعت وروسته د قصه خواني په بازار کې وو. یوه پې، سي، او مې ومونده، له جیبه مې وړه کتابچه را وایسته، د یوه ملګري نومره مې ووهله، په تلیفوني شبکه کې په اردو ژبه د یوې نجلۍ ثبت شوی غږ راغی، دومره پوه شوم چې دا نومره بنده ده.

بې هدفه روان شوو، یوې کوڅې ته ننوتو، زرو ته مې وکتل، سترې ښکارېدله، پر خولې شوي تندي پورې یې تور وېښته سریښ ول.

د یوې وړې هدېرې پر غاړه د ګڼو ونو سیوري ته کېناستو.

چوپه چوپتیا وه، کله کله به له مخامخ واړه جوماته په یوه غږ د قران شریف تلاوت راغی.

زرو په غریو کې وویل:

_هېڅ مې هم نه دې ورته ویلي، خو پوه شوه.

ومې ویل:

_څوک؟ په څه؟

سړه سایې وایسته:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

ليکوال: نصيراحمد احمدي

_د ملگري مور دې اول ښه وه، فکر يې کړی و چې زه ستا کډه يم، خو وروسته شک ور ولوېد، پوښتنې يې شروع کړې، پو شوه،سهار يې راته وويل چې که مرداره نه وای، له پردې سړي سره به نه را تښتېدې.

غلې شوه، سر يې پر زنگنو ولگاوه.

جومات ته مې وکتل، ومې ويل:

_له دې خبرو بايد خلاص شو.

نښغ يې راته وکتل، په غومبرو کې يې سرخې پيدا شوه، سر يې وځړېد.

له سترگو يې پوه شوم چې زماد خبرې په مانا پوهېدلې ده.

جومات ته ورغلم، ملاصيب ماشومانو ته قران شريف وايه. يوه شېبه ودرېدم، د ملا راپام شو، راغی، ورته ومې ويل چې نکاح تړم.

ملا په حيرانۍ راته وکتل، د هدېرې خواته مې اشاره وکړه، زرو د ونې سيوري ته ناسته وه.

ملا وويل:

_مړه، خپل، پردي لری، که اچانک ( هسې ) راغلې ياست؟

غلی وم.

ملا وخندل:

_اچها ( ښه )، ټيک ده، په شرعه کې عيب نيشته، هله نو، مړه ، څه خواږه ماره خو راوړه، شاهدان به زه درله پيدا کم.

روان شوم، ملا په خندا راپسې غږ کړ:

_خو گوره، لږ نوره خرچه مرچه هم دربانديې راځي.

دوکان نېږدې و، کولچې، کيک او نور خواږه مې راواخيستل. زرو ته راغلم، هغه مې تر لاس ونيوله، د جومات په چوتره کې کېناستو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

ملا دوه له عمره غټ طالبان راوستل، نکاح ساده وه، د منلو او نه منلو نخرې يې نه درلودې، دواړو ( هو ) کړه. کولچې او نور خواږه پر وړو طالبانو ووېشل شول، دوولس سوه کلدارې يې شيرينې يوړه. خلاص! له جوماته راووتو.
يوه هوټل ته ورغلو، د کرايې کوټې يې درلودې، خو پاسپورټونه شرط ول. بل ادرس مې وموند، کوټه يې نه راکوله، خو د پيسو ډېرېدا چوپه خوله کړ.
کيلې مې ترې واخيسته، په کوټه کې دوه نفره کټ و، خو زرو پر ځمکه پرېوته، د شپې تر ناوخته يې ژړل.
سهار وختي د موټرو اډې ته راغلو، اته بجې په جلال اباد کې وو، ماښام د نورستان مرکز ته ورسېدو.
ښار کوچنی و، د ترور کور مې په يوه تليفون ووموند. ورغلو، ترور مې غېږ راکړه، خو زرو ته يې په کرکه وکتل، مخامخ يې ورته وويل چې زما وراره دې په بدۍ اخته کړ.
ماخستن مې د ترور خاوند راغی، ستړې مشې يې سړه وه، له خبرو يې وپوهېدم چې زما او د زرو د تېښتې خبره چا په تليفون کې ورته کړې وه.
تر ډوډۍ وروسته يې نصيحت راواخيست، ويل يې چې له دې نجلۍ تېر شه.
لنډ مې وپوهاوه، چې خبره خلاصه ده، له زرو سره مې واده کړی.
د ترور خاوند مې نجاري کوله، شپږکاله مخکې نورستان ته په کار پسې راغلی و، همدلته يې نجاري وموندله، کار يې ښه و، کور يې ور وغوښت، پاخه يې واړول.
دوی په يوه کرايي کور کې اوسېدل، کور تنگ و، درې کوټې يې درلودې، دروازې ته نږدې کوټه يې د ميلمنو کوټه بلله. په پاتې دوو کوټو کې مې ترور او د هغې مشر زوی ته تازه راواده کړې ناوې اوسېدله.
ترور مې له عمره پخه ښځه وه، درې زامن يې درلودل، مشر يې په جلال اباد کې پوهنتون وايه، دوه نور يې په دوولسم صنف کې ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

زه به د میلمنو په کوټه کې له دوو ترور زیانو سره ویدېدم. دوی به له خپل پلارسره ماښام تیاره کور ته راتلل، تر غرمې یې مکتب وایه، پاتې وخت به د نجاري په دوکان کې ول.

په دوو ورځو کې مې زرو ونه لېده، کورته نه ورتلم، له تازه راواده کړې ناوې حیا راته درېده. بس، یواځې یو ځل د باندې ووتم، ټوټه مې واخیسته، خیاط ته مې وویل چې همدا یو جوړ جامې لرم، تر ماښامه یې راته وگنډه.

ډېر وخت به مې د کتابونو په لوستلو تېراوه، په کوټه کې وړه الماری وه، گڼ کتابونه پکې ایښي ول. پر دېوال ښکاري ټوپک له چرمې کاش سره راځړېده. له بېکارۍ به مې کله کله په کاش کې ټومبلي کارتوس شمېرل. پوره لس دانې ول.

یواځېتوب مې زړه خوړ، په درېیمه ورځ د ترور له خاوند سره د نجاري دوکان ته لاړم، تر غرمې مې کار وکړ،ستړی شوم، د ځنگله د چهارتراشو تراشلو زور غوښت. خو په دوهمه ورځ مې لاس سم چلېده، تر ماښامه مې سلامت ور جوړ کړ.

په پنځمه ورځ مې د ترور یو زوی کارته نه راغی، ورور یې ویل چې ناروغه و.

مازدیگر مې په سر درد شول، کورته وخته لاړم. د میلمنو په کوټه کې پرېوتم، ترور مې چای راووړ، ستړې وه، ویل یې چې ټوله ورځ یې جامې پرېمینځلې.

بېرته له کوټې ووته.

زرو راغله، ژړل یې.

په بېړه مې وویل:

_ولې؟

هماغسې یې ژړل...

ومې ویل:

_ترور مې څه درته ویلي دي؟

_نه.

_ناوې یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library





_نه

_نو څه ټکه راپرېوتې ده؟

ژړا یې زور ونیو:

_له دې ځایه ځو.

ومې ویل:

_څه خبره ده؟

_نه شم درته ویلی.

تر مټ مې ونیوله:

_سپینه خبره وکه.

سر یې وځړېد:

_ترور او د ترور ناوې دې په حویلۍ کې جامې مینځلې، ما کوټه جارو کوله، د ترور زوی دې راغی، غېږ یې رانه وګرځوله، پورې مې واهه، ورته ومې ویل چې له کوټې ووځه، که نه نو چیغې وهم.

ګړندي ګامونه یې واخیستل، خو په وره کې یې نوک ونیو، راته ویې ویل، چې دومره ځان پاک پاک مه ښیه، که مرداره نه وای، نو له کامران سره به نه راتښتېدې.

په زړه مې اور بل شو، د زرو سر مې په خپل ټټر پورې ولګاوه، ومې ویل:

_سمه ده، خو بس، دا یوه شپه صبر وکه، سهار په خړه به له دې ځایه ځو.

ماخستن مې د ترور زوې ونه لید، وررور یې ویل چې نن شپه نه راځي، د یوه ملګري میلمه دی. سهار په خړه مې ټوپک راواخیست، د کوټې په وره کې کیناستم.

سړی غلی شو، سړه سا یې وایسته، طوطي یې ور واخیست، کوټې ته ننوت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکوال: نصیراحمد احمدي

(۷)

سړي سترګې رڼې کړې، طوطي ته یې وکتل، پر څنګ ړنګ و. ور وښوییږد، لاس یې ور ووړ، د طوطي غاړه کږه شوه.

سړی کېناست، د طوطي سترګو ته یې ور پو کړل، د سترګو خړه پرده یې یوې خواته لاړه. جام یې ور واخیست، د طوطي په خوله کې یې څو څاڅکي اوبه وڅڅولې. د باندې ووت، طوطي یې پر شنو وښو کېناوه. طوطي هماغسې کږه غاړه نیولې وه.

شېبه وروسته یې طوطي ور واخیست، سیند ته کښته شو. ډبرې یې واړولې، سور چینجی یې ومونډ، خو طوطي خپله مښوکه ور ټیټه نه کړه.

سړی پر یوه لویه ډبره کېناست، طوطي یې خپلو سترګو ته ونیو، په خواره خوله یې وویل:

_خیر دی، مه مره!

ویې ټوخل، خولې ته یې لاس ونیو، غروي ته یې وکتل، د وینو سره څاڅکي پرې ښکارېدل.

سړي خپل لاس په اوبو کې وواهه، بېرته پر ډبره کېناست، غریو واخیست:

_د زرو کیسه به چاته کوم.

سړي پورته وکتل، د سهارني لمر وړانګې مخامخ شنه غره ته سیخې وې، ونو ژېړه لمبه کوله.

سر یې وځړېد، طوطي ته یې وکتل، په خوند یې وویل:

_ښه دې وکړل، چینجی به دې سترګې رڼې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

طوطي يې ور واخيست، غره ته وخوت، تر ونې لاندې يې د تېر کال لوېدلي چهارمغز ور ټول کړل، ډبره يې ورته ونيوله، په ډکه خوله يې وويل:

_اوړی ښه و. رنګارنګ میوې پیداکېدلی، خو ژمی مې ټول د ماهیانو په غوښو تېر کړ. پوهېږې! زررو مختلف سابه پېژندل، زما يې يواځې د دوو دريو نومونه زده دي، سارمی، شلخي، شېزې، بس، همدومره.

يودم ولاړ شو، څو ګامه يې واخيستل، له ځمکې يې په ختو لړلې شين کوچنی کاغذ ورپورته کړ، شونډې يې پرې کېښودې، بېرته خپل ځای ته راغی، خپله بټه ګوته يې پر کاغذ تېره کړه،ويې ويل:

_د زرو همدا ژاولې خوښېدلې، غره ته مې سلامت کارتن ورته راووړ.

غلی شو، سوړ اسويلی يې وايست:

_اه! پر دې کاغذ د زرو ګوتې لګېدلې دي.

اوږد وغځېد، سترګې يې پټې کړې، ويې ويل:

_د ترور له کوره خړ سهار را ووتو، د بازار شمال لور ته غځېدلې دره مو په مخه ورکړه. ځای ځای به د غره په ډډه کې څو کورونه په مخه راغلل، څومره چې به پورته تلو، ونې ډېرېدلې.

يو ځای کېناستو، زرو وويل:

_چېرته ځو؟

ومې ويل:

_نه پوهېږم.

تر ډېره غلی وه، بيا يې په غريو کې وويل:

_داسې ځای نشته چې هلته انسانان نه وي؟

غرمه يوه کوچيني کلي ته ورسېدو. زرو د سيند پر غاړه راته کېناسته. د کلي دوکان ته ورغلم، د ديارلسو سوو افغانيو پاکټي کېک، بيسکيټ، جوس، شيدې ... يو چاقو، د لاسي بټۍ ببطرۍ او دوه سګريټ لايټره مې واخيستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

مازدیگر مې د ونو په مینځ کې اور بل کړ، نږدې کلی مو دوه، دوه نیم ساعته مخکې پرېښی و.

زرو ته مې وکتل، غلې ناسته وه، په سترګو کې یې د اور لمبه ښکارېدله.

ورغلم، تر څنګ یې کېناستم، په خوابدي غږ یې وویل:

_په کور کې به څه حال وي؟

ومې ویل:

_ نور په دې خبرو پسې مه ګرځه.

غلی وه.

ومې ویل:

_پښیمانه یې؟

سر یې زما پر اوږه کېښود:

_نه.

د زرو پښو ته مې وکتل، د ښی پښې پر بڼه ګوته راختلې تڼاکه یې چاودلې وه.

له خپل څادره مې وړه ریتاړه وایسته، ګوته مې ور وتړله.

د هغې پلاستیکي څپلکو ته مې وکتل، ومې ویل:

_پام مې نه و، که نه په دوکان کې زنانه بوټ هم خرڅېدل.

زرو څه ونه ویل.

ماخستن مې پر اور څو نور وچ لرګي کېښودل، زرو ته مې وکتل، سر یې پر تړلې غوټه ایښی و، یوه خوا مخ او لوڅه غاړه یې رڼا ته سیخ ول، ښکلې ښکارېدله.

ورغلم، تر څنګ یې پرېوتم، څه یې ونه ویل.

پورته مې وکتل، په ګڼو پاڼو کې یو نیم ستوری ځلېده. ورمېږ مې کوږ کړ، زرو ستوني ستغ پرته وه، سترګې یې پټې وې.

پراړخ را واوښتم، ښی لاس مې د هغې پر ټټر کېښود، زګیروی یې شو. کینه څنګله مې ځمکې ته سیخه کړه، مخ مې ور نږدې کړ، پر شونډو مې توده ساه ولګېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

زرو یودم سترگې رنې کړې، پورې یې وهلم، په ټکري کې یې ځان وپېچه. کېناسته. تېزه تېزه ساه یې وهله، اور ته یې وچې سترګې نیولې وې.
ولاړ شوم، د اور بلې غاړې ته مې د ټوپک پر کنداغ سر ولګاوه، ځادر مې په سترګو راکش کړ.
پاو ووت، زرو ورو ورو ژړل...وروسته راغله، زما تر څنګ کېناسته، په ژړغوني غږ یې وویل:
_خفه شوې؟
غلی وم.
پر تندي یې لاس راکېښود.
ومې ویل:
_خو ما او تا واده کړی، ته ...
په خبره کې راولوېده:
_پوهېږم، خو اوس نه، له زړه مې وینې ځاځي.
مخ مې لوڅ کړ، د زرو پر لندو اننګو کې د اور لمبې ښکارېدلې. ..
سر یې زما پر ټټر کېښود، په غریو کې یې وویل:
_د خدای روی ومنه، مه خفه کېږه! ښه!
څه مې ونه ویل، چوپه چوپتیا وه، کله کله به په اور کې د پرتو لرګیو ټکا خته.
وخت ووت، زرو هماغسې زما پر ټټر سر ایښی و، سترګې یې پټې وې، وړه وړه ساه یې اخیسته.
یو وخت مې سترګې رنې کړې، سهار و، زرو پر مړو ایرو لرګي اېښودل.
تیمم مې وواهه، د اسمان د یوې څنډې له رڼا مې قیبله ومونده. ودرېدم، شېبه وروسته مې سلام وګرځاوه، زرو ته مې وکتل، لاېټر یې نه شو بلولی. ورغلم، اور مې بل کړ.
په لمر ختو دواړه روان شوو، څومره چې پورته تلو، د ونو وهل شوي مونډان کمېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

تر غرمې مو مزل وکړ، ابادي نه وه. ماسپښین تر یوه غره واوښتو، لاندې سیند و، څپې یې په غوړونو ښې لګېدې.

تر مازدیګره د سیند له څنډې سره مخ پورته وختو، بیا مو لار کږه کړه، ماښام مو د یوه ټیټ غره پر سر سا ونیوله. همالته مو د ونو په مینځ کې اور بل کړ، د شپې له زرو لیرې پرېوتم.

یو وخت مې تندی سوړ شو، سترګې مې رڼې کړې، رڼا وه، زما پر سر څو متره پورته په ونه کې یو کارغه ناست و.

زرو راته وکتل، له خندا شنه شوه.

اه! په خندا کې څومره خوږه ښکارېدله.

یودم غلې شوه، بېرته یې پر غوټه سر کېښود.

د څادر پیڅکه مې پر تندي تېره کړه، د کارغه چټلي وه.

غرمه سپینو واورو ته نږدې شوو، د غره په ډډه کې مو یو غار وموند.

سرې سترګې رڼې کړې، طوطي ته یې وکتل، ویې ویل:

_هماغه غار چې ما او تا شپه پکې تېره کړه.

بېرته یې سترګې پټې کړې:

_زرو خوشاله وه، ویل چې دا ځای ښه دی، که نور نه وي، له انسانانو خو لیرې یو، څوک خو به مرداره نه راته وایي.

ماسپښین د باندې ووته، پاو وروسته بېرته راغله، له بوټو یې جارو جوړه کړې وه.

د زرو په غوښتنه د باندې لاړم، د ثور میاشت وه، خو لا هم سوړ باد هډوکو ته رسېده.

پورته وختم، چینه وه. مخ ته مې سړې اوبه ور واچولې، مبایل مې را وایست، یوه خانه چارج پکې پاتې و، انتن یې نه ورکاوه.

بېرته راغلم، د غار په خوله کې دوړه ولاړه وه.

زرو له جارو سره د باندې راووته، مول یې وهلی و، اوږده بانه یې سپېره ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

چینه مې ور وښوده، غار ته ننوتم، دوړه لا نه وه ناسته، مخامخ پرې شوی ځای ښکارېده، ورغلم، بل غار و، له پورته اوبه راتویېدې. په مړو خاورو کې د کوم ځناور پلونه ښکارېدل، هر پل زما د لاس د چمبې په اندازه و.

ماخستن مې په غار کې اور بل کړ، لرګي غوړ ول، لوګي سترګې ړندولې، تر ډېره مې د زرو ټوخی اورېده، وروسته مې سترګې سره ورغلې.

یو وخت مې د زرو زوروره چیغه واورېده، په بېړه کېناستم، لوی اېږ ولاړ و، غرېده.

ټوپک مې ورته ونیو، ډز شو، په غار کې د اېږ تېره ناره راوګرځېده، مخامخ راباندی راغی، د ټوپک ماشه مې بیا ټینګه کړه، اېږ پر سرو سکروټو ورغی، ولوېد. د انګار کمزورې رڼا ورکه شوه.

لاسي بټۍ مې ولګوله، زرو تېږې ته ناسته وه، سترګې یې رډې راختلې وې، لړزېده.

ورغلم، د هغې سر مې په خپل ټټر پورې ونیو، ومې ویل:

_مه وېرېږه، هر څه تېر شول.

تر ډېره ویښ وم، په غار کې د اېږ د سوځېدلو وړیو بوی ته.

سهار مې اېږ تر پښو ونیو، نه کېده، کشولو یې زور غوښت. کېناستم، د اېږ له ټټر او تندي لا تازه وینه راتله.

زرو مې راویښه کړه، په وېره یې د اېږ یوه پښه ونیوله، کش مو کړ، تر غار مو وایست، لاندې ورغړېد.

غرمه ورغلم، پوستکی مې ترې واړاوه.

ماخستن مو د باندې اور بل کړ، صاف شو، انګار مو غار ته یووړ. نیمه شپه د شغالانو چیغې شوې، زرو راغله، په لومړي ځل یو ځای راسره پرېوته.

سړی غلی شو، د ژاولو کاغذ یې سترګو ته ونیو، زر ورق یې ځلېده.

ویې ویل:

_زرو خوشاله وه، کور یې نه یاداوه، خو کله کله به یې په خوب کې د خپلې مور او کوچنیو وروڼو نومونه اخیستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

یوه اوونۍ ووته، کېک، بیسکېټ، شیدې... کم شول، یوائځې دوې درې ورځې چاره پرې کېده. بل سهار په غره کې وگرځېدم، یو ځای مې یوه چینه وموندله، په پوټي ( مړه خاوره ) کې د زرکو پلونه ول.
په وړکتوب کې له خپل پلار سره د زرکو ښکار ته تللی وم، زموږ په سیمه کې یو هسک غر دی، د ناور غر یې بولې، چینې لري.
پلارمې تر یوې چېنې دام راوگرځاوه، اوړی و، شپه مو په غره کې تېره کړه، له لمر ختو سره د زرکو نارې شوې، پلار مې ویل چې دا یې د اوبو د څښلو وخت دی. وروسته ورغلو، له دامه مو په حساب دوولس زرکې راخلاصې کړې.
خو د نورستان په غرونو کې به مې دام له کومه کاوه! په کاش کې هم جنگي کارتوس ټومبلي وو، یوه چره یې درلوده، یوه چره، مانا یوه زرکه. نه ارزېده.
په دوهمه ورځ بیا په ښکار پسې ووتم، له یوه بوټي یوې غټې سویې ټوپ کړل، ټوپک مې ورته ونیو، سویه تر لویو تېږو پټه شوه.
خو په درېیم سهار ښکار په خپله د غار خولې ته راغی، د باندې مې د وړو ډبرو د رغړېو غږ واورېد، په احتیاط ور ووتم، تر چینې پورته، پر هسکه پرښه یوه هوسۍ ولاړه وه.
له هماغه ځایه مې ټوپک ورته ونیو، له ډز سره مې سترگو ته د باروتو توره لوخړه ودرېده. لاس مې وخوځاوه، هوسۍ نه وه.
په بېړه پورته وختم، پر غوړو ډبرو سره وینه ښکارېدله، مخکې لاړم، هوسۍ وازه خوله نیولې وه.
له هوسۍ څخه د پوستکي د ایستلو په وخت مې زرو ته وکتل، سترگې یې له اوښکو ډکې وې، قسم یې راکړ چې له دې ایسته به ژوندي ساري نه ولم.
نه مې منله، په دې غره کې له ښکاره پرته څه نه موندل کېدل، خو زرو له خپلې خبرې نه اوښته، ناچاره وم، ژمنه مې وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زرو

ليکوال: نصيراحمد احمدي

يوه اونۍ مو د هوسۍ کباب خوړ، د ورځو حساب د زرو له هغو کرښو را مالومېده چې پر ډبره به يې ايستلې.

يوه ورځ زرو د باندې ووته، يوه لمن سارمې ، شېزې او پوڅکۍ ( مرخېړي ) يې راوړل، خو دېگ نه و، په څه کې به مو پخول!

مجبوره وم، بايد نږدې ابادۍ ته تللی وای. له زرو سره مې خبرې وکړې، وېرېدله، ويل يې چې په غره کې يواځې نه شم پاتې کېدلای.

په سخته مې قانع کړه، ومې ويل چې تر ماخستنه بېرته راځم.

په ستورو کې د باندې ووتم، تېز تلم، د سيند له څنډې سره مې مزل وکړ، بېرته پورته وختم، لس بجې مې د سپيو غپا واورېده، ليرې د کوچيانو کېږدۍ ولاړې وې. لاره مې چپه کړه، ماسپښين يوه کلي ته ورسېدم، کوچينۍ دوکان يې درلود، دوکاندار ته مې وويل چې کوچی يم.

په يوه اووه منۍ بوجۍ کې مې وريجې، دال، نخود، لوبيا، غوړي... دېگ، کاسه، ثمڅه، چايجوشه... پيالې او يو جوړ ښځينه بوټونه واچول.

له دوکانداره مې مبايل را واخيست، د پلار نومره مې ووهله، بند و.

قصاب ته مې تليفون وکړ، وار له واره يې سپک کړم، بيا يې راته وويل چې د حاجي نواب زامن درپسې گرځي، خدايکه دې وينه څمکې ته پرېږدي.

د پلار احوال مې ورنه واخيست، ويل يې چې ټوله ورځ ژاړي، ښېرا درته کوي.

بېرته غره ته وختم، بوجۍ درنه وه، خو د زرو د يوازيتوب انديښنې مې زړه خوړ.

ماښام سيند ته ورسېدم، پر غره ختلو زور غوښت، نه کېده، يو ځای مې په نښه کړ، بوجۍ مې کېښوده، تش لاس پورته وختم.

دوه- درې ساعته مې مزل وکړ، ليرې له گټو ونو د اور لمبه ښکاريدله، نږدې ورغلم، ومې ټوخل، زرو ټوپک راته ونيو، چيغه مې کړه، زه يم، کامران، منډه يې راواخيسته، کلکه غېږ يې راکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

دواړه اور ته نږدې کېناستو، زرو زما د تشو لاسونو په لیدو حیرانه وه، پوه مې کړه چې غوټه مې نږدې را رسولې ده.

سهار وختي دواړه د باندې ووتو، غرمې ته مو بوجۍ راورسوله. ښه و، خوراک مو سم شو، خو زرو به له وریجو، غوړو، لوبیا... سره پام کاوه، ډېر وخت به مو سابه او پوځکۍ پخول.

د زرو خندا بېرته راوګرځېده، دا خوشاله وه، غم ته یې ځان نه ورکاوه.

ډېر وخت به د باندې ګرځېدو، شنې ونې، رڼې اوبه، د غره غوړې او سپېرې تېږې، د زرکو نارې، صاف لمر، روښانه ستوري... او زرو، جنتي ژوند و.

په دوو میاشتو کې مو یو بنیادم هم ونه لید، خو یوه غرمه مې زړه خولې ته راغی، پروت وم، زنګولې وګړنجېدې، په بېړه له غاره ووتم، یوه خیرنه اوزه ټیټې ونې ته ختلې وه، په سره ژبه یې شنې پاڼې ور ټولولې.

پورته وختم، غړۍ مې اوږده کړه، تر چینې سلامت رمه را تاوه وه. لاندې مې وکتل، زړه مې ولړزېد، زرو پورته راخته، لاس مې ورته وخوځاوه، راپام یې نه شو.

په بېړه د غار خولې ته را کښته شوم، زرو ته مې اشاره وکړه، ځای پر ځای کېناسته. وروسته په احتیاط پورته راوخته، پلو یې له چهارمغزو ډک و.

دواړه غار ته ننوتو، غلي کېناستو، زرو وېرېدلې سترګې راته نیولې وې....

نږدې ډډ غږ مې واورېد:

_ارررررررې!

له دېوال سره مې ځان جوخت ونیو، د باندې مې وکتل، په عمر پوخ کوچی دېګدان ( نغري ) ته ولاړ و.

بیا یې خوله پورته ونیوله، چیغه یې کړه!

_بازګلیه، دا ایرې لا تودې دي.

وړې ډبرې وښویېدې، د غار پر خوله سیوری راغی.

زرو ته مې اشاره وکړه، په بېړه واړه غار ته ننوته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکوال: نصیراحمد احمدي

نږدې غږ مې واورېد:

_اې ځوانه، ته دلته څه کوې؟

ور ومې کتل، کوچی د غار په خوله کې ولاړ و.

ورغلم، تر مټ مې ونیو، له غاره ووتو. یو بل تنکی ځوان هم ولاړ و، په لاس کې یې لوی ډانګ ښکارېده، سترګې یې له حیرانۍ ډکې وې.

ومې ویل:

_ښکاریان یو.

په عمر پوخ کوچي وخندل، دېګدان ته کېناست، په ډډ غږ یې وویل:

_ما مه غلطوه، مخکې مې یوه زنانه ولیده.

په خبره کې ور ولوېدم:

_درته ومې ویل چې ښکاریان یو، نور ملګري مې په ښکار پسې وتلي دي.

د کوچي ټنډه تروه شوه:

_زه دې څه کوم، خو که به دوراغ وایم، غبرګې سترګې مې دي ووځي، دلته یوه زنانه وه.

یودم یې چیغه کړه!

_وه بازګلیه، ړوند یې، سرکښ ( د رمې د سر وزګوړ ) لاندې کښته شو.

تنکي ځوان منډه واخیسته.

له کوچي سره چینې ته وختم. لویه رمه وه، اوزو او پسونو له ځمکې راختلې وابښه ور ټولول....

کوچي وویل:

_لاندې د وښو خونده نه وه پاتې، دا څو ورځې کېږې چې دلته راختلي یو.

ومې ویل:

_کېږدۍ مو چېرته دي؟

ښار ته نږدې، بس، له دې ځایه یوه نیمه، دوې ورځې مزل غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

له کوچي مې یو کوچیني سیرلی واخیست، رمې حرکت وکړ، درې ته کښته شوه.
بېرته غار ته راغلم. زرو وېرېدلې ناسته وه.
هغې ته مې ډاډ ورکړ، خو خپل زړه مې نه قانع کېده، کوچي په دې لیرې غره کې زرو لیدلې وه، غر او ځوانه نجلۍ، دا خبره نورو ته په ویلو ارزېده.
د باندې ووتم، د سېرلي پر غاړه مې چاړه کېښوده.
دوې ورځې ووتې، ټېکه نه راتله، د اوسېدو له پاره مو باید بل ځای موندلای وای.
یو سهار دواړه د باندې ووتو، تر غرمې وګرځېدو، په غره کې مو کوم غار ونه موند، زرو یوه ځای ته ګوته ونیوله، ویې ویل:
_هالته وګوره!
ډېر کښته د سیند اوبه سپینې سره اوښتې، ور هاخوا د ونو په مینځ کې شین پراخ ځای ښکارېده، زرو را یاده کړه چې هلته به یوه کوټه جوړه کړو.
( نه ) مې ونه ویل، تیږې، اوبه او لرګي نږدې ول، په دوو هفتو کې مو ګلالۍ کوټه جوړه کړه،خو ور او کړ کۍ یې نه درلودل، جوړېدو یې اره او مېخونه غوښتل.
پروا یې نه راتله، د اوړي هوا توده وه.
نوې جونګړې ته راکډه شوو. پر کوټه مو نور لاس هم وواهه، زرو سپینه خاوره وموندله، دېوالونه ښکلي شول.
ژوند ته به موږه مینه کتل، نه په تېر پسې ګرځېدو او نه د راتلونکي غم راسره و، بس، هماغه ساعت به مو ژوند ګاڼه.
کله به دسیند غاړې ته تلو، کله به مو د ځنګله ونې په میوو پسې غوښتې، کله به د اوبو پر غاړه پر پسته شګه پراته وو، په وریځو کې به مو انځورونه پیدا کول.
ځان پاچا راته اېسېده، تر پاچاهۍ هم ور هاخوا، د زرو خندا، خبرو، تګ او د هغې پر ټټر د سر لګېدا مې په ټوله دنیا نه ورکوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

نیږدې ګاونډیان مو د څهارمغزو په ونه کې طوطیان وو، ور هاخوا د بیزوګیانو ډله اوسېدله، لږ لیرې زرکو نارې وهلې...په یو بل مو کارنه درلود. نه بدي وه، نه تربور و، نه وژل....

بس، یواځې یوه ورځ دوو ټېټو تورو هلیکوپترو د زرکو نارې غلې کړې، خو دقیقه وروسته، غر بېرته ژوندی شو، له ونو الوتي مرغان خپلو ځالو ته راغلل، مرغۍ وچونېدې، بیزوګیانو کرېژې وهلې...

یوځل بیا مجبور شوم چې زرو یواځې پرېږدم، دا وار له غره سره عادت وه، انسان نه و، له ځناورو نه وېرېدله، د تګ په وخت کې یې د شنه کاغذ ژاولې رانه وغوښتې.

د سهار په خړه کې له جونګړې ووتم، غرمه مې یو کوچینی کلی وموند، دوکان یې درلود، ژاولې، خوراکي مواد د ماهیانو چنګکان او میخونه مې ترې واخیستل، خو اره نه وه. مجبور وم، یوه کلیوال زړه اره خرڅوله، پیسې مې ورکړې، ماخستن بېرته جونګړې ته راورسېدم.

لرګي ډېر ول، په دریو - څلورو ورځو کې مې ور او کړکۍ جوړ کړل.

په خوړوکې مو یو بل څه هم ور اضافه شول، د ماهیانو غوښه. په اول کې یې زرو ته خوند نه ورکاوه، ویل یې چې ازغي لري، خو وروسته به په خپله د ماهیانو ښکار ته راسره تله.

یوه ورځ په ماهیانو پسې لاندې لاړو، یو ځای مو په غټو ډبرو کې مړې اوبه پیدا کړې، په لومړي چیګک کې یو لوی ماهۍ بند شو، کافي و.

د اوبو پر ژۍ کېناستم، د ماهي ګېډه مې څېرې کړه، زرو ته مې وکتل، په سپین پتنګ پسې یې منډې وهلې...یو ځای ودرېده، ماته یې وکتل، لاس یې راته وخوځاوه.

ورغلم، رنګ یې ژیړ و، ځمکې ته یې وچې سترګې نیولې وې.

زړه مې ولړزېد، کېناستم، په شګو کې د انسان پلونه ښکارېدل.

د زرو وېرېدلی غږ مې واورېد:

_یو نفر نه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

ليکوال: نصيراحمد احمدي

سر مې پورته کړ، زرو څو گامه ليرې ځای ته کتل...

ورغلم، د دوو نورو کسانوپلونه وو. پلونه په شگو کې روښانه ښکارېدل، خو وروسته پورته ختلي ول. په وښو او ډبرو کې يې موندل سخته وه.

تر يوه ځايه پسې لاړم، ورک شول.

له ونې مې يوه څانگه را پرې کړه، تر سيند پورې مې د ځان او زرو پلونه ړنگ کړل، ماهۍ مې راواخيست، تر جونگړې پورې مې د ونې څانگه په ځان پسې کشوله، د تلليو او راغليو پلونو پر ځای به د پاڼو نرۍ ليکې پاتې شوې.

زور ته مې ټوله ورځ ډاډ ورکړ چې هېڅ خبره نه ده، يا به ښکاريان وو او يا هم کوچيان، خو د زرو وېره نه کمېدله.

دوې - درې ورځې به يې د پاڼې په لويدو هم جټگه خوړله، خو وروسته يې رنگ بېرته راوگرځېد. زړه ته يې ولوېده چې کوم خطر نشته.

دواړه به د پخوا په څير د ماهيانو ښکار ته تلو، خو تر خپله وسه به مو پر تېرو پلونه اېښودل.

د اور بلولو له پاره مو هم هغه لرگي راټول کړل، چې لوگی به يې ډېر نه کاوه.

مياشت ووته، کوم پل مو ونه ليد، زړونه مو ډاډه شول.

د سنبلې په اخېر کې د ليرې غره څوکه سپينه شوه، شپه به سړه وه، خو د اېږ پوستکي يخنۍ ته نه ورکولو.

مياشت وروسته مې د جونگړې په دېوال کې دودکش وايست،غولی مې وکېنده، دوه لغمه مې جوړ کړل، د غره هوارې ډبرې مې پرې کېښودې، زرو کاگل کړه، گلالۍ تاوخانه جوړه شوه.

زرو ته مې وکتل، تندی او د پزې څوکه يې په ختو ککړ و.

ومې خندل:

_له ما دې څه غوښتل، اوس به په سعودي کې گرځېدې، هوسا ژوند به دې و.

شونډې يې ورپېدې، راغله، زما پر اوږه يې سر کېښود، ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

_ ته او دا جونګړه مې ټوله دنیا یاست.

یوه شپه مې غاړه سره شوه، کېناستم، غوږ مې ونیو، له پورته څاڅکې راتویېدل. لاسي بتۍ مې چت ته ونیوله، بام څڅېده.

د زرو تود لاس مې له خپلې غاړې لیرې کړ، ور ومې کتل، ویده وه.

د باندې ووتم، باران اورېده. بام ته وختم، څو ځایه مې د بوټ پر تلې زور راووست. پر زینه مې پښه کېښوده، زړه مې خولې ته راغی. لیرې د ونو په مینځ کې سپینه رڼا ګرځېده....

په ځیر مې ورته وکتل، کله کله به د ونو له چولو د لاسي بتۍ تېره رڼا راووته.

په بېړه کوټې ته ننوم، ټوپک مې راواخیست، د زرو خوبولی غږ مې واورېد:

_څه خبره ده؟

ومې ویل:

_هیڅ، له جونګړې راونه وځې.

لاړم، د چهارمغز ونې ته مې ولي ولګول. تیاره وه، خپل لاسونه مې نه ښکارېدل.

ټوپک مې مخامخ ونو ته ونیو، د میل پر سر د ستورو سپینه نرۍ رڼا پرته وه.

ښه شېبه کېناستم، له غره مې سترګې نه اړولې. وخت ووت، رڼا نه وه.

بېرته جونګړې ته راغلم، زرو په وارخطایي وویل:

_اېږ و؟

_نه.

یوه شېبه غلې وه، بیا یې وویل:

_نو ولې د باندې ووتې؟

_باران دی، کوټه څڅېدله.

ویې ویل:

_ما خو د بام پر سر دربی وانه ورېد، او بل، ټوپک دې څه کاوه؟

د زرو تر څنګ پرېوتم. ومې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## زرو

ليکوال: نصيراحمد احمدي

_اوس ويده شه.
راوښويېده، لاس يې په غاړه کې راواچاوه.
شېبه وروسته خوب يووړه، خو ما تر ډېرو چورتونه وهل، په غره کې رڼا بې څه نه وه.
سهار مې اوږه وخوځېده، په بېړه مې ټوپک ته لاس ور وغځاوه. سترگې مې رڼې کړې، زرو وه، ويل يې چې واوره اورېدلې ده.
د باندې ووتم، د ونو پر سرو او ژېړو پاڼو سپينه واروه پرته وه. شېبه وروسته لمر راوخوت، تر غرمې يې واوره ټوله کړه، يواځې د غرونو څوکې سپينې وې.
ماسپښين غره ته وختم، د بېگانۍ رڼا په ځايونو وگرځېدم، ننښې نه وې، مخکې لاړم، زړه مې ولړزېد، يوځای د سگريټو ډبی پروت و.
راوامې خيست، تش و،خو تازه ښکارېده.
بېرته لاندې کښته شوم، له ليرې مې جونگړې ته وکتل، له دودکشه تور لوگی پورته کېده.
منډه مې واخيسته، يو ځای د ټوپک کنداغ پر تېږه ولگېد، لاندې ولوېد. ورغلم، بند يې شکېدلی و.
په يوه سا مې ځان تر کوټې ورساوه، پر اور مې ډکه کاسه اوبه تشې کړې. زرو په حيرانۍ راته کتل... تر لاس مې ونيوله، کوټې ته ننوتو، د زرو سترگې رډې راختلې وې.
ومې ويل:
_په کور کې مو چا سگريټ څکول؟
زرو په حيرانۍ راته کتل...
له جېبه مې د سگرټو تش ډبی را وايست، ومې ويل:
_دا مې په غره کې وموند.
د زرو لړزانده گوتې ور وغځېدې، ډبې ته يې په ځير ځير وکتل، کېناسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

زنګنونه مې پر غولي ولګول، زرو ته مې وکتل، رنګ يې ژېړ و، لکه تازه چې له خاورو راوتلې وي.

د زرو اوږو ته مې ټکان ورکړ، ومې ویل:

_وواېه، په کور کې مو چا سګریټ څکول که نه؟

شونډې يې ورپېډې:

هو، تره مې، تر ټولو مشر دی، زما تر پلار هم، مشر تره مې کټ مټ همداسې سګریټ څکوي، شنه لیکه لري.

پر دېوال پورې مې ولي ولګول ،ومې ویل:

_بېګا مې په غره کې رڼا ولیده.

زرو نېغ راته وکتل، په سترګو کې يې اوښکې ډنډ وې، بېرته يې سر وځړېد.

ورغلم، د هغې سر مې په خپل ټټر پورې ولګاوه، ومې ویل:

_باید له دې ځایه لاړ شو.

زرو په غریو کې وویل:

_مشر تره مې د ډېرې زړه لري.

ومې ویل:

_اوس دا خبرې پرېږده، هله نو، د کار شیان راټول که.

ویې ویل:

_پر ډېرو مې کالي هوار کړي.

ومې ویل:

_کالي به زه راټول کم.

د باندې ووتم، پرېولې جامې مې په یوه ټکري کې وتړلې.

ډز شو، له تېږې سره سپرغی پورته شوه. پرېوتم، زرو لوخ سر د باندې راووته، ټکری يې په غاړه کې پروت و، چیغې يې وهلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

منډه مې ور واخیسته، دوهمه مرمۍ په دروازه ولګېده، سر مې ټیټ کړ، زرو چیغه کړه، ور ومې کتل، په هوار میدان ولاړه وه.

په بېړه ورغلم، تر لاس مې ونیوله، د یوې تېږې شاته کېناستو. جونګړې ته مې وکتل، دروازه خلاصه وه، ټوپک دېوال ته ولاړ و.

زرو چیغه کړه!

_ تره مې دی.

مخامخ مې وکتل، څوک مې ونه لیدل.

دواړو د سیند خواته منډه کړه، ډزې ونه شوې.

د سیند له غاړې سره لاندې لاړو، دواړو تېزې منډې وهلې، ګڼو ونو ته ننوتو. کېناسو، زرو تېزه ساه وهله...خپلې کینې لوڅې پښې ته لاس نیولی و. سرې وینې ترې تلې.

خپل لستوڼی مې کش کړ، له اوږې را بېل شو، د زرو پښه مې وتړله، هغې په غریو کې وویل:

_درې کسه وو، مشر تره مې پکې وپېژاند، هغه تل ژېړ هندوستانی پاچ ( یو ډول لونګی ده ) تړي.

خپل بوټونه مې وایستل، د زرو پښې مې ور واچولې، بوټونه ارت ول.

زرو مې تر مټ ونیوله، ومې ویل:

_راځه، دا ځای خطرناکه دی.

لوڅې پښې روان شوم، ځای ځای به تېرې ډبرې ښې نه لګېدې.

تګ مو ورو و، زرو په ازادو بوټونو کې سمه نه شوای تلای. په لندو ځایونو کې به پلونه رانه پاتې کېدل....

ماښام واورو ته ورسېدو، همالته د ونو په مینځ کې کېناستو.

زرو زما پر اوږه سر کېښود، سوړ اسویلی یې وایست، ویې ویل:

_انسان پیدا شو، خوشالي ولاړه.

د هغې تر ملا مې لاس راوګرځاوه، له خپل ځان سره مې ولګوله، ومې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

ـتر اوسه خو لا نه یم مړ.

زما پر اوږه یې خپلې ګوتې ټینګې کړې. ژامې یې وکړپېدې، ورو یې وویل:

ـمشر تره مې هېڅ زړه سوی نه لري، یو ځل زموږ کوچیني مزدور پسونه پېول، پام یې نه و، پسونه د رشقې پټې ته ورغلی ول، ټنډ شول، یو ایله تر چاړې ورسید، تره مې د مزدور غبرګې پښې ور ماتې کړې.

څه مې ونه ویل، دواړه غلي وو، د زرو ژامه کړپېدله....

خپل واسکټ مې وایست، د زرو پر اوږو مې ور واچاوه. زړه یې نه و، ویل یې چې یخني ده، ته خپله په یوه کمیس کې یې، خو زما ټینګار غلې کړه.

ماخستن سوړ باد راوالوت، سخته وه، یوه ژور ځای ته ور کښته شوو، اور مې بل کړ.

ټوله شپه ویښ وم، د پاڼې په لویدو به مې هم څلورو خواوو ته کتل...

سهار وختي بېرته سیند ته کښته شوو، چاره نه وه، پورته واورې وې، نږدې ابادي ته همدا لاره تللې وه.

یو ساعت مو مزل وکړ، پلونه پاتې کېدل....

یو ځای ودرېدو، زرو ته مې وویل:

ـکه تر سیند ها غاړه واوړو، نو پیدا کېدل به مو سخت وي.

زرو سپینو څپو ته کتل...

ومې ویل:

ـګوره، په دې ځای کې اوبه تنګې راغلي دي، تېرې یوبل ته نږدې ښکاري، ټوپ دومره سخت نه دی، مازې، لږ زړه غواړي.

زرو غلی وه.

ومې ویل:

ـسمه ده، لومړی به یې زه وازمایم، که سخته وه، بېرته به خپله لار وهو.

زرو تر لاس ونیولم، په سترګو کې یې راته ویل چې نه، خطر لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## زرو

ليکوال: نصيراحمد احمدي

ومې خندل، لومړی تېرېږې ته مې ور ټوپ کړل، ودرېدم، د تېرېږې دواړو غاړو ته سپين ځگونه روان ول.

زرو ته مې وکتل، رډې سترگې يې راته نيولې وې.

دوهمې تيرېږې ته مې ټوپ کړل، پښه مې وښوييده، لاس مې د تېرېږې راوتلې ژۍ ته ور وغځاوه، تېرېږې ته ور پورته شوم.

درېيمې تيرېږې فاصله درلوده، نه کېده. زرو مې د لاس په اشاره پوه کړه چې بېرته در گرځم.

ناڅاپه مې ښی اوږه وسوځېده، ډز شو، سترگو مې کار پرېښود، پر ځگنو اوبو ورغلم.

بدن مې سوړ شو، سترگې مې پرانيستې، اوبه وې، واړه ډومبکان ( پوقانې ) پورته ختل... غوږونه مې ډب ول....

لاس مې وخوځاوه، اوبو کښته وړم. يو ځای مې پښه پر ځمکه ولگېده، زور مې ورکړ، سر ته راوختم، بېرته ډوب شوم، پر ستر گو مې سرې اوبه راغلې.

دواړه پښې مې پر ځمکه ولگېدې، سر مې له اوبو پورته کړ، زرو پرته وه، ژېړ پاج پر سر سرې د ټوپک پر کنداغ وهله....

بېرته ډوب شوم، تر يوه وخته مې لاس او پښې وهلې، بيا مې څه نه دي په ياد.

يو وخت مې اوږې درد وکړ، پر سترگو مې زور راووست، نه خلاصېدې، ټوخې واخيستم، کارغه کاغ کړل، والوت، ټټر مې سپک شو.

سترگې مې پرانيستې، کارغه نږدې راته ناست و، مښوکه يې په وينو سره وه.

مخامخ مې وکتل، تر تېرو لوخو ور هاخوا د سيند سپينې څپې پر تورو تيږو لگېدلې.

سر مې پورته کړ، په اوږه کې مې څړيکه شوه. لاس مې ورووړ، گوتې مې سترگو ته ونيولې، سرې وې.

په زحمت کېناستم، پښې مې په اوبو کې وې. اړخ ته مې وکتل، د سيند پر غاړه يوې ړنگې ونې ته پروت وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

ليکوال: نصيراحمد احمدي

پر کېڼه څنګله مې زور راووست، بېرته ولوېدم، سترګې مې پټې کړې، ټټر مې دروند شو، ور ومې کتل، تورې بڼکې وې.

وخوځېدم، کارغه والوت. کاغ، کاغ ، کاغ...

پورته مې وکتل، په شنه اسمان کې تور ټپوسان تاوېدل.

اوړې ته مې وکتل، درې، څلور ګوتې لاندې سورۍ وه. ورمېږ مې کوږ کړ، مرمۍ وتلې وه.

بل لستوڼی مې را پرې کړ، اوږه مې وتړله، غوټه مې پر غاښونو ټينګه کړه.

ولاړ شوم، سر مې وګرځېد، يوه راوتلې تيږه مې ونيوله. يوه شېبه کېناستم، کارغه رډ رډ راته کتل...

د سيند له څنډې سره زانګې وانګې پورته لاړم، ځای ځای به سر راباندې وګرځېد، دمه به مې ونيوله، بېرته به روان شوم... يو ځای ودرېدم، په شګو کې زما زاړه بوټونه پراته وو. شاوخوا مې وکتل، په ګڼو پلونو کې د لوخو پېښو پلونه ښکارېدل.

پرېوتم، لپه مې د زرو د پلونو له شګو ډکه کړه، په زړه پورې مې ونيوله، چيغه مې کړه!

پرررر شو، له نږدې ونې ګڼې مرغۍ والوتې.

په پلونو پسې لاړم، پلونه غره ته ختلي وو، نه کېده، پښې مې مړې وې، نه راسره تلې.

کېناستم، د زړه له اخلاصه مې وژړل.

غرمه جونګړې ته را ورسېدم، هر څه په خپل ځای پراته وو.

سترګې مې پټې کړې، زرو چيغې وهلې، ژېړ پاج پر سر سړي د ټوپک پر کنداغ وهله...

ټوپک مې راواخيست، سر مې وګرځېد، پر دروازه ورغلم، درب مې واورېد، نور په ځان نه يم پوهېدلی.

يو وخت مې سترګې رڼې کړې، تياره وه، خلاصه دروازه باد وهله... ور مې پورې کړ، د اېږ په پوستکي کې مې ځان ونغښت.

سهار مې د تېرې ورځې پاتې شوې سړې وريجې له اوښکو سره وخوړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

ـــــــــــــــــــــــــــــــــ لیکوال: نصیراحمد احمدي

وروسته مې تبه شوه. اوږې مې درد کاوه. څلروېښت ساعته مې زګیروي ختل، د زرو څېره مې له سترګو نه لیرې کېده.

درې ورځې ووتې، د ولاړېدو سېکه نه وه راپاتې، خو زړه مې لا ژوندی و، د زرو مرګ مې په ذهن کې هم نه را تېرېده.

یو سهار د باندې ووتم، په شنه اسمان کې سیوری راباندې راغی، پورته مې وکتل، زړه مې د پښو تلو ته ورسېد، تر لمر لاندې ډله ټپوسان راګرځېدل.

منډه مې واخیسته، اوږې مې درد وکړ، ور ومې کتل، سره ورغلی ټپ بېرته خلاص شوی و، وینه ترې راوتله.

پورته وختم، له یوې ګټې ونې څو کارغان او ټپوسان والوتل... اه خدایه! زرو په یوه ښاخ پورې راځړېدله. پر سر او اوږو یې کارغان ناست وو.

سړی غلی شو. کېناست، طوطي ته یې وکتل، غریو واخیست، ویې ویل:

زرو یې په خپل ټکري زندۍ کړې وه، سترګې یې نه وې.

اه ! زرو.

(۸)

سړي د طوطي پټو سترګو ته ور پو کړل، په خوند یې وویل:

ـ راځه، نن به په پوځکیو پسې وګرځو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

د باندې ووت، اسمان برگ و، په ونو کې رنګارنګ مرغۍ چونېدې....

غره ته وخوت، په تګ کې یې د ونو بېخونو ته کتل... یو ځای کېناست، یوه توره وړه پوڅکۍ یې په خپلو ګوتو کې وسولوله، ګوتې یې پزې ته ور وړې ، ویې ویل:

_سوړ بوی ترې ځي، پوهېږې! زرو په پوڅکیو ښه پوهېده، ویل یې چې ځینې پوڅکۍ زهري وي.

ولاړ شو، مخکې لاړ، یوې ونې ته کېناست، په خوند یې وویل:

_دې ته وایي پوڅکۍ.

غوټه تکې سپینې پوڅکۍ یې راوشکولې، وچ لرګي یې راټول کړل، سیند ته کښته شو، کېناست، پر لښته پېیلې پوڅکۍ یې اور ته ونیولې. شېبه وروسته یې په ډکه خوله وویل:

_زرو به په غوړو کې اجبې پوڅکۍ پخولې، بس، لاس یې خدایي خوند درلود، له مړښته به وتلی وم.

غلی شو، ویې ویل:

_دا هم ښې دي، خوندنه لري، خو ګېډه مړوي.

په شګو کې اوږد وغځېد، سوړ اسویلی یې وایست، ویې ویل:

_طوطي! ته ووایه! زرو به راته ګوري؟

غلی شو.

یودم یې وخندل:

_ یا به یې نه یم په یاد.

بېرته یې تندی تریو شو:

_نه، پر هغې ګران وم، زما له پاره یې هر څه پرېښودل.

ټوخي واخیست، سا یې بنده شوه، پر اړخ را واوښت، له خولې یې وینو داره وکړه.

یوه شېبه غلی و، بیا یې سوړ اسویلی وایست، ویې ویل:

_ونې ته وختم، د زرو غاړې ته ور لوېدلې غوټه نه خلاصېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زرو

ليکوال: نصيراحمد احمدي

پښه مې وښوېده، د زرو پر جسد ورغلم، لاس مې ښاخ ته ور واچاوه، کړس شو، دواړه لاندې ولوېدو.

سترګې مې رڼې کړې، په غاړه کې مې د زرو سوړ لاس پروت و. کېناستم، د زرو سر مې په خپل ټټر پورې ونيو، چيغه مې کړه، له خولې مې سرې وينې باد شوې.

سړی غلی شو، پر خپله خوله يې لستوڼی تېر کړ، ويې ويل:

_يوه تېره ډبره مې راواخيسته، خو ډېرې خاورې مې په نوکانو وکېندلې، يو ساعت، دوه ساعته، درې ساعته...نه پوهېدم. يو وخت قبر جوړ و. سخته وه. زرو به مې څنګه تورو خاورو ته ورکوله.

سل زړونه مې سره وتړل، د زرو پر نازک بدن مې خاورې واړولې.

جونګړې ته ننوتم، نوکانو ته مې وکتل، خاورې او سرې وينې سره ګډې وې.

ولې ژوندی وم؟ هېڅ ! ټوپک مې خپل زړه ته ونيو، خو لنډ پښيمانه شوم، دليل مې وموند. زه به مړ وم، د زرو قاتل به ژوندی ګرځېده! نه، زړه مې کله منله.

وخت ووت، غزني ته تګ روغ صورت غوښت، خو زما د اوږې ټپ لا نه و ښه شوی.

ورځې تېرې شوې، د باندې نه وتم، لويه توره به مې دا وه چې د خوړو له پاره به مې څه موندل.

درې شواروزه واوره او ورېده، تر ګز لوړه وه، د شپې به د ونو د ښاخونو کړسا خته، د يخنې او درنې واورې تاب يې نه درلود.

لېوان لمنو ته راکښته شول، اجبه وه، دوه ځله مې په خپلو سترګو وليدل، خو نه يې خوړم، په تشو هډوکو به يې څه کول! نه پوهېږم، يا به يې خوا راته بدېده...

په حوت کې مې د اوږې ټپ ښه شو، خو د زړه زخم د جوړېدو نه و.

يو سهار مې ټوپک راواخيست، له جونګړې ووتم، شپه مې يوه کلي ته ورسوله، بل ماښام د نورستان په مرکز کې وم.

سهار مې په هوټل کې ټوپک سره خلاص کړ، د وړو په پلاستيکي بوجۍ کې مې وتاړه.

د ترور کور مې له موټره وليد، د زرو خبرې مې په ذهن کې راوګرځېدې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

ليکوال: نصيراحمد احمدي

" ترور او د ترور ناوې دې په حويلۍ کې جامې مينځلې، ما کوټه جارو کوله، د ترور زوی دې راغی، غبرګ يې رانه وګرځوله، پورې مې واهه، ورته ومې ويل چې له کوټې ووځه، که نه نو چيغې وهم، ګړندي ګامونه يې واخيستل، خو په وره کې يې نوک ونيو، رايادده يې کړه چې دومره ځان پاک پاک مه ښيه، که مرداره نه وای، نو له کامران سره به نه راتښتېدې.

داسې ځای نشته چې هلته انسانان نه وي؟ "

اوږه مې وخوځېده، د څنګ بوډا له تېرو يادونو راوګرځولم، ويې ويل:

ـ کومې جنازې ته ځې؟

په حيرانۍ مې ورته وکتل.

بوډا وويل:

ـله ډېر وخته راهيسې مې درپام دی، له سترګو دې اوښکې څاځي.

څه مې ونه ويل.

ماښام جلال اباد ته ورسېدم، بله غرمه په غزني کې وم.

ټوله لار چا تلاشي نه کړم، زړه مې ډاډه و، دومره پوهېدم چې په ښکاري ټوپک کار نه لري.

د ولسوالي د موټرو په اډه کې مې مول وواهه. ساعت وروسته په بازار کې وم.

له ليرې مې د پلار د نجاري دوکان ته وکتل، بند و.

د څنګ قصاب ته ورغلم، قصاب يوه لوی ورون ته چاړه نيولې وه. پرته له دې چې راته وګوري ويې ويل:

ـ بيا راغلې؟ درته ومې ويل چې په پيسو پسې مازديګر راشه. تر اوسه مې لا پوره سودا نه ده کړې.

غلی وم.

قصاب راته وکتل، ويې خندل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

_اه! وبښه، د بل چا گومان مې دربانديې وکړ. سهار مې یو سخوندر په پور ترې واخیست، ورته ومې ویل چې مازدیگر دې په پیسو پسې...

یودم غلی شو. زما سترگو ته یې په ځیر ځیر وکتل.

مول مې خلاص کړ، قصاب یو گام شاته لاړ، چاړه ترې ولوېده. لاس یې پر دخل ولگاوه.

ومې ویل:

_زه یم، کامران.

د قصاب سترگې رډې راختلې وې، کلیمې یې ویلې....

تر مټ مې ونیو، یوه شېبه یې په ځېر ځېر راته وکتل، وروسته یې یودم غبږ راکړه.

قصاب تر ډېرو ژړل. غاړه مې لنده شوه، اوښکې یې تودې وې.

بیا یودم شاته شو،پر مخ یې کلکه څپېړه راکړه. کېناست، خپل سر یې په غبرگو لاسونو کې ونیو.

ومې ویل:

_پلار مې ولې دوکان ته نه دی راغلی؟

غلی و.

مخامخ ورته کېناستم. پر اوږه مې یې لاس کېښود، ومې ویل:

_پلار مې ښه دی؟

نېغ یې راته وکتل، سترگې یې سرې وې.

یودم ولاړ شو، د دوکان دواړه پلې یې سره وروستې.

دېوال ته ودرېد.

ومې ویل:

_پلار مې...

چیغه یې کړه!

_پلار دې زاړه ترکه شو، ستا له لاسه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

پر سترګو مې تیاره راغله، قصاب غبرګ لاسونه راوغځول. لوېدو ته يې پرېنښودم.
دواړه تر ډېره غلي وو. وروسته قصاب راته وویل چې د حاجي نواب مشر زوی خلکو
ته ویلي و چې د کامران او زرو کیسه نوره ختمه شوه، اوس به يې مړي د نورستان د
ځنګلونو لېوانو خوړلي وي. بس، دا خبره دې تر پلاره راورسېده. نیم ساعت وروسته
د اره شویو تختو پر سر مړ پروت و.
مازدیګر څلور بجې له قصاب سره د هغه کور ته لاړم. کور يې بازار ته نږدې و.
د میلمنو په کوټه کې مې مول خلاص کړ.
ماخستن د قصاب له خبرو پوه شوم چې د زرو مشر تره ته په کور کې ناسته چندان
خوند نه ورکوي، هر سهار په خپله شخصي سره کرولا کې د ولسوالي بازار ته ځي، په
یوه او بل دوکان ناست وي. غرمه سودا واخلي او ډوډۍ کور ته رسوي.
له قصابه مې د پلار د قبر نښه وپوښتله. لنډه يې رایاده کړه چې ستا کشر ورور ته
نږدې پروت دی.
د قصاب له کوره د سهار په خړه کې ووتم. یخني وه، هواره توره ښکارېدله، خو د ناور
وچ او سپیره غر تر لمنې پورې سپین و.
له نیم ساعت مزل وروسته خامې لارې ته نږدې په لغړو ونو کې کېناستم.
هوا توده شوه، یو تونس موټر زانګي وانګي تېر شو. بیا تراکتور راغی، په ټېله کې يې
غټه برګه غوا ولاړه وه. په لکۍ پورې يې د نظر وچ له پاره سرې ټوټې راځړېدې.
وروسته دوه کسان را ښکاره شول، په ملا کړوپ بوډا د یوه واړه ماشوم لاس نیولی و،
ماشوم زورونه وهل، خو بوډا په ځان پسې کشاوه.
رانږدې شول، څلور هډوکي ډنګر ماشوم په یوه زاړه کمیس کې و، مخ او لاسونه يې
تک تور ښکارېدل. بې واره يې ژړل... په ژړا کې به یو وار ودرېد، پښې به يې پر ځمکه
ووهلې، چیغه به يې کړه:
_بابا! نه ځم، حاجي مامد اکا مې په سره کوټه کې یواځې ویدوي، د شپې مې سر ته
سپین پېریان ولاړ وي...

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

ليکوال: نصيراحمد احمدي

بوډا به تر لاس کش کړ، په غوسه به يې وويل:

_وه د کرزي زويه، په پردۍ مزدورۍ کې پاچاهي غواړې، مور او خويندې به دې څه خوري؟ له حاجي مامد سره مې په دوو خروارو غنمو مزدور کړی يې. که بيا راوتښتېدې...

دواړه مې تر مخ تېر شول، د ماشوم ژړا تر ډېره اورېدل کېدله...

سر مې يودم ټيټ کړ، د پوليسو يوه رينجره په تېزۍ تېره شوه، شاته د ناستو دوو عسکرو مازې سترګې مالومېدې، ځانونه يې په خړو کمپلو کې پېچلي وو.

يو نارينه ډډ غبر راغی، ور ومې کتل، په سرې پسې يوه ښځه روانه وه، ښځې په ووږني کې تړلی ماشوم په غېږ کې نيولی و. يو ځای کېناسته، سړی ورته ونه درېد، ښځې په خواره خوله وويل:

_خير دی، نه شم تلای، يو موټر راوغواړه، له لنګونه کې درې ورځې نه دې وتلې....

سړی وبوږېد:

_د سپي لورې، که شپږ وارې غوا هم لنګه شوې وای، يو سخوندر خو به يې پيدا کړی وای، خو تا شپږ سره لوڼې وزېږولې...

دواړه مې تر مخ تېر شول، ښځه زانګې وانګې روانه وه...

ناڅاپه مې زړه ولړزېد، يوه سره کرولا راغله.

د موټر مخې ته مې ځان ور واچاوه، ټوپک مې ورته ونيو.

ښځو او ماشومانو چيغې کړې.

تنکی ځوان له موټره راووت. سترګې يې رډې راختلې وې. په زحمت يې وويل:

_طالبه وروره، دوکاندار يم، زنانه دي، ډاکټر ته يې بيايم.

منډه مې واخيسته، تر نږدې پخڅې واوښتم. لېرې د غونډۍ په لمنه کې پر يوه هواره ډبره کېناستم.

لارې ته مې وکتل، تر نهو بجو څو موټر تېر شول، خو سره کرولا مې پکې ونه ليده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرو

لیکوال: نصیراحمد احمدي

یوولس بجې د خپل کلي په هدیره کې وم. د پلار د قبر پر سر پرته سپینه ریتاړه لا تازه ښکارېدله.

سخته وه، پلار، مور او کوچینی ورور . ټول په یوه کتار پراته ول.

د پلار او مور د قبرونوتر مینځ اوږد وغځېدم، لمر تود و، تر دوو بجو خوب یووړم.

پاتې ورځ مې هم په هدېره کې تېره کړه.

ماښام تیاره کلي ته لاړم. کور ته لوی کولپ ور لوېدلی و. تر دېوال واښتم. د کوټې دروازه خلاصه وه. لاسي بتۍ مې بله کړه، پر فرش او توشکو خاورې پرتې وې.

د پلار بړستن مې پر سر راکش کړه، د پلار د وجود بوی ترې ته. خوږ و.

د ملا تر اذان مخکې مې کلی پرېښود، لړه وه، لمر ختو ته په ګڼو لغړو ونو کې کېناستم.

وار له واره مې سره کرولا ولیده، را نږدې شوه، ژېړ پاچ او ډبل برېتونه مې وپېژندل.

له ونو را ووتم، ټوپک مې ورته ونیو. موټر ودرېد، سړی راکښته شو. وېرېدلی راته ودرېد.

د ټوپک نلۍ مې د سړي مخ ته سیخه کړه، ګوته مې ولړزېده، اه! پر مخ به مې څنګه ویشت؟ سترګې یې زرو ته شوې وې.

ټوپک مې یوه لوېشت ټیټ کړ.

سړي په خواره خوله وویل:

_څه ګناه؟ څه خطاه؟ ته څوک ...

ډز شو، د باروتو سوځېدلی بوی راباندې راغی، سړی پر اړخ ولوېد، د کارتوس غټه چره یې تر زړه ختلې وه.

کېناستم، ومې ژړل، ومې ژړل، ومې ژړل...

روان شوم، هېڅوک نه و.

په بازار کې مې یوه تړلي کانتینر ته ولي ولګول، شاوخوا مې وکتل، د نږدې کلیو د کورونو له دودکشونو تورې لوخړې پورته کېدې، د تودې ډوډۍ بوی راته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر په مخه کړم، سلګونه کیلو متره لرې، د نورستان په ځنګلونو کې ټوله دنیا رانه پاتې وه.
اه! زرو به مې څنګه یوائې پرېښودله....

(۹)

نرم باران اورېده... باد د جونګړې له خلاصې دروازې ټکا ایسته...لاندې، په دره کې د سیند د اوبو شنهاری خوت....
سړي د زرو پر قبر خپله زنه ایښې وه، سترګې یې پټې وې، د پراته مړه طوطي د ټټر په مړو ، لندو بڼکو کې یې ګوتې وهلې... د سړي خوله او خولې ته نږدې، د قبر پر سر واړه ګلان په وینو سره ول....

(پای)

۱۳۹٤ ل کال، د جدي د میاشتې یوولسمه

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**